# فکري وده

**(د دولسم ټولګي لپاره علمي او کاري طرحه)**

**عبیدالرحمن رحیمي**




**د کتاب ځانګړتیاوې:**

د کتاب نوم: **فکري وده**(دوولسم ټولګي لپاره علمي او کاري طرحه)

لیکوال: عبیدالرحمن رحیمي

ډیزاین: عبیدالرحمن رحیمي

د چاپ کال: **۱۳۹۸** هـ.ش

چاپ شمېر: ۱۰۰۰ ټوکه

چاپځای: مطبعه تمدن شرق

کمپوز: احمد خالد محمدي



ددې کتاب د هر ډول چاپ او خپرولو حقوق له لیکوال سره خوندي دي

# ډالۍ

د ګرانې او مهربانه مور معصومې خېرې ته!

## مننليک

له ګران ملګري ښاغلي اسدالله زمري څخه یوه نړۍ مننه، چې د کتاب د چاپ لګښت یې په ورین تندي ومانه. کور یې ودان. ملګري مو پیاوړې او غښتلې اوسه.

مینه او مننه

**سریزه**

له بده مرغه، زمونږ په ګران هېواد افغانستان کې له څو لسیزو را په دېخوا تپل شوی جنګ روان دی، چې امتیازات یې د بل او قرباني یې زمونږ مظلوم ملت جرانوي.

جګړه نه داچې د حل لار نه ده، بلکې د یوه ملت او ټولنې سېستماتیکه تباهي هم ده، چې تېره څلوېښت کلنه جګړه ددغه موضوع روښانه بېلګه ګڼل کېدای شئ. ډېر کله جګړه کیږي نه، بلکې جګړه د افغانستان په څېر په بې وزله هېوادونو او ولس تپل کیږئ او له دې لارې یې شتمن هېوادونه خپلو موخو ته د رسېدو لپاره د ابزار(وسیلې) په بڼه کاروئ، چې دا جګړه بیا د بې وزله هېوادونو لپاره د ډېرې ناخوالو زېږنده اوسئ. دغه ډول جګړې بیا ډېر کله په هغه هېواونو تپل کیږي، چې په ملي او نړیواله کچه د سالم سیاسي مؤثر او ممثر مدیریت په نه شتون د بې اتفاقۍ په خپلمنځي رنځ د روږدي والي تر څنګ په کور دننه په مذهبي، قومي سیاسي... کشمکش او کړکېچ کې ښکېل وي. په افغانستان کې چې له ۴۰ کلو را په دیخوا جګړه روانه ده، ولس مو تر بل هر څه د سولې، امن، سوکالۍ او پرمختګ ډېر لیواله دی او نور له دې جګړییز وضعیت ستړی شوی دی. دغه موخې ته رسېدل به په ګډه د ملي یووالي، او پوره همغږۍ زېږنده وئ او بس.

زمونږ ټولو مسؤولیت او مکلفیت دی، چې خپل راتلونکي نسل ته کار وکړو، تر څو له یوه طرفه مو د دوي په وړاندې خپل حق اداء کړی وي او له بل لوري مو ټولنه او ګران هېواد له راتلوونکي بحران او کړکېچ څخه زغورلای وي.

که تاریخ ته ځیر شو، وبه ګورو چې هغه ټولنې او ملتونه چې په سالمه فکري وده سمبال وو؛ تل د سوکاله، آرام او پرمختللي ژوند څښتنان او شاهدان پاتې شوي. له بل هر وخت زیات زمونږ ګران هېواد ښه خدمت او پرمختګ ته اړتیا لري، چې دغه کار زمونږ ټولو مسؤولیت دی.

ګران هېواد مو په هره برخه کې د پښوا په نسبت زيات پرمختګ کړی دی، همدا مو په هېوادوالو کې د فکري ودې او ملي احساس برکت دی، خو د لا پرمختللې او سوکاله افغانستان د درلودلو لپاره بايد دغه ډول هڅې ګړندۍ شئ.

په دې آساس مې اړينه وګڼله، چې د ګران هېواد د لا پرمختيا، هوساينې، امن او ملي يووالي د ټينګښت لپاره د(فکري وده) په نامه خپله علمي او کاري طرحه د پوهنې د محترم وزارت لپاره؛ د ګرانو زده کوونکو او راتلوونکي نسل لپاره چمتو کړم او په دې برخه کې د الله ج له پېرزوينې منندوی يم، چې په دې برخه کې يې يو ځل بيا بريا را نصيب کړه.

**عبيدالرحمن رحيمي**

# د مطالبو لیک لړ

سریزه......................................................................5
لومړی څپرکی .............................................................11
هېواد ......................................................................11
هېواد پالنه.................................................................11
هېواد پالنه.................................................................12
ملت پالنه ..................................................................13
ملت........................................................................13
د افغانستان ملت...........................................................14
افغانستان؛ خپلواک، واحد او نه بېلېدونکی اسلامي هېواد دی! .................15
بشري حقونه...............................................................18
د بشري حقونو نړیواله اعلامیه ..............................................18
سریزه......................................................................18
۲ـ د بشري حقونو نړیواله اسلامي اعلامیه......................................29
سریزه:.....................................................................29
درېیم څپرکی ...............................................................43
د هېواد آساسي قانون ته کتنه ................................................43
سریزه......................................................................45
څلورم څپرکی...............................................................52
ټولنیز بهیر .................................................................52
په ټولنه کې د ځوانانو مسؤولیت ..............................................54
زده کړه او ور زده کړه ........................................................61

پوهه او هنر ........................................................................................64
زمونږ په ټولنه کې بدبختۍ او غبېز یې ..........................................................64
جګړه او اغېز یې......................................................................................64
جګړه د یوې ټولنې سېستیماتیکه تباهي ..........................................................68
جګړه د حل لار نه ده!.................................................................................70
سوله؛ الهي غوښتنه، نبوي سنت او بشري اړتیا ...................................................73
د عامه پوهاوي نه شتون او اغېز یې ..............................................................75
د قدرت حرص د فساد لامل کیږي .................................................................78
بېکاري ................................................................................................83
فقر او اغېز یې.........................................................................................84
په ټولنه کې د ریښتیني رهبرۍ تشه................................................................87
بشري حقونو ته نه پاملرنه ..........................................................................88
تروریزم او په ټولنه کې یې اغېزې.................................................................90
ټولنیزه بې عدالتي......................................................................................93
بې اتفاقي ...............................................................................................94
پینځم څپرکی .........................................................................................96
چاپېریال ساتنه.........................................................................................96
ککړتیا(Pollution)...................................................................................98
د هوا ککړتیا (Air pollution) ................................................................100
د اوبو ککړتیا(Water pollution):............................................................101
انځوریزه ککړتیا .....................................................................................102
پلاستیکي ککړتیا( Plastic pollution):.......................................................103

نفتي ککړتیا ........................................................................105
د تودوخي ککړتیا(Thermal pollution):......................................106
په چاپېریال کې زهري ککړتیاوې..........................................................107
د درندو فلزاتو ککړتیا ..................................................................107
کورني صنعتي او کرنیزې ککړتیاوې..........................................................108
د افغانستان د ځینو ښارونو د ککړتیا لاملونه او حلارې .......................109
د ککړتیا په وړاندې د مبارزې لارې چارې.............................................109
شپږم څپرکی .......................................................................112
ستر او ملي شخصیتونه.................................................................112
میرویس نیکه.........................................................................112
احمد شاه بابا ابدالي....................................................................115
امیر شېرعلي خان.....................................................................118
شاه امان الله خان.......................................................................121
لنډ ژوند لیک..........................................................................123
د شاه امان الله خان خدمتونه ......................................................124
سردار محمد داود خان..................................................................129
د داود خان کار او خدمتونه..........................................................130
قیام الدین خادم..........................................................................136
محمد موسی شفیق......................................................................138
انجنیر غلام محمد فرهاد .............................................................143
علامه سید جمال الدین افغان........................................................147
اووم څپرکی .........................................................................150

خپلواکي ......................................................................... 150
په هېواد کې د خپلواکۍ ارزښت ................................................ 151
د ملي کلتور او عنعناتو ساتل د هر افغان مسؤولیت دی ...................... 153
مأخذونه........................................................................ 155

# لومړی څپرکی

## هېواد

هېواد او ملت د نړۍ د سیاسي ودانۍ پخې او بنستیزې خښتې دي. له کومه وخته چې انسان ټولنیز فکر کړی او د ټولنې د اداري او سیاسي اډانې لپاره یې کار پیل کړی، لومړی یې د وطن او ملت خښتې جوړې کړي او بیا یې ددې بنسټونو د کلکولو لپاره زیار ګاللی.حبیب الله رفیع، ملي زاویه، ۱۳۹۲ ل.

## هېواد پالنه

مونږ باید په دې وپوهېږو، چې هېواد پر مونږ کوم کوم حقونه لري او د هېواد د پرمختګ او سوکالۍ لپاره څه کول پکار دي، پدې برخه کې زمونږ مسؤولیت او مکلفیت څه دی؟

ملت جوړونه او هېواد پالنه د ځایي خلکو کار او دنده ده. هېڅکله داسې نه دي شوي، چې ګواکې دا کار بهرنیانو کړی وي.

که د بشریت تاریخ ته ځیر شو، څرګندیږي، چې انسانانو لومړی کورنۍ ورپسې قبیله همداسې ملتونه او دولتونه تشکیل کړل.

د ملت جوړونې لپاره یوې جغرافیې(هېواد) ته اړتیا ده، چې د ټاکلو پولو او سرحداتو لروونکی وي. په دغه ټاکلې جغرافیه(هېواد) کې خلک د ګډ تاریخ، کلتور، عنعنات، ژبه، ګډې ګټې او ... لروونکي وي.

زمونږ ګران هېواد افغانستان چې زرګونه کلونه تاریخ لري؛ لا هم ددغه هېواد د ملت جوړونې لپاره کم کار شوی دی او لا هم په قومیت او قبیلویت کې ژوند کوي.

ځان ته تاجک، ازبیک، پښتون، ترکمن او... وایئ، چې د قومیت پالنې معنی لرئ او ځیني بیا ځان مومند، شینواري احمدزي او... وایئ، چې دا بیا د قبیلویت معنی خپلوئ.

ملت جوړونه د ځایي خلکو کار دی او د هېواد پالنې او پیاوړتیا لامل کېدای شي. کله چې په هېواد کې د ملت جوړونې پروسه بشپړه شي او په وګړو کې یې د هېواد پالنې روحیه پیدا شي؛ هغه هېواد د پرمختګ په لور ګام اخیستلو ته چمتو کیږي. پس په دې آساس هېواد پالنه په لاندې ډول تعریفوو:

**هېواد پالنه:** د خپل هېواد د خلکو سره واقعي، ریښتیني، او خلل نه منوونکې مینه د خپل ملت د ملي، مادی او معنوي ګټو ساتل، د سیاسي او اقتصادي خپلواکي ژوندي ساتل، ملی حاکمیت، ارضي تمامیت او له ملي ویاړونو څخه دفاع، همدارنګه د هېواد د کلتوري موازینو ژوندي کول او د ملي هویت او موجودیت څخه ملاتړ هېواد پالنه بلل کیږي.

هېواد پالنه مونږ ته له خپل حق څخه د ګټې اخیستنې او د نورو حقونو ته د درناوي درس راکوئ او په دې توګه د هغه چا په وړاندې چې هېواد او هېوادوالو په حق تېری کوي، د دفاع حق راکوي.

هغه څوک چې وطن ته د خدمت هوډ لري، دا باید خپله ایماني او ملي وجیبه وګڼئ، چې د هېواد د معنوي او مادي ارزښتونو څخه دفاع، د سیاسي او اقتصادي خپلواکۍ ساتل، ارضي تمامیت... څخه دفاع وکړي. ملت پال هغه چاته ویل کیږي، چې د خپل هېواد او هېوادوالو سره ځانګړې مینه ولري او د هغوي د سوکالۍ لپاره کار کړل خپل دیني او ملي مسؤلیت وګڼي.

دا چې مونږ اوس په یوویشتمه پېړۍ کې ژوند کوو، نورو هېوادونو خپل ملت جوړونې ته کار کړی دی، خو مونږ د کلونو ـ کلونو تاریخ په درلودلو سره په هغه کچه کار نه دی شوی، کوم چې باید شوی وای.

خو د یادونې وړ ده، چې اوس هم لا وخت شته چې دغه تشه ډکه کړو او په پوره مینه او اخلاص په دغه برخه کې کار وکړو.

**ملت پالنه**

ملت پالنې یا ملت لرلو او ځان یو مشخص ملت پورې اړوند بللو مفکوره هم لکه د دیموکراسۍ ډېر زاړه سوابق لري، خو د ملیت پالنې په اړه باید ووایو ، چې قوم پالنه نه ده، که ملت د مادي وجود نوم وبولو، نو ملیت یې هغه اوصاف دي، چې د هغې په وجه په خلکو او قومونو کې شریک آساس او همغږي پیدا کیږي او په خپله خوښه د یو او بل په خوا کې ودریږي او ملت ترې جوړیږي. مخکې له دې چې د ملت پالنې په اړه خبرې وکړو، د ملت پېژندنې لپاره به د تعریف ذکر وکړو، چې ملت وپیژنو او د ملت پالنې په اړه له لازمو سپارښتنو څخه یادونه وکړو.

**ملت:** د خلکو هغه پیوستون څخه عبارت دی، چې د تاریخ په اوږدو کې د جغرافیایی، کلتوري او اقتصادي وحدت کې سره یو ځای شوي وي، دغه عناصر د یوه ملت(Nation) غوره تشکیلونکي عوامل ګڼل کیږي.

ژبه، نژاد او دین هم د ملت په جوړښت کې مهم رول لوبوي، مګر حتمي نه ده، چې د یوه ملت ټول خلک دې د یوې ژبې، نژاد او دین لروونکي وي، خو که چېرې په یوه ملت کې یوه ژبه، نژاد او دین وي، نوموړی ملت به په معنوي لحاظ ډېر مستحکم وي.

د ملت پالو دنده ډېره درنه ده، اوس مونږ دې پایلې ته رسېدلي یوو، چې ملت یو مذهبي، تاریخي، جغرافیاوی، کلتوري او اقتصادي وحدت ته ویلای شو.

او د ملت پالنې څخه مو موخه د هغه عواملو د مخنیوي لپاره مبارزه کول دی، چې د اقتصادي نظریاتو په وسیله ملتونه ویشي ، یا یې ټوټې کوي او داسې په غیر محسوسه توګه استعمار ته دوام ورکوي.

ملت له څلورو عناصرو څخه تشکیل شوی دی، چې په لاندې ډول یې یادونه کوو:

1. جغرافیه(د وطن پالنې ګډ احساس):
2. دین یا عقیده.
3. کلتور.
4. اقتصاد

پورته ذکر شوي عناصر هغه څه دي، چې د یوه ملت په تشکیل او یا جوړښت کې رغنده رول لوبوئ.

**د افغانستان ملت:** زمونږ ګران هېواد افغانستان یو له هغو هېوادونو څخه دی، چې ټول مېشت وګړي یې د یوه ملت په توګه په ټاکلو حدودو کې پرته له تبعیضه ژوند کوي، افغانستان خپل هېواد ګڼي او ددې هېواد د سوکالۍ لپاره کار کوي.

افغانان هغه څوک دي، چې په دې پاکه او سپېڅلې خاوره کې ژوند کوي او تل یې ددې خاورې څخه د خپلو وینو او سرونو په بدله کې ساتنه کړې.

افغانان هغه تایخي ملت دی، چې د آسیا په زړه کې یې د څو زره کلن تاریخ په جریان کې خپل موجودیت ساتلی او تکامل یې کړی. ددغه ملت جغرافیایي موقعیت، چې د شرق او غرب تر منځ یې د څلور لارې لقب ګټلی او د کلتورونو د تقاطع او خپرېدو په توګه د آسیایي ملتونو د تهذیب په جوړښت کې یې ستره برخه اخیستې ده.

افغانان هغه څوک دي، چې د خپل ګران هېواد په غېږ کې اوسيږي او د افغانستان تابعيت ولري. د افغانستان ملت د پښتون، تاجک، هزاره، ازبک، ترکمن، بلوچ، پشه يي، نورستاني، ايماق، عرب، قرغيز، قزلباش، ګوجر، براهوي او نورو قومونو څخه جوړ دی.

د افغان کلمه د افغانستان هر فرد ته اطلاق کيږي او د ټولو افغانانو ګډ کور دی. افغان ملت هغه ملت دی، چې د افغانستان د خپلواکۍ، ملي ګټو، مادي او معنوي پانګو څخه د زړه له تله دفاع او ساتنه د دوي دنده ده.

**افغانستان؛ خپلواک، واحد او نه بېلېدونکی اسلامي هېواد دی!**

څرنګه چې د موضوع له سرليک څخه په ډاګه کيږي، چې افغانستان خپلواک، واحد او نه بېلېدونکی هېواد دی، نو رښتيا ده، چې که چېرې د افغانستان تاريخ او په دې خاوره کې د شتون تاريخي سير ته نظر وکړو، نو د زرګونه کلونو راهيسې ـ په دې ټاکلو حدودو کې ژوند کوي او د هېواد خپلواکي او آزادي يې ساتلې ده، تل يې ددې هېواد د آزادۍ لپاره مبارزه کړې او د تيري ځواب يې د خپلو وينو او سرونو په بدل ور کړی دی.

احمد شاه بابا لومړنی پاچا و، چې د شاهي تاج پر ځای يې پګړۍ په سر کوله، کلي والي جامې او موزې به يې اغوستلې او له عادي خلکو سره به په ټغر کېناسته. په ټولو مهمو چارو کې به يې له خلکو سره مشورې کولې او ټول افغانان يې تر يوه رهبرۍ لاندې راټول او يو هېواد يې ورته جوړ کړ.

مونږ د خپل تاريخ په اوږدو کې تجربه کړې، چې هر کله د وخت زبر ځواک په افغانستان د استعمار منګولې ښخې کړي، نو ډېر ژر له ماتې سره مخ شوی او بلاخره له دې خاورې څخه وتلو ته اړ شوی.

افغانستان د تاریخ په اوږدو کې د وخت یرغلګرو له لوري درانه ګوزارونه خوړلي. ددې هېواد تاریخي او ستراتیژیک موقعیت د نړلوالو پام ځان ته را اړولی.

انګرېزانو د سلو کلونو په ترڅ کې په افغانستان درې ځلې یرغل کړی، خو بریا یې په برخه نه شوه. دوی له خپل ټول ځواک او توان سره ونه شوای کولای، چې د افغانستان د خلکو اراده بدله کړي او د خپل مریي په څېر یې تر خپل اسارت لاندې راولي.

انګرېزانو ډېرې هڅې وکړې، چې دا هېواد تجزیه شي، خو له نېکه مرغه افغانانو په مېړانه او ملي یووالي سره د هغوي دغه شومه اراده شنډه او بې پایلې کړه. ځینې هېوادونه لا هم د افغانستان د تجزیې خوبونهویني، خو افغانانو ته دغه ډول توطیې او نظریې له واقعیت څخه لرې برېښي.

همدارنګه افغان ملت که په خپلو کې سره هر ډول ستونزې او مخالفتونه لري، خو د پردیو په وړاندې یې هر وخت په یوه غږ درېدلي او د خپلې خاورې او ملت دفاع یې کړېده.

که مونږ(افغانان) سره متحد شو او په افغانستان ته شریک کور ووایو، نو هېڅکله به هم د ګران هېواد تاریخي غرور مات نه شي او شمله به یې لا هم په نړیوالو ډګرونو کې هسله شي. ددې هېواد پرمختګ، هوساینه، امنیت او سوکالي پر مونږ(افغانانو) پورې اړه لري او تاریخ جوړونه یې زمونږ د ټولو اراده ده.

که مونږ د افغان وژنې جګړه، چې په خپل لاس مو پیل کړې، پای ته ورسوو، په اصل کې د ټولو بدبختیو د پای ټکی مو اېښودلی دی. افغانستان د سیاسونو خاوره ده او هر ډګر په سیاست ګټل کیږي. که مونږ(افغانان) لاسونه سره ورکړو او په ورورولۍ او ریښتیني مینه دې خاورې او خپل ملت ته د خدمت اراده وکړو، لېرې نه ده چې د سوکاله

ژوند ښتنان به شو او له کلونو راهيسې د ټولو بدبختيو تېغر به ټول شي.

**دوهم څپرکی**

**بشري حقونه**




## د بشري حقونو نړیواله اعلامیه

## سریزه:

څرنګه چې د بشري کورنۍ د ټولو غړو د ذاتي کرامت او د دوی د برابرو او نه بېلیدونکو حقونو پيژندل په نړۍ کې د سولې، آزادۍ او عدالت بنسټ جوړوي؛

څرنګه چې د بشري حقونو له پامه غورځول او د هغوی سپکاوی د داسي ناوړه او وحشیانه اعمالو لامل ګرځي، چې د انساني وجدان بې حرمتي ګڼل کیږي او هغې نړۍ ته رسیدنه چې انسانان پکې بې له ویرې او نیستۍ وکړای شي د بیان او عقیدې له آزادۍ ګټه واخلي، د بشر د خورا لوړو آرمانونو په څېر اعلان شویدي؛

څرنګه چې د ظلم او جبر په مقابل کې د وروستۍ وسیلې یعنې بغاوت کولو څخه د انسان د ژغورلو لپاره د بشري حقونو ساتل د قانون حاکمیت پر مټ اړین شمیرل شوي؛

څرنګه چې د ملتونو په منځ کې د دوستانه اړیکو د ودې هڅول او پراخول اړین دي؛

څرنګه چې خلکو او ملګرو ملتونو د همدې سازمان په منشور کې د بشر د بنسټیزو حقونو، د انسان پر کرامت او ارزښت او د ښځې او نارینه د برابرو حقونو په اړه خپل باور بیا تیید کړي او پریکړه یې کړې ده، چې ټولنیزې پراختیا او د ژوند غوره معیارونو ته په پراخه آزادۍ کې وده ورکوي؛

څرنګه چې د ملګرو ملتونو غړو هیوادونو ژمنه کړې ده چې ددې سازمان په همکارۍ به په نړۍ واله کچه، بشري حقونو او بنسټیزو آزادیو ته په درنښت او د هغوی په څارنه کې زیاتوالی راولي؛

څرنګه چې د دې حقونو او آزادیو په وړاندې ګډ پوهاوی او پوهیدل ددې ژمنې د تر سره کولو لپاره د ډیر زیات اهمیت لرونکي دي؛

نو ځکه اوس د ملګرو ملتونو عمومي ټولنې د بشري حقونو دغه نړیواله اعلامیه خلکو او هیوادونو لپاره د بریالیتوب د یو ګډ معیار په توګه له دې هدف سره اعلاموي؛ چې هر فرد او د ټولنې هر غړی په پرله پسې ډول ددې اعلامیې په پام کې نیولو سره باید د ښوونې، روزنې او زده کړې له لارې هڅه وکړي، چې دغه آزادیو او حقونو دې درناوي وده ورکړي او د تدریجي او مترقي اقداماتو په مټ، ملي وي او که نړیوال، د هغې د بشپړ او اغیزناکه پیژندنه او څارنه هم په خپله د غړیو هیوادونو د خلکو او هم د هغو سیمو د خلکو په منځ کې تامین او تضمین کړي، چې د دوی د قانوني صلاحیت په حدودو کې اوسي.

**لومړۍ ماده**

ټول انسانان آزاد پیدا کیږي او یو ډول حقونه، عزت او کرامت لري. انسانان په عقل او وجدان سمبال شوي او باید یو له بل سره د ورور ګلوۍ په روحیه چلند وکړي.

**دوهمه ماده**

هر څوک پرته له دې چې هر ډول توپیر څخه لکه نژاد، رنګ، جنس، ژبه، دین، سیاسي یا بله نظریه، ملي یا اجتماعي منشا ، دارایي ، د زېږېدنې یا بل موقف په نظر کې نیولو سره، د ټولوهغو حقونو مستحق دي، چې په دې اعلامیه کې راغلي دي.

**دریمه ماده**

هر څوک د ژوند آزادۍ او ځاني خونيتوب حق لري.

**څلورمه ماده**

هیڅوک په مریيتوب یا د غلام په حیث نه شي ساتل کیدای، مریيتوب او د غلامانو پيرودل باید په ټولو بڼو کې منعه شي.

**پنځمه ماده**

هیڅوک باید ونه ربړول شي، او نه په ظالمانه او نا انساني توګه سپک شي تو یا سزا وويني.

**شپږمه ماده**

هر څوک حق لري، هر چیرته چې وي، د هغه حقوقي شخصيت د قانون پر وړاندې د یوه انسان په څیر وپیژندل شي.

**اوومه ماده**

ټول خلک د قانون په وړاندې یو برابر دي او ددې حق لري، چې د هر ډول تبعیض نه پرته په برابره توګه د قانوني ملاتړ مستحق وي، دوی حق لري چې د هر هغه تبعیض په وړاندې چې اعلامیه نقضوي اويا د

هغې لمسونې په مقابل کې چې داسې تبعیض ته لمن وهي په برابره توګه وساتل شي.

**آتمه ماده**

که د هر چا په آساسي حقونو، چې د آساسي قانون یا د کوم بل قانون له خوا پیژندل شوي وي، تیری وشي، دی حق لري، چې د صلاحیت لرورنکو ملي محکمو په مټ د تلف شویو حقونو موثره تلافي تر لاسه کړي.

**نهمه ماده**

هیڅوک په خپل سر توقیف، بندي یا تبعید کیدای نه شي.

**لسمه ماده**

هر څوک په مساویانه ډول حق لري، چې دعوه یې د یوې بې پلوه او خپلواکې محکمې لخوا په ښکاره او منصفانه توګه تر غور لاندې ونیول شي او دغه شان محکمه به دده په حقونو او وجایبو او هغه الزام په باره کې پریکړه کوي، چې په ده لګول شوی وي.

**یوولسمه ماده**

یو)

الف: په جرم هر تورن شوی فرد حق لري تر هغې بې ګناه و ګڼل شي، چې جرم یې په داسې یوه محاکمه کې ثابت شوی نه وي، چې تورن پکې د خپل دفاع لپاره ټول اړین او رسمي تضمینونه ونه لري.

دوه)

ب: هیڅوک دداسې اعمالو تر سره کولو یا نه کولو په وجه محکوم کیدای نه شي، چې د اجرا کیدلو په وخت کې د ملي یا نړیوال قانون له مخې جرم نه شمیرل کیده، دغه راز هیڅوک د یوه جرم د کولو له امله ، له هغه سخته سزا نه ویني، چې د جرم د اجرا کیدو په وخت کې د هغه جرم لپاره تعیین شوی وي.

**دولسمه ماده**

هیڅوک د چا په محرمیت، کورنۍ، کور یا لیکونو کې د خپلسرې مداخلې حق نه لري او نه یې پر نوم او حیثیت تعرض کیدای شي.

هر څوک ددې ډول حملو یا مداخلې په مقابل کې د قانوني ملاتړ حق لري.

**دیارلسمه ماده**

یو)

الف: هر څوک حق لري چې، د هر هیواد په دننه کې آزادانه تګ او راتګ وکړي او د استوګنې ځای انتخاب کړي.

دوه)

ب: هر څوک حق لري، چې د خپل هیواد په ګډون هر هیواد پریږدي او یا خپل هیواد ته راستون شي.

**څوارلسمه ماده**

یو)

الف: هر څوک حق لري، چې د ځورونې او تعقیب په وړاندې په نورو هیوادونو کې د پناه په لټه کې شي او په نورو هیوادونو کې پناه واخلي.

دوه)

ب: له دغه حق څخه په هغه وخت کې ګټه نه شي اخیستل کیدای، که چیرې تعقیب د غیر سیاسي جرم او یا د داسي اعمالو د تر سره کولو له امله وي چې د ملګرو ملتونو له موخو اواصولو سره توپیر ولري.

**پنځلسمه ماده**

یو)

الف: هر څوک د تابعیت حق لري.

دوه)

ب: هیڅوک باید له خپل تابیعت څخه محروم نه شي او نه یې باید دا حق باطل شي، چې خپل تابیعت ته تغییر ورکړي.

**شپاړسمه ماده**

یو)

الف: ټول بالغ نارینه او ښځینه له هیڅ ډول محدودیت پرته لکه نژاد، ملیت، تابعیت یا مذهب څخه حق لري چې واده وکړي او کورنۍ تشکیل کړي.دوی د واده کولو پر وخت او د هغه په فسخ کولو کې یو ډول حقونه لري.

دوه)

ب: واده یوازې په هغه وخت کې کیدای شي چې، ښځه او میړه دواړه خپله بشپړه خوښه او رضا څرګنده کړي.

درې )

ج: کورنۍ د ټولنې طبعي او بنسټییز واحد دی او حق لري، چې د دولت او ټولنې له خوا یې ملاتړ وشي.

**اولسمه ماده**

الف: هر څوک په ځانګړي اویا ډله ییزه توګه د مالکیت حق لري.

ب: هیڅوک باید په خپلسري ډول د مالکیت له حق څخه بې برخې نه شي.

**اتلسمه ماده**

هر څوک د فکر، وجدان او مذهب د آزادۍ حق لري. په دې حق کې هغه آزادي شامله ده، چې خپل مذهب یا عقیدې ته تغییر ورکړي او دغه راز هغه آزادي، چې یوازې یا له نورو سره په ګډه، په ښکاره یا خصوصي ډول خپله عقیده یا مذهب په زړه، عمل، عبادت کولو او د دیني مراسمو په اجرا کولو کې څرګند کړي، هم شاملیږي.

**نولسمه ماده**

هر څوک د بیان او نظر د آزادۍ حق لري په دې حق کې هغه آزادي هم شامله ده، چې بې له ویرې څخه مفکورې او نظر یې ولري او په هره وسیله، پرته له دې چې سرحدونه په پام کې ونیسي، عقاید او معلومات وپلټي، تر لاسه او خپاره یې کړي.

**شلمه ماده**

یو) الف: هر څوک حق لري، چې په آزاد ډول سوله ییزې اتحادیې او ډلې جوړې کړي.

دوه)ب: هیڅوک باید په دې مجبوره نه شي، چې په  کومې ډلې پورې وتړل شي.

**یووشتمه ماده**

یو)الف: هر څوک حق لري، چې په مستقیمه یا په آزاد ډول د ټاکل شویو استازو په مټ د خپل هیواد په حکومتي چارو کې برخه واخلي.

دوه )

ب: هر څوک حق لري، چې په براره توګه په خپل ملک کې له عامه خدمتونو څخه ګټه واخلي.

درې)

ج: د خلکو اراده باید د حکومت د واک بنیاد جوړ کړي، دغه اراده باید په نوبتي ډول په ریښتینو انتخاباتو کې څرګنده شي.انتخابات باید د رایې ورکولو د عمومي او برابر حق له مخې وشي اوباید چې د پټې رایې ورکولو او یا د رایې ورکولو د برابرۍ او آزادۍ طریقې سره سم تر سره شي.

**دوه ویشتمه ماده**

هر څوک د ټولنې د یوه غړي په توګه حق لري، چې ټولنیز امنیت ولري، او د ملي هڅو او نړیوالې همکارۍ له لارې د هر دولت د سازمان او منابعو سره سم هغه اقتصادي، ټولنیز او کلتوري حقونه تر لاسه کړي، چې دده د حیثیت او شخصیت د آزادۍ ودې لپاره اړین وي.

**درویشتمه ماده**

یو) الف: هر څوک حق لري، چې کار وکړي، په آزاد ډول د ځان لپاره کار انتخاب کړي، د کار مناسب او عادلانه شرایط ولري او د وزګارتیا په وړاندې یې ملاتړ او ساتنه وشي.

دوه) ب: هر څوک بې له کوم تبعیض پرته حق لري، چې د برابر کار په مقابل کې برابره اجوره واخلي.

درې) ج: هر څوک چې کار کوي، د مناسب معاش حق لري، چې دده او دده د کورنۍ لپاره د بشري کرامت وړ ژوند تضمینوي او که ضروري وي حق لري، چې د نورو ټولنیزو محافظتي وسایلو پر مټ پیاوړي شي.

څلور) د: هر څوک حق لري، چې د خپلو ګټو د ساتلو په غرض صنفي اتحادیې جوړې کړي او له هغو سره یو ځای شي.

**څلورویشتمه ماده**

هر څوک د کار د ساعتونو د مناسب محدودیت او د با معاشه نوبتي رخصتیو په شمول حق لري، چې استراحت او تفریح وکړي.

**پنځه ویشتمه ماده**

یو) الف: هر څوک حق لري، چې د ځان او د کورنۍ د ژوند کچه د سلامتیا او سوکالۍ، خوړو، کور، روغتیایي څارنو او ټولنیزو اړینو خدمتونو له پلوه تامین کړي او همدارنګه حق لري، چې د وزګارتیا، ناروغۍ، معلولیت، کونډیتوب، زړښت او په ټولو هغه مواردو چې د انسان له ارادې بهر دي، د ژوند معیشت تامین نه شي کړای ، باید د پټمن ژوند له شرایطو برخمن شي.

دوه ) ب: میندې او ماشومان د ځانګړې پاملرنې او مرستې مستحق دي. ټول ماشومان که د نکاح په واسطه او یا بې نکاح پیدا شوي وي د مساوي ټولنیز خوندیتوب حق لري.

**شپږویشتمه ماده**

یو) الف: هر څوک د ښوونې، روزنې حق لري، ښوونه، روزنه باید لږ تر لږه په لومړنیو او آساسي زده کړو کې وړیا وي. لومړنۍ زده کړې باید اجباري وي، تخنیکي او مسلکي زده کړې باید عمومیت ومومي او لوړې زده کړې باید د ټولو پر مخ د استعداد او لیاقت پر آساس خلاصې وي.

دوه) ب: ښوونه او روزنه باید د انساني شخصیت او بشپړې ودې او بشري حقونو او اساسي آزادیو ته د احترام د زیاتوالي په اوري سوق شي. ښوونه ، روزنه باید د ټولو ملتونو، نژادونو او دیني ډلو په منځ کې تفاهم، زغم او دوستي پیاوړې کړي او د ملګرو ملتونو هڅې د سولې د ساتنې او پیاوړتیا لپاره غښتلې کړي.

ج: میندې او پلرونه د لومړي توب حق لري. چې د ښوونې، روزنې هغه ډول انتخاب کړي، چې د دوي ماشومانو ته باید ورکړل شي.

**اووه ویشتمه ماده**

یو )الف : هر څوک حق لري په آزاده توکه د خپلې ټولنې په کلتوري فعالیتونو کې برخه واخلي.له هنرونو څخه ګټه پورته کړي او په علمي پرمختګ کې شریک او له ګټو څخه یې برخمن شي.

دوه )ب: هر څوک د خپلو هغو معنوي او مادي ګټو د ملاتړ حق لري، چې دده په مټ له هرې علمي، فرهنګي او یا هنري تخلیق څخه رامنځته شوی وي.

**اته ویشتمه ماده**

هر څوک حق لري په داسې یو ټولنیز او نړیوال نظم کې ژوند وکړي، چې په دې اعلامیه کې بیان شوي او حقونه او آزادۍ یې په بشپړ ډول عملي شي.

**نه ویشتمه ماده**

یو) الف: هر څوک د هغې ټولنې په وړاندې دندې او مکلفیتونه لري، چې د هغه د آزادې ودې او بشپړ شخصیت زمینه ورته چمتو کوي.

دوه)ب: هر څوک باید د خپلو حقونو او آزادیو په عملي کولو کې یوائې د هغو محدودیتونو تابع وي، چې د قانون په بنسټ ددې لپاره تعین شوي وي، چې د نورو آزادیو او حقونو ته په مناسب ډول احترام وشي او وپيژندل شي او په یوه دیموکراتیکه ټولنه کې د اخلاقي موازینو د مقتضیاتو، عامه نظم او هوساینې مراعات وشي.

درې )ج: دغه حقونه او آزادۍ باید په هیڅ صورت د ملګرو ملتونو د اصولو او موضوعاتو پر خلاف عملي نه شي.

**دیرشمه ماده**

پدې اعلامیه کې هیڅ یوه فقره یا ماده باید داسې تعبیر نه شي، چې کوم دولت، ډلې یا شخص ته ددې حق ورکړي چې په داسې فعالیت لاس پورې کړي یا داسې کار اجرا کړي چې هدف یې، په دې اعلامیه کې د ذکر شویو حقونو او آزادیو له منځه وړل وي.

## ۲- د بشري حقونو نړیواله اسلامي اعلامیه

**سریزه:**

د بشري حقونو نړیواله اسلامي اعلامیه په قاهره کې د اسلامي کنفرانس د تنظیم له خوا بیسته شوې.

په دې اعلامیه کې د اسلامي کنفرانس د ټولنې غړي دولتونه پر الله (ج) باندې په ایمان درلودلو سره د نړیوالو پروردګار او د کایناتو د پیدا کوونکي او د نعمتونو ښوونکي ، هغه خدای(ج) چې انسان یې په غوره بڼه پیدا کړی او هغه ته یې حیثیت ورکړی دی او هغه یې د ځمکې پر مخ خپل خلیفه ګرځولی، هغه خدای(ج) چې د ځمکې ودانول او اصلاح یې د بشر پر غاړه اچولې او د الهی تکالیفو امانت یې د هغه پر اوږه اچولی، هغه څه چې په آسمانونو او ځمکه کې دي د هغه په واک کې یې ورکړي دي او د حضرت محمد(ص) د رسالت په تصدیق سره چې خدای پاک هغه به یوه ریښتیني دین سره د هدایت لپاره رالیږلی او هغه یې د نړیوالو لپاره رحمت، د غلامانو آزادوونکی د طاغوتیانو او مستکبرانو ماتوونکی ګرځولی دی.

هغه پیغمبر(ص) چې د ټول بشریت تر منځ یې برابري اعلام کړه او له تقوا پرته د هیچا په بل چا باندې په اومړیتوب قائل نه دي او د خلکو تر منځ یې واټنونه او کرکې له منځه یوړې او هغه انسان چې له یوه واحد روح څخه یې پیدا کړی دی او د بې مثاله توحید له په پام کې نیولو سره چې د اسلام جوړښت د هغه په ستنه باندې درول شوی دی، هغه عقیده چې بشریت یې دې ته راوباله چې پرته له خدای(ج) نه د بل چا عبادت ونه کړي او له خدای پاک سره شریک پیدا نه کړي او د الله (ج) پر ځای هیڅوک د خدای پاک په نامه ونه منئ، هغه عقیده چې د بشریت د واقعي آزادئ او د هغه د حیثیت یې ابینی او د غلامئ څخه یې د انسان خلاصون اعلام کړی دی او د هغه څه د تحقیق لپاره چې په اسلامي شریعت کې راغلي دي د هغه له جملې څخه د دین، ځان، پوهې،

ناموس، مال، نسل او نورو امتیازاتو لکه په ټولو دریځونو او احکامو کې منځلاري او عادل ساتل.

دغه شریعت معنویات او ماده سره یو ځای کړل، عقل او زړه یې سره ونښلول، د حقوقو او وجایبو تر منځ یې موازنه منځ ته راوړه او د فرد حرمت او عمومي مصلحت تر منځ یې تلفیقات رامنځ ته کړل او د اړوندو اړخونو تر منځ یې د قسط معیارونه ټینګ کړل تر څو چې نه طغیاني وي او نه زیاني او په بشري هلو ځلو کې د خپلې ونډې د تر سره کولو په غرض چې د بشر په حقونو پورې اړه لري، هغه حقونو چې هدف یې د ګټې اخیستنې او ظلم په وړاندې د یو بل ملاتړ دي او د هغه په هغه شرافتمندانه ژوند کې پر آزادۍ او حقونو تأکید چې له اسلامي شریعت سره همغږي دي پر دې باندې په باور سره هغه بشر چې په مادي علم کې ډیرو لوړو درجو ته رسیدلی دی، په پرلپسې توګه او په هر وخت کې د خپل تمدن د ساتلو په غرض یوې ایماني تکیې او له خپلو حقونو څخه د ملاتړ عامل ته ضرورت لري، سره یو لاس شي او پر دې باندې په باور سره په اسلام کې آساسي حقونه او عمومي آزادۍ د مسلمانانو د دین یو جز دی، نو هیڅوک په اصولي توګه د الهی احکامو د کلي یا جزئی متوقف کولو، تر پښو لاندې کولو او سترګو پټولو حق نه لري.

هغه څه چې خدای(ج) خپلو کتابونو کې نازل کړي او خاتم النبین یې رالیږلی او د هغه په واسطه یې رسالت پای ته رسولی دی نو د هغو مراعاتول عبادت دی او په هغو کې سستي کول او یا له هغو څخه تجاوز کول منکرات دي.

هر انسان په یوازې توګه د هغو د ساتلو او اجرأ کولو مسؤلیت لري او امت په همغږه توګه په ګډ تضمین کې د هغه په وړاندې مسؤل دی، له دې امله د اسلامي کنفرانس د ټولنې غړي په دې آساس د بشر اسلامي حقونه په (۲۵) مادو کې اعلاموي.

**لومړۍ ماده**

۱ـ بشر په ټولیزه توګه یوه کورنۍ ده، چې د خدای(ج) په وړاندې بنده ګي او د حضرت آدم (ع) د زویتوب نسبت دوی سره یو ځای کړي او ټول خلک د انساني شرافت په اصل او د نژاد، ژبې، جنس، دیني اعتقاد، سیاسي تړون او ټولنیز حالت له هر ډول توپیر او مسؤلیت پرته یو برابر دي.

۲ـ د پاک خدای(ج) ټول مخلوقات د یوې کورنۍ حیثیت لري او د خدای(ج) په وړاندې د دوي ډیر محبوب خپلو هم نوعانو ته ډیره ګټه رسوونکی دی او هیڅوک پر نورو لوړتیا نه لري، خو په تقوا او ښو کارونو کې.

**دوهمه ماده**

۱ـ ژوند د خدای(ج) نعمت دی او د ژوند کولو حق تضمین شوی دی، په تولو افرادو او حکومتونو واجب دي چې ددغه حق ننګه وکړي.د هر ډول تیري په وړاندې د ودریږي او له شرعي جواز پرته د هیچا وژل جواز نه لري.

۲ـ له هغه وسیلې څخه استفاده کول منعه دي، چې په کلي یا جزئي توګه د بشریت د سرچینې په له منځه وړلو تمامه شي.

۳ـ د بشریت د ژوند د دوام ساتنه تر هغه ځایه چې پاک خدای(ج) فرمایلي دي شرعي دنده ده.

۴ـ د انسان د جنازې حرمت باید وساتل شي او هغه ته بې احترامي جواز نه لري او همدارنګه د هغه لمس جایز نه دی، خو شرعي مجوز ته، دولت د هغه د ملاتړ مسؤلیت لري.

**دریمه ماده**

۱ـ د زور یا وسله والو لانجو د کارولو په صورت کې باید هغه څوک ونه وژل شي چې په هغه کې برخه نه لري لکه بوډاګان، ښځې او ماشومان، هر زهمي او ناروغ د درملنې حق او اسیران د خوراک، پوښاک او ټاټوبي حق لري او د وژل شوو مثله کول منع دي ، باید اسیران تبادله او د کورنۍ غړو ته یې د لیدو کتو اجازه ورکړل شي.

۲ـ د دښمنۍ له امله د ونو غوڅول، د کروندو او باغونو له منځه وړل، د دولتي ودانیو او موسسو ړنګول جواز نه لري.

**څلورمه ماده**

هر انسان حرمت لري او کولای شي په ژوند او یا تر مرګ وروسته خپل شهرت وساتي، دولت او ټولنه وظیفه لري چې د هغه مړی او مړستون وساتي.

**پنځمه ماده**

۱ـ کورنۍ د ټولنې د جوړښت بنسټ دی او واده کول د هغه د ایجاد آساس دی، نو نارینه او ښځې د واده حق لري او هیڅ هغه قید او بندیز چې د نژاد، رنګ یا قیمومیت پر بنسټ وي نه شي کولای ددې حق مخه ونیسي.

۲ـ ټولنه او دولت وظیفه لري د واده په مخ کې پراته خنډونه له منځه یوسي، لارې یې آسانه کړي او د کورنۍ ملاتړ وکړي.

**شپږمه ماده**

۱ـ په انساني حيثيت کې ښځه او نارينه سره يو برابر دي، ښځې چې ځومره دندې لري حقونه هم لري او مدني شخصيت، مستقله مالي ذمه او د خپل نامه او نسب د ساتلو حق لري.

۲ـ د نفقې تأمين او د هغو د ساتلو مسووليت د نارينه له دندو څخه دي.

**اوومه ماده**

۱ـ د ماشومانو د وړکتوب د وخت ساتنه، ښوونه او درملنه د مور، پلار او دولت په غاړه دي او ددې په ترڅ کې بايد د جنين او مور ساتنه وشي او د هغوي د ځانګړې څارنې په نسبت بايد هلې ځلې وشي.

۲ـ پلرونه او هغه څوک، چې د شريعت له نظره د پلار مقام لري، د هغوی د ګټو او راتلوونکي په پام کې نيولو سره د روزنې د ډول د انتخاب حق د اخلاقي ارزښتونو او شرعي احکامو په رڼا کې په غاړه لري.

**آتمه ماده**

هر انسان د الزام له پلوه يو شرعي شخصيت لري او که چيرې دغه شخصيت له منځه ولاړ يا تر ګواښ لاندې راغی، قيمتونه يې ځای نيسي.

**نهمه ماده**

۱ـ د علم طلب يوه فريظه ده او تعليم په ټولنه او دولت يو واجب امر دی، پر دولت لازمه ده چې لارې چارې او وسايل يې برابر کړي او د هغه متنوع والی هغه شان چې د ټولنې مصلحت دی تر سره او تأمين

کړي او انسان ته وخت ورکړي چې د اسلام د دین او د هستۍ د حقایقو په اړه پوهه تر لاسه کړي او هغه د بشریت په ښیګڼه وکاروي.

۲ـ دا د هر انسان حق دی، چې له کورنۍ، مدرسې او پوهنتون نه نیولې تر تبلیغاتي دستګاوو او نورو پورې بیلا بیلې روزنیزې او څیړنیزې موسسې چې د انسان د دنیوي او دیني زده کړو په غرض کوښښ کوي، دهغه د بشپړې او متوازنې روزنې لپاره هلې ځلې وکړي او شخصیت یې وروزي، داسې چې پر خدای(ج) باندې یې ایمان او د هغه حقونو او وظایفو ته یې احترام برابر شي.

**لسمه ماده**

اسلام د فطرت دین دی او د انسان د هر ډول اکراه کارول یا پر بل دین یا ایجاد باندې د دغه دین د بدلولو په غرض د انسان له فقر یا ناپوهۍ څخه ګټه اخیستل جواز نه لري.

**یوولسمه ماده**

۱ـ انسان آزاد پیدا کیږي او پرته له خدای(ج) نه هیڅوک حق نه لري، چې هغه غلام او ذلیل کړي او یا یې وځپي یا له هغه څخه ناسمه ګټه واخلي.

۲ـ ښکیلاک د هغه له بیلابیلو ډولونو سره او په دې باور چې د مرییتوب ډیر ناوړه ډول دی په کلکه تحریمیږي او هغه ملتونه چې له هغه څخه کړیږي حق لري له هغه څخه خلاصون ومومي او خپل برخلیک په خپله وټاکي.ټول دولتونه او هیوادونه هم دنده لري له دغې ډلې سره د هر ډول ښکیلاک او اشغال د له منځه وړلو پر خلاف په مبارزو کې مرسته وکړي. ټول ملتونه هم د مستقل شخصیت د ساتلو او پر خپلو طبیعي منابعو او شتمنیو باندې د واکمنۍ حق لري.

**دولسمه ماده**

هر انسان له شریعت سره مطابق په خپل هیواد او یا له خپل هیواد څخه بهر د استوګنې لپاره د ټاټوبي د انتقال او انتخاب حق لري او په هغه صورت کې، چې د ظلم تر فشار لاندې راځي کوم بل هیواد ته کډه کولای شي. پر هغه هیواد چې کډوال ورځي، واجب ده چې له هغوی سره ښه چلند وکړي تر څو چې پناه ورکول ورته برابر شي، په دې شرط چې د شرعې مطابق د جرم د کولو له امله کډوالۍ ته نوي اړ شوي.

**دیارلسمه ماده**

کار هغه حق دی، چې دولت او ټولنه یې د هر هغه چا لپاره تضمین کړي، چې د هغه د سرته رسولو توان لري او هر انسان د وړ کار د انتخاب آزادي لري. داسې چې هم دده مصلحت او هم د ټولنې مصلحت تر سره شي، هر کارګر حق لري له امنیت، سلامت او نورو ټولنیزو تأميناتو څخه برخمن وي او هغه باید داسې کار ته اړ نه شي چې د کولو توان یې نه لري، او په زور کار ته باید اړ نه کړای شي او له هغه څخه ګټه وانه خیستل شي. هغه ته باید زیان ونه رسول شي، له توپیر پرته هر ښځینه او نارینه کارګر حق لري د هغه کار په مقابل کې عادلانه مزدوري تر لاسه کړي، چې سرته یې رسوي او له رخصتیو، بدلون، استحقاقي ترفیعاتو څخه د استفادې حق لري او په عین وخت کې وظیفه لري چې په خپل کار کې صادق او ریښتینی وي. که چیرې کارګرانو له ګومارونکو سره اختلاف پیدا کړ دولت وظیفه لري ددغه اختلاف د حل، د ظلم د له منځه وړلو او د حق د اعادې او په عدل باندې د پابندۍ لپاره پرته له دې چې د کوم لوري په ګټه فیصله وکړي.

**څوارلسمه ماده**

انسان حق لري له احتکار، فریب یا ځان او نورو ته له زیان رسولو پرته مشروع کار وکړي، او سود خوړل په کلکه منعه دی.

**پنځه لسمه ماده**

۱- هر انسان له شرعي لارو څخه د مالک کیدلو حق لري او کولای شي د مالکیت له حق څخه په هغه ډول برخمن شي چې خپل ځان یا نورو او ټولنې ته زیان ونه رسوي، نه شو کولای له چا څخه مالکیت واخلو، که د عمومي ګټو د ساتلو ضرورت وي، نو بیا باید په مقابل کې فوري او عادلانه غرامت ورکړل شي.

۲- د مالونو مصادره او د هغو ضبطول منع دي، خو له شرعي احکامو سره سم.

**شپاړسمه ماده**

هر انسان حق لري د خپلو عملي، ادبي، هنري یا تکنالوژیکي بریاوو څخه ګټه تر لاسه کړي او حق لري د تر لاسه شوو ادبي او مالي ګټو ساتنه وکړي، په دې شرط چې هغه بریا (اثر) د شریعت د احکامو مخالف نه وي.

**اوولسمه ماده**

۱- هر انسان حق لري په داسې چاپیریال کې ژوند وکړي، چې له مفاسدو او اخلاقي ناروغیو څخه پاک وي داسې چې وکړای شي خپل ځان له معنوي پلوه داده کړي، ټولنه او دولت وظیفه لري، چې دغه حق ورته برابر کړي.

۲ـ دولت او ټولنه وظیفه لري د موجودو امکاناتو پر بنسټ د ضرورت وړ عمومي مرکزونو د ایجاد له لارې د هر انسان لپاره روغتیايي او ټولنیز خدمتونه تأمین او برابر کړي.

۳ـ دولت مکلف دی د هر انسان په شرفتمندانه ژوند کې چې وکړای شي د هغه له لارې خپل او د خپلې کورنۍ اړتیاوې پوره کړي لکه خوراک، ټاټوبی، معارف، درملنه او نور آساسي ضرورتونه تضمین کړي.

**اتلسمه ماده**

۱ـ هر انسان حق لري، چې د خپل ځان، دین، کورنۍ، ناموس او مال په اړه په آرامۍ ژوند وکړي.

۲ـ هر انسان حق لري، چې د خپل ځانګړي ژوند ( په ټاټوبي، کورنۍ، مال او اړیکو ) کې آزادي ولري او د هغه د حیثیت د ټیټولو لپاره د هغه په وړاندې جاسوسي او څارنه جواز نه لري او باید په دې برخو کې د هر ډول زورورو د لاسوهنې په وړاندې د هغه ملاتړ وشي.

۳ـ ټاټوبی په هر حالت کې حرمت لري او باید د هغه د اوسیدونکو له اجازې پرته په غیر مشروع ډول ورداخل نه شو او هم هغه باید ویجاړ او مصادره نه شي او اوسیدونکي یې ترینه ونه شړل شي.

**نوولسمه ماده**

۱ـ خلک د شرعې په وړاندې یو برابر دي، پدې کار کې حاکم او محکوم هم له یو بل سره برابر دي.

۲ـ محکمې ته مراجعه او پناه وړل هغه حق دی، چې د ټولو لپاره تضمین شوی دی.

۳ـ مسوؤلیت په اصل کې شخصي دی.

۴- هیڅ جرم او یا مجازات د شریعت له احکامو پرته نشته.

۵- تورن تر هغه وخته بې ګناه بلل کیږي، چې محکومیت یې د عادلانه محاکمې په وسیله نه وي تثبیت شوی.

**شلمه ماده**

له شرعي غوښتنې پرته د هر انسان نیول، د هغه د آزادۍ محدودول یا تبعیدول یا مجازات جواز نه لري او باید هغه ته بدني یا روحي ربړونه ورنه کړل شي. او د انساني حیثیت پر خلاف ورسره سپکاوي او سخت چلند باید ونه شي.همدارنګه په زور د روغتیایي یا علمي آزمایښتونو لپاره اجبار پر هر فرد باندې جواز نه لري، خو که هغه رضایت ولري او په دې شرط، چې د هغه سلامتي او ژوند په خطر کې ونه لویږي. همدارنګه د هغو استثنایي قوانینو تدوین چې اجرایه قوې ته دغه شان اجازه ورکړې هم جواز نه لري.

**یوویشتمه ماده**

یرغمل نیول په هره بڼه او د هر هدف لپاره چې وي منعه دي.

**دوه ویشتمه ماده**

۱- هر انسان حق لري خپل نظر په هره بڼه چې له شرعي اصولو سره مخالف نه وي، په آزاده توګه بیان کړي.

۲- هر انسان حق لري د اسلامي شریعت د ضوابطو پر بنسټ د خیر او له منکر څخه د منعې لپاره دعوت وکړي.

۳- تبلیغات د ټولنې لپاره یو حیاتي ضرورت دی، له هغه څخه ناوړه استفاده او ناوړه استعمال یې او د انبیاوو په کرامت او مقدساتو باندې حمله او یا د هغه څه کارول چې په ارزښتونو کې د اخلال سبب شي یاد

ټولنې تر منځ ګډوډي یا اعتقاد ته د زیان رسولو یا سره د پاشلو سبب شي، منع دي.

۴ـ د قومي یا مذهبي احساساتو را پارول او یا هر هغه څه، چې د هر ډول توکمیز توپیر د راپارولو سبب شي جواز نه لري.

**درویشتمه ماده**

۱ـ ولایت هغه امانت دی، چې استبداد یا له هغه څخه ناوړه استفاده په غوڅه توګه منع دي ځکه چې آساسي حقونه له دې لارې تضمینیږي.

۲ـ هر انسان حق لري د خپل هیواد د عمومي چارو په اداره کې په مستقیمه یا غیر مستقیمه توګه ګډون وکړي.همدارنګه هغه کولای شي د شرعت د احکامو مطابق عمومي څوکۍ تر لاسه کړي.

**څلورویشتمه ماده**

په دې سند کې ټول حقوق او آزادۍ د اسلامي شریعت له احکامو سره د مطابقت شرط لري.

**پنځه ویشتمه ماده**

اسلامي شریعت ددې اعلامیې د هرې مادې د بدلون یا توضیح لپاره یوازینۍ مرجع ده.

بشري حقونه په ملي او نړیواله کچه یو لړ ځانګړتیاوې لري، چې په لاندې ډول ترې یادونه کوو:

**ـ بشري حقوق د اجراء ضمانت لري:**

بشري حقوق او آزادئ باید په عمل کې تطبیق او اجراء شئ. په همدې آساس یو لړ تدابیر باید په نظر کې ونیول شئ. بناً د بشري حقوقو د اجراء ضمانت په ملي او بین المللي کچه هغه لازمي او ضروري اقدامات دي، چې د بشري حقوقو د اجراء او عملي کولو لپاره په لاره اچول کیږي.

ددغه حقوقو په برخه کې د اجراء ضمانت په دوه ډوله صورت نیسي، چې په ملي او بین المللي سطحه اجراء کیږئ. د بشري حقوقو د اجراء ضمانت په ملي کچه بیا په درې ډوله د اجراء وړ دي، چې د حقوقي ضمانت، ټولنییز یا مادي ضمانت او له سیاسي ضمانت څخه عبارت دي.

**ـ بشري حقوق یو له بل سره تړلي دي:**

بشري حقوق یو له بل سره تړلي، لازم او ملزوم دي او په کلي ډول دغه حقوق یو بشپړ چوکاټ حسابیږي او له دغه حقوقو څخه د یوه کمپډل انساني ژوند نیمګړی کوي. د مثال په توګه که له یوه انسان څخه د زده کړې حق سلب شي، نو دا یې په نورو حقوقو مستقیم اغیز درلودلای شي او له رکود سره یې مخامخ کوي.

**ـ بشري حقوق د ټولو لپاره مساوي دي:**

دغه اصل د انساني کرامت او حیثیت څخه نشأت کوي، په دې معنی چې ټول انسانان د بشري حقوقو او آزادیو څخه په ګټه اخیستنه کې سره برابر او مساوي دي، ژبه، نژاد، جنس، قوم، ملیت، شتمني، منصب، سیاسي یا دیني رتبه، دین، مذهب او نورې طبیعي او ټولنییزې پدیدې نه شي کولای، چې د یو انسان برتري په بل انسان باندې ثابته کړي، بلکې

ټول د قانون په وړاندې مساوي دي او قانون د ټولو د حقوقو او آزادیو څخه په یو ډول حمایت کوي.

**- بشري حقوق نه انتقالېدوونکي دي**

په دې معنی، چې د انسان د حقوقو او آزادیو بېلوالی د انسان له شخصیت څخه ممکن نه دی، ځکه پرته ددغو حقوقو او آزادیو نه شو کولای، یو چاته انسان ووایو. همدغه حقوق او آزادي ده، چې یو شخص ته انساني کرامت او حیثیت ورپه برخه کوئ او حیثیت ته یې وده ورکوئ.

هېڅ انسان نه شي کیدای، چې له خپلو حقوقو څخه محروم شي، دا که د قانون جوړوونکو له خوا وي او یا خپله د فرد په واسطه. لنډه دا، چې هېڅ دولت نه شي کولای، چې یو شخص دې ته مجبور شي، تر څو له خپلو حقوقو څخه صرف نظر ته اړ شي او یا یې ټول یا یوه برخه نورو ته انتقال کړي. حتی خپله کوم شخص هم نه شي کولای، چې له خپلو حقوقو څخه صرف نظر وکړي او یا یې بل ته انتقال کړي، پرته له ځینو استثنایي حالاتو څخه.

**- بشري حقوق عمومي او هر اړخییز دي**

بشري حقوق یوه نړیواله او عمومي ریشته ده، په همدې آساس د ټولې نړۍ خلک ددې څخه برخمن او ګټمن کیدای شي، یعنې بشري حقوق د یوې ټولنې یا یوه محدوده جغرافیه پورې نه دي تړلي؛ بلکې د انسان د طبیعي، مسلمو او فطري حقوقو په حیث د انساني ټولنې هر غړی ورڅخه برخمن کیدای شئ، هر انسان پرته له دې چې ژبه، نژاد، جنس، مذهب او جغرافیه یې په نظر کې ونیول شي، ددغه حقوقو څخه برخمن شمیرل کیږي.

**درېيم څپرکی**

**د هېواد آساسي قانون ته کتنه**




د افغانستان د آساسي قانون د توشیح په باب د افغانستان د انتقالي اسلامي دولت د رئیس فرمان:

ګڼه: ۱۰۳

نېټه: ۰۶\۱۱\۱۳۸۲

د لوی خدای په نامه او د افغانستان د نجیبو خلکو د نېکمرغۍ په هیله!

نوی آساسي قانون چې د ۱۳۸۲ هجري لمریز کال د لیندۍ له ۲۲ څخه د مرغومې تر ۱۴ نېټې پورې په کابل کې د جوړې شوې لویې جرګې لخوا په ۱۲ فصلونو او ۱۶۲ مادو کې د رأیو په اتفاق تصویب شو، توشیح او انفاذ يې اعلاموم.

د متعال خدای له دربار څخه هیله کوم، تر څو دغه آساسي قانون د اسلام د مبین دین د حکمونو په رعایت سره د ملي یووالي د ټینګښت، د دېموکراسۍ د هدفونو د تحقق، د مدني ټولنې د جوړولو، د ټولنیزې،

اقتصادي، سياسي او فرهنګي سوکالۍ، د دولت او د هېواد د خلکو د لارې ډېوه شئ، سوله، برابري او ورورولي د افغانستان د ملت تر منځ تأمين کړي.

ومن الله توفيق

حامد کرزی

د افغانستان د انتقالي اسلامي دولت رئيس

سلواغه\ ۱۳۸۲ هجري شمسي د کابل ښار

**سریزه**

الحمد لله رب العالمين والصلاة ولسلام على سيد الانبياء و المرسلين محمد(ص) و على آله و اصحابه اجمعين.

مونږ د افغانستان خلکو د لوی خدای (ج) په سپېڅلي ذات په ټینګ ایمان، د حق تعالی په مشیت پر توکل او د اسلام پر سپېڅلي دین پر اعتقاد؛

د تېرو بې عدالتیو او ناخوالو په درک او زمونږ پر هېواد راغلیو بې شمېره مصیبتونو ته په پاملرنه؛ د افغانستان د ټولو خلکو د سربښندنو، تاریخي مبارزو، جهاد او بر حق مقاومت د ستایلو او د وطن د آزادۍ د لارې د شهیدانو لوړ مقام ته په ارزښت ورکولو؛

په دې درک سره چې واحد او یو موټی افغانستان ددې خاورې په ټولو قومونو او خلکو پورې اړه لري؛

د ملګرو ملتونو د منشور په رعایت او د بشر د حقونو نړیوالې اعلامیې ته په درناوي؛د ملي وحدت د ټېنګښت او د هېواد د استقلال، د ملي حاکمیت او ځمکنۍ بشپړتیا د ساتنې په منظور؛ د خلکو په اراده او دېموکراسۍ ولاړ نظام د تأسیس لپاره؛ له ظلم، استبداد، تیعیض او تاوتریخوالي پاک، پر قانونیت، ټولنیز عدالت، د انساني حقونو او کرامت پر خوندي تابه ولاړې مدني ټولنې د جوړولو او د خلکو د آساسي حقونو او آزادیو د تأمین په منظور؛

د هېواد د سیاسي، اجتماعي، اقتصادي او دفاعي بنسټونو د پیاوړې کولو لپاره؛ ددې خاورې ټولو اوسېدونکو ته د هوسا ژوندانه او د ژوند د سالم چاپیریال د تأمین په منظور؛

او بالاخره په نړیواله کورنۍ کې د افغانستان لپاره د وړ ځای د تثبیت په منظور؛

د هېواد د تاريخي، فرهنګي او ټولنيزو واقيعتونو او د زمان له غوښتنو سره سم مو دغه آساسي قانون د خپلو استازيو له لارې د يو زرو درې سوه دوه اتيايم لمريز هجري کال د مرغومي د مياشتې په څوارلسمه نېټه د کابل په ښار کې تصويب کړ.

**د هېواد آساسي قانون ته کتنه**

اساسي قانون په ټولیز ډول د یو هیواد لارښوونکو (رهبري کوونکو) قواعدو او مقرراتو ټولګه ده چې د دولت د شکل، جوړښت، د دري ګونو قواو دندي، واکونه، او د دري واړو قواو ترمیځ د لړیکو ټینګښت، ټولنیزو او سیاسي سازمانو جوړښت او د هغوي ددندو، واکونو او مکلفیتونو، د هیواد په سیاسي سیستم کي د هغوي ونډه او په همدي ډول د هیواد د وګړو (اتباعو) د حقونوو او وجایبو څخه بحث کوي .اساسي قوانین په نړۍ کې د دوو پیړیو څخه ډیره مخینه لري خو په افغانستان کې اساسي قانون ډیره مخنینه نه لري. په افغانستان کې لومړنې اساسي قانون په 1919 زیږدیز کال کې د هیواد د خپلواکۍ د ترلاسه کولو څخه وروسته رامینځ ته شو، چې ددي اساسي قانون په ګډون به تر ننه پورې اساسي قوانینو ته لنډه کتنه وکړو.

**د افغانستان د عالیه دولت اساسي نظامنامه:** لکه څرنګه چې مو مخکې وویل د نړۍ په کچه خپلواک هیوادونه د خپلو ټولنو او هیوادونو د پرمختګ په موخه مقرراتو، قواعدو، اصولو او د کور د ننه او بهرنیو اړیکو د سمون او ټینګښت په موخه چې د قانون په بڼه وي، اړتیا لري چې افغانستان هم د خپلواکۍ د ترلاسه کولو څخه وروسته د نړۍ د نورو هیوادونو په څیر د یو خپلواک هیواد په توګه د خپلي ټولنې او هیواد د پرمختګ په موخه د سیمې او نړۍ په کچه ملي ګټو ته ژمن او روڼ اندي لارښود غازي امان الله خان په مشري د خپلواکۍ د ترلاسه کولو وروسته اړینه وبلله چې د افغانستان د کور د ننه او د هیواد څخه بهر ټولې چارې قانوني بڼه ولري، نو په همدې موخه پریکړه وشوه چې نړې د نورو خپلواکو هیوادونو په ډول افغانستان هم د یو خپلواک هیواد په توګه اساسي قانون ولري، نو د همدې پریکړې پربنسټ لومړي په (1301 هـ.ل) کال د کب په لسمه نیټه د افغانستان ختیځ د ننګرهار ولایت د جلال آباد ښار په شاهي ماڼۍ کې د (872) تنو غړو په ګډون لویه جرګه جوړه او نوي اساسي قانون تر بحث او څیړنې لاندې ونیول

شو او وروسته د (1303 هل) کال د چنګاښ په میاشت کې د کابل په پغمان کې د (1052) تنو غړو په ګډون لویه جرګه جوړه او د هیواد نوي اساسي قانون چې د جرګې له خوا د (افغانستان د عالیه دولت اساسي نظامنامې) په نوم په (73) مادو کې تصویب شوی نوموړي اساسي نظامنامه د نورو هیوادونو د اساسي قوانینو په څیر د هیواد کورنیو او بهرنیو چارو په برخه کې د دولت دندې روښانه او ځانګړې کوي، د بیلګې په توګه ددې نظامنامې په لومړي ماده کې افغانستان په کورنیو او بهرنیو چارو کې د یو خپلواک هیواد، د هیواد چارې د واحد امر لاندې تر سره، نه بیلیدونکې پیژندل شوي دې. لکه څرنګه چې افغانستان یو اسلامي هیواد او (99 سلنه اوسیدونکي یې مسلمانان دي، نو په همدې خاطر ددې اساسي نظامنامې په دوهمه ماده کې د افغانستان دین د اسلام پاک دین او مذهب حنفي په ګوته شوي دې، په همدې ماده کې ویل شوي دي چې د نورو ادیانو پیروان لکه اهل هنود او یهودیان چې په افغانستان کې ژوند کوي، چې د ځانګړو نښنو په درلودلو او د جزیې په ورکړه مکلف او هغه هم په دې شرط چې د نورو خلکو هوساینې ته زیان ونه رسوي د دولت د ساتنې د چتر لاندې نیول کیږي .
دا چې په افغانستان کې ددې اساسي نظامناې پورې نورو قوانینو مخینه نه درلوده، په همدې خاطر په دې نظامنامه کې د دولت دندې او مکلفیتونه په څېرکیو نه دي وېشل شوي، بلکې لومړنې برخه یې په عام ډول د لومړي مادې څخه تر (7) مادې پورې د افغانستان نوي خپلواک نظام معرفي شوي دې، دوهمه برخه یې د (8) مادي څخه تر (24) مې مادي پورې د (عام حقونه د تبعې او اوسیدونکي د افغانستان) یانې د هیواد د اتباعو او اوسیدونکو د حقونو او وجایبو تر نامه لاندې راغلي دي، د (25 مي) مادي څخه تر (35 مي) مادي پورې د (وزیران) یانې مانا دا چې په دې برخه کې د وزیرانو دندې او مکلفیتونه په ډاګه شوي دي، (36،37 او 38) مادې د (مامورین) یانې د هیواد په کچه د مرکز څخه د ولایتونو، ولسوالیو او علاقه داریو پورې په دولتي اداروکې د مامورینو او کارکوونکو د واکونو او مکلقیتونو په برخه کې ځانګړې

شوي دي .دا چې د هیواد د خپلواکۍ د ترلاسه کولو څخه وروسته افغانستان ملي شورا (پارلمان) نه درلوده، په همدي خاطر د چارو د ښه سمون او د سلا او مشورو به موخه ددې اساسي نظامنامې د (39 مي مادې څخه تر 49 مي) مادې پوري دا (مجلسونه د مشوري او شوري د دولت) تر نامه لاندې په دي مانا چې د هغه وخت د افغانستان اداري جوړښتونو (تشکیلاتو) پر بنسټ پلازمینه (پایتخت) کې یو هیئت د دولت شوراي د هیواد په کچه، په نائیب الحکومه ګیو کې او په اعلي لویه، اوله، دویمه او دریمه درجه حکومتو او په علاقه داریو کې یو یو مجلس د جوړیدو، دندو او مکلفیتونو په موخه ځانګړي شوي دي، په دي مانا چې په هغه وخت کې د افغانستان اداري جوړښت یا تشکیلات د اوسنیو جوړښتونو په څیر شتون درلود، نو له همدې کبله د نائیب الحکومه ګیو، اعلي لویه، اوله، دویمه، درجه او علاقه داریو څخه موخه د اوسنیو زونونو، ولایتونو، لوي والسوالیو، ولسوالیو او علاقه داریو څخه یادونه شوي ده، چې په هر ادراي واحد کې د پلازمینې (پایتخت) څخه نیولي تر سیمه ایزو مشورتي شوراګانو په ګډون یو شمیر د دولتي ادارو مشرانو په طبیعي یا انتصابي ډول د شوراګانو د غړو په توګه او یو شمیر نور د ټاکنو یا انتخاباتو له لارې ددي مشورتي مجلسونو یا شوراګانو غړیتوب تر لاسه کوي او ددي مشورتي مجلسونو د دندو او مکلفیتونو تر نامه لاندې ځانګړې شوي دي .ددي اساسي نظامنامې د (50 مي مادي څخه تر 55 مي) مادي پوري د (محکمي) د دندو او مکلفیتونو په نوم ځانګړې شوي، چي په څه ډول دعوي، څنګه او په څومره وخت کې وڅیړل شي، روښانه شوي دي.

پوره شپاړس کاله وړاندې د اساسي قانون د لویې جرګې غړي له ډېرو اوږدو او خورا جنجالي بحثونو وروسته د ۱۳۸۲ د مرغومي پر ۱۴ مه د افغانستان د اساسي قانون په اړه توافق ته ورسېدل او دا ستره ملي وثیقه یې تصویب کړه. هر کال دا اونۍ په ټول هېواد کې د اساسي قانون د اونۍ په نامه نمانځل کېږي .د باختر آژانس سیاسی مفسر د دغې

اوونۍ ارزښت ته کتنه کړې ده او لیکي :د اساسي قانون د اوونۍ د نمانځلو فلسفه او منطق په دې کې دی چې ټول خلک یو ځل بیا دغې سترې ملي وثیقې ته چې د ټولو قوانینو مور بلل کیږي، پام واړوي. هغه یو ځل بیا ولولي، ویې څېړي او په پایله کې له ځانه وپوښتي چې د دغه قانون کوم مواد یې پر خپل ځان تطبیق کړي دي، کوم مواد یې تر پښو لاندې کړي او ولې یې تر پښو لاندې کړي دي. همدارنګه د خپل ځان د ارزونې ترڅنګ په ټولنه کې هم د اساسي قانون تطبیق ته یوه ځغلنده کتنه وکړي او دې پوښتنې ته د ځواب موندلو کوښښ وکړي چې قانون په ټولنه کې څومره تطبیق شوی دی او کومې مادې نه دي تطبیق شوي او بیا ځان ته لږ نور زحمت هم ورکړي او په دې اړه فکر وکړي چې دا نورې مادې ولې نه دي تطبیق شوي. که د اساسي قانون د اوونۍ نمانځنه دغه راز موخه ونه لري، نو بیا به ټولې جوړې شوې غونډې هسې تشریفاتي او سمبولیکه بڼه ولري او کوم درد نه دوا کوي .اساسي قانون د افغانستان د سیاسي، اقتصادي او ټولنیز نظام بنسټ دی او په هغه کې د افغاني ټولنې د ژوندانه ټول اړخونه راغبرګ شوي دي .د اساسي قانون په لویه جرګه کې د خلکو منتخبو استازیو توافق وکړ او دې اجماع ته ورسېدل چې سیاسي نظام به مو ریاستي وي، جمهوررییس به د درې ګونو قواوو مشر وي، نظام به د ولسواکۍ له ارزښتونو سره سم د درې ګونو قواوو د تفکیک پر اصل ولاړ وي، د هرې قوې دندې، واکونه او صلاحیتونو اوهمدارنګه د هغوی د جوړښت اصول په قانون کې پوره صراحت لري. دغه راز د اتباعو حقوق او وجایب هم په پوره روښانه توګه تشریح شوي دي. په قانون کې پر بشري حقونو ټینګار شوی دی او د انسان آزادي د دغه قانون اصلي جوهر جوړوي .که د افغانستان اساسي قانون د ولسواکو ارزښتونو په رڼا کې وڅېړل شي او وارزول شي، نو له هر راز شک پرته یو ښه اساسي قانون دی او ښایی په سیمه کې ساری ونه لري. پر بلې وینا؛ د اساسي قانون د ښې منځپانګې په اړه کوم شک نشته، منو چې یو شمېر مادې یې ښایي تعدیل ته اړتیا ولري، خو دا اړتیا په ټوله کې د اساسي قانون ولسواک

ارزښونه نفې کولای نه شي .اصلي خبره د اساسي قانون په بشپړ تطبيق کې ده. له بده مرغه د اساسي قانون يو شمېر مادې لا نه دي تطبيق شوي، د ساري په ډول د ولسواليو شوراګانو انتخابات. د اساسي قانون د اوونۍ په نمانځلوکې بايد اصلي پام د اساسي قانون تطبيق ته واړول شي. د اساسي قانون تطبيق د د دولت د درې ګونو قواوو او همدارنګه ټول ملت ګډ مسووليت دی .که موږ غواړو ټولو اوسنيو ناخوالو ته يو حل او د تل لپاره د پای ټکی کېږدو، نو بايد قانون په بشپړه توګه تطبيق او عملي کړو. د قانون بشپړه واکمني د ستونزو حل ته لاره پرانيزي او په ټولنه کې امنيت او ثبات رامنځته کوي.

## څلورم څپرکی

### ټولنیز بهیر

انسان یو ټولنیز حیوان دی او نه شي کولای، چې نه شي کولای پرته له ټولنې او اړیکو ژوند وکړي. دا چې ټولنه د افرادو یوه ټولګه ده، ددغه ټولګې(ټولنې) د جوړښت، پایښت او انسجام لپاره اړینه ده، چې افراد یې د یو شان طرز او تفکر درلودوونکي وي. هر څومره چې د یوې ټولنې په افرادو کې دغه ډول فکتورونه سره نیږدي او قوی وي، په همغه اندازه به د ټولنې جوړښت مستحکم وي.

نفاق، بدبیني، تضاد او هر ډول اختلافات د ټولنې جوړښت، استحام او ثبات له منځه وړي، ځکه ټول انسانیت د یوه آدم ؑ او بي بي حوا اولاده ده.

د ژوند کولو طریقه، استوګنه او آن تر دې، چې په ټول ژوند کې یو له بل سره مشابهت لري، انسان ځمکې ته د الله تعالی له لوري د خلیفه په توګه رالیږل شوی دی، تر څو په ځمکه کې د خدای تعالی د عبادت تر څنګ نور هم دې لارې ته دعوت او له هر ډول فساد سره مبارزه وکړي. همدارنګه د ورورولئ په فضا کې یوه له بل سره خوږ ژوند وکړي او له الهي نعمتونو او پېرزوینو څخه ګټه پورته کړي.

ځمکې ته د آدم ؑ له د راښکته کېدو سره سم د د افرادو شمېر ډېرېده، چې په دې آساس له یوه فرد څخه کورنۍ، له کورنۍ څخه قبیلې او ټولنې رامنځته شوې، ملتونه تشکیل شول او د دوي د ښه تنظیم په خاطر دولتونه رامنځته شول، چې بالاخره په نني وضعیت یې مشاهده کولای شو.

په نړۍ کې د لویو لویو تمدونونو متمدن پرمختګ د مادي او عیني حالاتو په ترڅ کې رامنځته شوی دي. ښه به نه وي، که ووایو، چې اوسنی بحران یوازې د نړیوالو او بعضو شومو انسانانو د بدبینو

ستراتیژیو پایله ده، بلکېپه دې برخه کې ځینې اوسني خوبوړي، غافل، حاسد او جامد افغانان هم ګرم(ملامت) دي، چې هم يې په ځان او هم پر نورو دغه ناتار نازل کړی، ځکه دوی حریص انسانان دي او په فردي هوساینه باور او عقیده لري، دوي په اصل کې د ټولنییزې هوساینې یا ملي ګټو په نامه څه نه پېژني، دوي ته یوازې او یوازې هغه څه مهم دي، چې په شخصي ګټو څرخي،دوي د فردي هوساینې لپاره ټولنییزې او ملي هوساینې قرباني کړي، دوي نه دا چې ځان هوسا نه کړو، بلکې ټولنه یې هم بدبخته کړه. په داسې حال کې چې، فردي هوساینه؛ په ټولنیزه هوساینه کې نغښتې ده او ټولنییزې هوساینې ته کار کول؛ په اصل کې فردي هوساینې ته کار کول دي.

برعکس په کمه کچه فردي بدبختي په ټولنییزه بدبختۍ ممکن ډېر اغېز ونه ښیندي، خو ټولنییزه بدبختي بیا په ټولنه کې په هر فرد په مستقیم یا غیر مستقیم ډول اغېز پرېښودلی شئ. هغه چاته چې فردي هوساینه تر ټولنیزې هوساینې غوره او بهتره وي، دوی به حتمي مایوسه کیږي، ځکه مایوسي په هغه چا راځي، چې د ځان لپاره کار کوي او څوک چې ټولنیزې هوساینې ته کار وکړي هغه هېڅکله هم نه مایوسه کیږي.

دا چې ننۍ نړۍ تر پخوا ډېره پېچلې او له ستونزو ډکه ده؛ که غوره اقتصاد، سوکالي، هوښیاره پالیسي، او سوله د انسانانو لاسته راوړنې وي؛ نو طبعأ؛ جګړې، جرایم او تېروتنې هم د همدوي د کړنو زېږنده دي. ډېر کله بې هدفه انسانان د هدف لروونکو انسانانو د موخو ښکار ګرځي اوبرخلیک یې د دوي په واسطه ټاکل کیږي.

دا چې په ټولنیز ژوند کې افراد د خپل ورځني ژوند د تېرولو لپاره ورځنۍ اړتیاوې هم لري، نو ټولنه هم د خلکو د ټولنیز ژوند د اړتیاوو د مرفوع کولو لپاره او د یوه منظم ژوند په چاوکاټ کې د ژوند ورځنیو اړتیاوو لپاره اړ دي، چې یو له بل سره اړیکې ولري او ددې اړیکو په آساس دغه اړتیاوې تر یوه حده پوره کړي. په ټولنه کې د خلکو د دا

ډول اړتیاوو د مرفوع کولو تر څنګ او د دوي د اړیکو د څارنې، کنترول او ښه والي لپاره دولت مکلف دی، چې په دې برخه کې دوي ته پاملرنه وکړي او د ژوند او بیا ښه ژوند د آسانتیاوو د رامنځته کولو تر څنګ د دوي لاسنیوی وکړي.

همدارنګه حکومت اړ دی، چې د نویو پرمختللیو اسلامي، مدني او نړیوالو معیارونو په رڼا کې د افغانانو د ټولنیز ژوندانه د شرایطو د سمون لپاره له ځنډ پرته د آسانه او آرزانه لارو چارو په لټه کې شئ او د بشري او فطري اړتیاوو په آساس او د همدا ډول هیلې او غوښتنې د پوره کولو لپاره حکومت باید د کلي او ښار تر منځ هر ډول مادي او معنوي توپیر له منځه یوسئ او له هر هغه آسانتیا څخه چې د ټولنې یو وګړی په ښار کې برخمن دی؛ په کلي کې هم برخمن شئ.

**په ټولنه کې د ځوانانو مسؤولیت**

ځوان، سیاسي، علمي او اکاډمیک شخصیتونه د یوې ټولنې او هیواد معنوي ځواک او شتمني ده، د پرمختګ او سوکالۍ راز د همدغو شخصیتونو له مفکورې الهام اخلي او همدوي د ټولنې د نېکمرغۍ اصلي هسته ګڼل کیږي. ځوانان دي، چې ټولنې ته ویاړونه بخښي، ټولنه وربانديې ویاړي او د امید سترګې یې د دوي لور ته کږې وي. خو دا به کوم ځوانان وي؟ دا به هغه ځوانان وي، چې د درک او احساس قوه یې د خلکو او ټولنې په اړه ویښه او فعاله وي. د علم او پوهې په ګاڼه سمبال وئ. با احساسه ځوانان په ټولنه کې د بلو څراغونو په څېر وي. کومه ټولنه، چې له دا ډول شخصیتونو څخه برخمنه وي، د سوکالۍ شمله یې هسکه او نېکمرغه ټولنه یې بللی شوو. د یوې ټولنې نیکمرغي او سعادت د ځوانانو په فکري ودې او سالم تفکر پورې تړلی دی او همدا د روښان فکرو او ځوان فکرو دنده ده، چې د فکر او عمل په یووالي سره د ټولنې د ښېرازۍ او نېکمرغۍ په لاره کې هر ډول زیار او کوښښونه ومنئ او په ورین تندي ورته لبیک ووایئ، د ټولنییزو

دردونو لپاره دوا او په دې برخه کې هېڅ ډول مرستې ونه سپموئ او د حل لارو په اړه يې کار وکړئ. له ټولنې څخه د هر ډول ستونزو او نيمګړتياوو نفې کول زمونږ د هر با درده او با احساسه وګړي شرعي او ملي دنده ده.

د زمري يا اسد دمياشتې يوويشتمه دځوانانو نړيواله ورځ ده، چې دنړۍ په هيوادونو او زمونږ په ګران هيواد کې په پرتمينو محفلونو سره ياده ورځ لمانځل کيږي. نو سره له دې چې د ځوانانو لپاره يوه ورځ هم ځانګړې شوې، خو په افغانستان کې ډيرى ځوانان لا اوس هم له بې وزګارۍ سر ټکوئ او وايي، چې دولت ځوانانو لپاره کوم ځانګړی پلان او طرحه نلري، چې دکار کولو چانس ځوانانو ته ورکړي. خو د ويلو ده، چې ځوان څوک او کوم مسؤليتونه؛ چې دټولنې او دهيواد پر وړاندې لري بايد په ډاګه شي. ځوانان دټولنې هغه اساسي بنسټ اينودونکی قشر دی، چې ديوې ټولنې او آن تردې چې دهيواد په رغولو کې له نورو مخکښ او مسؤليت منوونکي دي. يا ځوان د يوى ټولنې هغه بريمن ځواک دی، چې کولای شي په مختلفو پړاونو کې شهکارياني او بدلونونه له ځانه راوړي او د هيواد دجوړولو په ټولو اړخونو کې فعاله ونډه ولري. ددې لپاره چې په ټولنه کې د ځوانانو د مسؤليتونو په اړه لاښه وپوهيږو، لومړی بايد په دې پوه شو، چې ټولنه څه ته وايي؟ انساني ژوند د ښو چارو د سمبالولو سيمه ده،چې بيلابيل انسانان پکې ژوند کوي او دغو خلکو ته د ټولنې وګړي وايي، چې د وګړو له يو ځای کېدو څخه ټولنه را منځته کيږي. په يوه ټولنه کې، که هغه ډيره عادي هم وي يا ډيره پرمخ تللې وي درې ډوله انسانان ژوند کوي ،چې يوه برخه يې ماشومان، دويمه برخه يې ځوانان او دريمه برخه يې مشران دي. موږ په داسې يوه ټولنه بحث کوو،چې هلته دويمه برخه انسانان (ځوانان) اوسيږي، چې څه مسؤليتونه لري؟

که چیرې مور وغواړو چې یوه ښه پرمختللې؛ له بدمرغیو او تاوتریخوالو پاکه او سوچه ټولنه ولرو، د ټولنې هر یو وګړي نه یوائې ځوانان دا مسؤولیت او دندې لري چې خپل کار اومسؤولیت وپیژني او له هغه وروسته بیا بل څوک چې د ټولنې او د ټولنییز ژوندانه جوړښت ته زیان اړوي متوجه کړو. خدای (ج) په قران کریم کې فرمایلي: (( انسان تر ټولو غوره مخلوق دی.)) نوددې لپاره چې خدای (ج) د انسان د خلقت په ښه والي شاهد دی انسان باید په دې پوه شي، چې ده ته به شخصي او ټولنیپزه برخه کې کوم مسؤولیتونه او دندې متوجه دي؟ دا سمه ده، چې په ټولنه کې ښه اوبد انسانان ژوند کوي. یو ډول انسانان په ټولنه کې دانساني نظام پر ضدعمل کوي او یو ډول نه غواړي چې په ټولنه کې داسې چارې تر سره کړي چې د انسانانو د ښو صفاتو او شهرت لامل وګرځي.

د ټولنې د ښه سمون لپاره ځوانان ډېر ګټور واقع کېدای شي هغه ځوانان چې بادرکه، با احساسه، پوهه او علمیت ولري.

دځوانانو سترمسؤولیت په ټولنه کې سیمې او هیواد ته دخدمت کولو جوګه ګرځیدل هغه لازمي او فرضي دنده بولو، چې دټولو هیوادوالو لپاره ډېره اړتیا لیدل کیږي، چې باید ورته په وخت لاسرسی دهمدغو ځوانانو پرمټ ترسره شي. دغه کړنې که داقتصادي، ښوونیزو، ټولنیزو او نورو برخو کې وي، خو چې ولس یې پوره ملاتړ کوونکي وواسي، څو ځوانان وکولای شي، په سړه سینه خدمتونه خلکو ته وړاندې کړي.

په جنګي وضعیت کې د یوې ټولنی بقا؛ د امنیتي، اقتصادي، سیاسي او ملي ارزښتونو له پلوه ګواښل کیږي، بلکې د وګړو او په ځانګړې توګه د ځوانانو په ټولنییزو اخلاقو، زده کړو او فکرونو باندې منفي اغیزې کولی شي، چې بیلګې یې اوس په هیواد کې ډېرى ځوانان په مخدره توکوباندې روږدي شوي، په غلطو لارو ځوانان هڅول شوي ډېرى ځوانان چې دجنګ په مهال هیوادیې پرېښي ؤ، دپوهې له ستر نعمت څخه بې برخې پاتې شوي او داسې نورې ګڼې ستونزې یادولی شو، چې زمور دهیوادګڼ شمیر ځوانان یې له ستروګواښوونو او کړاونو سره مخ

کړي دي. له دې سربېره د حکومت ته پاملرنه دغه قشر ته تر ټولو د ستر ناورين زيږنده ګرځېدلي ده.
ځوانان چې په هر موقف کې شتون ولري، بايد خپل مسؤوليتونه درک او دولس په چوپړ کې ووا‌سي. نو که چيرته ځوان و غواړي چې دخپل هيواد د آبادۍ، سوکالۍ او پرمختيا په برخو کې مثبت رول ولوبوي ، نودا ښکاره خبره ده، چې دداسې ځوانانو راتلوونکی به روښانه او ددې خاورې د اصيلو بچو او خادمانوپه نامه به پېژندل کيږئ.دوي کولای شئ، چې په عندالضرورت وخت کې دهيواد په نظام کې سترمسؤوليتونه په غاړه واخلي.
هر ځوان ته چې کوم مسؤوليت سپارل کيږي، نو هغه دې په پوره ايمانداری او صداقت سرته ورسوي.
ځوانانوته پکارده، چې دپوهنې ډيوې بلې او دخلکو فکرونو دعلم لوري ته واړوي، څو دجهالت تورې تيارې په رڼايي بدلې شي، چې نن ورځ په هيواد کې اصلي لامل ددغې بدبختيو ناپوهي ده.
په هيواد کې د شته ناپوهۍ دله منځه وړولو لپاره ټول ځوانان کولای شي، دقلم له لارې سپيڅلې مبارزه وکړي، که هغه دسولې راوستلو غږ وي او که دملي روغې جوړې، چې دولسونو په خير او ګټه پايښت ومومي. ځکه همدا ځوانان دي، چې د معقول ځواک او ځوان پوتانشيل په بڼه کاربدلای شئ.
راځئ چې خپل فکرونه ځوان کړو، د ځوان فکر سره يې يو کړو، په هغولارو ځان برابرکړو، چې د هيواد دخير اوفلاح لپاره ګټور وي. په ټولنيزو برخو کې ځوانان ته ګوتنيوي کيږي، چې دپرمختګونوبيلګې ووا‌سي، څو ټولنه داصلاح لوري ته مخه او له ګران افغانستان څخه شته نانذرۍ او ستونزي پای ومومي. يوازې همدا ځوانان دي، چې د سوکالۍ او پرمختګ تضمين ګڼل کيږئ.

په ټولنه کې د ځوانانو دنده خورا درنه او سنګينه ده او د يوې ټولنې فعال او د پام وړ وګړي همدغه ځوانان دي، چې ټولنه ورته د هيلو

سترګې لري. که ووایو، چې ټولنه بې له ځوانانو نیمګړې او بې معنی ده؛ دا خبره به مبالغه نه وي. همدا ځوانان دي، چې د ټولنې د پرمختګ او سوکالۍ څرخ په حرکت راولي او د خپل تازه فکر او قوت په مرسته یې پر مخ بیایي. زموږ په ټولنه کې د متو او تورو کمی نشته، د فکر، سوچ او له عقله د کار اخیستنې هنر ته اړ یوو، د ټولنې دغه اړتیا مو ځوانان برابرولای شئ.

له نېکه مرغه، چې اوس مو دغه تشې په ځانګړې توګه د ځوانانو له لوري په ډکېدو دي. دوي د پوهې په واسطه، پر نویو ننګونو، مشروع او قانوني غوښتنو او لومړیتوبونو سرخلاصي شوي. په ماضي کې کلابند نه أوسئ، د پردیو د اېډیالوژیو له ککړتیا یې لمن پاکه او لیرې ساتلې، په همدې آساس په ټولنه کې د نویو مدني او پرمختللیو ملي او نړیوالو معیارونو په رڼا کې د افغانانو د ټولنییز ژوندانه د شرایطو د سمون لپاره کار زموږ د هر افغان ملي او ایماني وجیبه ده. اوس هغه وخت رارسېدلی، چې په نورو له تکیه کولو او باور کولو تېر شو؛ په خپله خپلې متې راونغاړو او د خپلو ستونزو د هواري په برخه کې، په ګډه کار وکړو. همدا مو د بریا راز دی، د تېرو تېروتنو له تکرار ډډه وکړو، په نورو د انتقاد پر ځای په حل لارو فکر وکړو. د انساني هوساینې هڅه برید نه لري؛ په دغه لړ کې باید ټولې هغه هڅې سرته ورسیږئ، کوم چې د بشري ژوند اړتیاوې شمېرل کیږي.

هغه وخت به زموږ ټولنه نېکمرغه او بریالۍ وي، چې مهمې او حیاتي چارې یې ځوانې او با احساسه طبقې ته وسپارل شي. د یوې ټولنې پرمختګ او لوړتیا د همغه ټولنې د وګړو په یووالي او انسجام کې نغښتې ده. د یوې ټولنې سوکالي او نېکمرغي هغه وخت په ښه بڼه سره تأمینیدای شي، چې هر وګړی یې په پوره صداقت او خلوص د پرمختګ او سوکالۍ لپاره کار وکړي او خپل امانت یې وګڼي. د سمون لپاره یې بې له کوم امتیاز په نظر کې نیولو، پراخ او پاخه ګامونه اوچت کړئ او د خپل توان او وس په اندازه په همدې نیت کار وکړي.

ځوانان باید هر سهار، په دې فکر وکړئ، چې افغان او افغان ملت ته څه کولای شئ؟ بې له دې، چې له ځانه دا وپوښتئ، چې په بدل کې افغانستان او افغان ملت مونږ ته څه را کولای شئ؟ دوهمه پوښتنه مو د یوې لنډې مودې لپاره له ذهنه وباسئ او لومړۍ پوښتنې ته سم او سالم ځواب پیدا کړئ.

په اول قدم کې افغانستان ددې وړ کړئ، تر څو د یو څه د درکولو وړتیا پیدا کړي. بلاخره به د دوهمې پوښتنې ځواب غوښت، ناغوښت ډېر ژر شونی شئ، خو لومړی دا له ځانه وپوښتئ، چې زه ورته څه کولای شم؟ دا چې ځوانان د ډېرې حوصلې، پراخه مفکورې، لوړ ظرفیت او زیات کار کولو انرژي لري، دوي باید د حقیقي یا ریښتینی نفوذ څخه په استفادې، پرته له ځاني ګټو څخه پر ځان او نورو باندې په علمي او عملي لارو چارو فکر او عمل وکړئ او د مثبت بدلون لپاره په صبر، پرلپسې کار او هوښیارۍ مبارزه وکړئ، که دا کار په ځنډ رامنځته کیږي خو بیا مثمر او ممثر تمامیږي او مبارز یې په یوه ریښتیني اتل بدلیږي، ښایي په خپله زمانه کې نه، بلکې د راروانو نسلونو لپاره نمونوي مشر واوړي، د کار او مبارزې اغیز یې، همزمان هم محسوسیدلای شئ. ځوانانو ته په ټولنه کې د نورو په نسبت څو برابره توجه پکار ده.

هر ځوان باید دا فکر ولري، چې راتلوونکی څه ډول له ګواښونو، کمزوریو او کاواکیو بچ کړو؟ څه ډول ټولنهپه یوې مدني ټولنې بدله کړو؟ لومړیتوبونه مو کوم او څه دي؟ چاته مسؤولیت لرو؟ او مسؤولیت مو څه دي؟ زمونږ د ټولنې په داسې یوه بحراني حالت کې تاسو باشعوره افغانانو په ځانګړي ډول ځوانانو ته څه کول پکار دي؟ آیا زمونږ د مورنۍ او ګران وطن دا حالت د تائید وړ دي؟ که نه وي، پس د حل لار څه ده؟ او که وي، نو ولې بیا د اور په لمبو سوځو او ورځ تر بلې مو ستونزې ډېریږي؟ ولې وژل کیږو؟ ولې په خپل شیرین وطن کې د آرام ساه نه شو اخیستلای؟ آیا په حکومت کې د ځینو چارواکو د عزل

کول پکار دي او که د سمبېدو هڅه یې وشي؟ او که یا هم په نعم البدل یې فکر وشي؟ ایا تاسې( په ځانګړي ډول ځوانان) حاضر یاست، چې هیواد مو د بدبختۍ یوې بلې کندې ته له لوېدو وژغورئ؟ که فکر وکړئ، چې افغانستان په یوه توپاني سمندر کې ایساره بېړۍ ده، نو تاسې یې د ژغورلو لپاره کومه طرحه لرئ؟ بدیل څه کېدای شي؟ بلاخره ددغه بحران د پای ته رسېدو لاره کومه او څه ده؟...؟

نو راځئ اې ځونانو! چې لاسونه سره ورکړو، دا وطن، خلک او ټولنه په ټولو حق لري، راځئ نور د ځان لپاره پخپله لاس په کار شوو او همدا به مو د بریا په لور ګام وأوسئ.

د سعدي رح خبره، چې که مو کوهي او ړوند سره یو ځای ولیدل او آرام کښېناستي نو ګناه ده. افغانستان له څو لسیزو را په دېخوا د جنګ او بدبختۍ په لمبو کې سوځي، کله د نړیوالو سوپر طاقت هیوادونو د لوبو میدان، کله هم د ګاونډیو د ګټو د تأمین کربښه. ددې ټولو بدبختیو یو اړخ او لامل مونږ پخپله یوو. زمونږ یوه لویه غمیزه د نوي او زاړه تر منځ دوامداره جګړه ده. که څه هم مونږ په تاریخونو کې ژوند کړی، هلته مونږ فاتحین پاتې شوي یوو، زورور وو، د کلتور او ځانګړي فرهنګ لروونکي وو.... خو د ننۍ نړۍ بازار اوس ځینو نویو سکو ته ارزښت ورکوي، چې له بده مرغه زمونږ په جیبونو کې دغه سیکې تر دې مهاله درک نه لري. دلته چې کله کومه نوې مفکوره زېږي، لومړی باید له هغو زړو سره د ښه او بد خبره سپینه کړي، او بیا یې د منلو لپاره کار وشي. مونږ له ماضي کرکه لرو، یوازې د سبا په امید ژوند کوو او د سبا په امید کار او زیار ته اړتیا ده.

مونږ ژوندی قوم یوو، هېڅ کله باید اجازه ورنه کړو، چې مړي راباندې حکومت وکړي. دغسې نوې مفکورې، چې له بدې ماضي سره په ټکر کې وي، وزېږي، تر څو مونږ او نوي نسل ته د کار توان راکړي.

**زده کړه او ور زده کړه**

دا چې زده کړه او ورزده کړه نه یوازې بشري غوښتنه، بلکې د متمدنې نړۍ او سوکاله ژوند اړتیا هم ده، نو په دې آساس دولت باید ددغه بهیر د چټکتیا او پراختیا لپاره په دې برخه کې برید(سرحد) ونه لري. همدارنګه حکومت باید ددغه بهیر د ښه والي تر څنګ، له ښوونځۍ بیا تر پوهنتون پورې د ټولو هېوادوالو لپاره، د زده کړو دغه دروازه د دوي پر مخ پرانیستې ساتۍ، تر څو هېڅوک هم د مالي ناچارۍ له امله له دغه نعمته بې برخې پاتې نه شي.

همدا راز دولت باید د هېواد په هر ګوټ کې د عندالضرورت په آساس ښوونځۍ ورغوي او په دې برخه کې به د متعلمینو لپاره د ښې زده کړې او ښوونکو ته د ورزده کړې لازمې لارې چارې او آسانتیاوې او همدارنګه ددې بهیر د لا ښه والي لپاره هر ډول آسانتیاوې رامنځته کړي. د دیني او اسلامي زده کړو په برخه کې دولت باید ځانګړې پاملرنه وکړي او په دې برخه کې د ټولو لازمو آسانتیاوو د رامنځته کولو تر څنګ، په ټولو رسمي دیني مدرسو کې به د اسلامي نړۍ تر ټولو پرمختللی علمي نصاب دودوي او پیاوړی کوي.

همدارنګه د لوړو زده کړو لپاره باید د کانکور پروسه د شفافیت تر څنګ، د زده کوونکو پوهنیزې وړتیا او په آساس ومني نه د کوم بل ډول تعامل له مخې.

همدارنګه د دولتي زده کړو تر څنګ، شخصي زده کړې هم منځ ته راتلای شي، چې حکومت باید دې برخې ته جدي پاملرنه وکړي. د شخصي زده کړو درسي پروګرام او میتود باید د لوړو زده کړو وزارت په خوښه او د هېواد د نورو دولتي ښوونځیو او پوهنتونونو سره برابر وي. په دې برخه کې حکومت د یو لړ هغه شخصي پوهنتونونو دروازې وتړي، چې بې کیفیته زده کړې وړاندې کوي او په دې برخه کې پاتې راغلي دي.

پوهنتونونه به د نويو پوهنيزو برياوو او پرمختګونو په رڼا کې پرلپسې د خپل کاريکولم نوي کولو ته اړ ايستل کيږي او د ښوونکو او زده کوونکو د پوهنيزې کچې لوړولو او پياوړې کولو ته جدي پاملرنه کيږي. همدا راز دولت بايد هغه لويانو(ښځې او نرنارينه) ته د لوست او زده کړو زمينه برابره کړي، چې ترې بې برخې پاتې شوي دي او علاقه لري، چې ليک او لوست زده کړي. حکومت بايد د ښوونځيو او همدارنګه د پوهنتونونو په درسي نصاب کې د دوي له علمي کچې سره برابر د هر صنف مطابق يو- يو مضمون د(عامه پوهاوي او بشري حقونه) رامنځه کړي او همدارنګه د مسلکي ښوونکو له لوري تدريس شي، تر څو په دې آساس په ټولو زده کوونکو او زده کړيالانو(محصلينو) کې د وطن دوستۍ، مينې، ملي يووالي، ورورګلوۍ، انساني کرامت ته احترام...په ارزښت پوه شي.

همدارنګه دولت بايد د ښوونې او روزنې د سمې، مؤثرې او ممثرې ودې لپاره تر ټولو د مخه برلاسي ښوونکي او بيا دا ډول ښوونکيو ته د ژوند د ټولو آسانتياوو برابرولو تر څنګ، د دوي په ورځني ژوند کې هم لاسنيوی کوي. له خورا بده مرغه بايد يادونه وکړو، چې په افغاني ټولنه کې ښوونکی په اقتصادي لحاظ تر ټولو بېوزله غړی دی. مالي کمزورتيا د ښوونکي پر ورځني ژوند ناوړه اغېز درلودلای شي؛ ذهني نابرابري او نا کراري وربېښوي او لکه څنګه چې ښايي په هغه ډول خپله سپېڅلې دنده پر مخ نه شي وړای. زه له دولت څخه په بيا تکرار سره غواړم، چې د ښوونکو هر ډول مالي ناخوالې پرته له ځنډ له منځه يوسئ او په دې برخه کې ښوونکو ته د دوي د اړتياوو سره سم، تنخوا وټاکي.

همدارنګه دا د دولت مسؤوليت دی، چې د ښوونکي د اقتصادي ـ ټولنيز پرستيژ داسې هر اړخيز ملاتړ وکړي، چې دغې سپېڅلې دندې ته د ټولنې د پوه او وړ کدرونو ور پام شي او د مينه والو د شمير کچه يې لوړه شي.

**نو اې وياړلو ځوانانو!**

په کومه خبره مو چې هوکړه کړې، په هغه پښه مه ټينګوئ، له سره پرې کتنه وکړئ. د نقصان له لارې، چې په هر ځای کې ياستئ؛ راګرځېدل مو ناوخته نه دی، بلکې سر وخت دی. هره ورځ د نوي ژوند لومړۍ ورځ ده. که مونږ ريښتيا له دې وطن سره مينه لرو، دا وطن دين، کلتور، تاريخ، ارزښتونه... لري، نو دا هر څه يې بايد درک کړو او د امانت په ډول يې ساتنه او دفاع وکړو. اوس جهان بدل شوی او ورسره د تاريخ نبض هم بدل شوی، تاسو ترې د رڼا په لور را وتلي ياست، بايد پوه شوو، چې لا هم انقلاب په مخکې لرو، حالات نورمال نه دي. يو ځوک چې په ځان پورې بمونه تړي او په مقدساتو کې انفجار ورکوي، اکاډميکي نقطې هدف ګرځوي او د بېګناه ولس وينې تويوي، له همدې معلوميږي، چې تر اوسه زمونږ په ټولنه کې بدبختي ده او لا هم دلته جنګ وياړ دی، دلته لا هم داسې مفکورې شته، چې ورانوونکي تصميمونه لري.

**ګرانو ځوانانو!**

ستاسو راتګ ټولنې ته دا هيلې را کوي، چې هغه سهوې او تېروتنې، چې مونږ او زمونږ مخالفينو تکرار کړي او هغه ويجاړۍ، چې زمونږ د ګډ تصادم په پايله کې ددې وطن ټولنې او جغرافيې ليدلې، هغه به بيا نه تکراروئ، تاسې به په خدای توکل کوئ، ملي ارزښتونو ته به ژمن او ټولنه به له ناخوالو او بدبختيو څخه ژغورئ.

**پوهه او هنر**

پوهه او هنر د مانيز ځواک د ويښتيا، لوړتيا او پياوړتيا په برخه کې د پوهې اوهنر د هرې څانګې د ودې لپاره پاملرنه هرو مرو ده. دولت بايد په ټولنه کې د پوهې او هنر پراختيا ته د ستر ارزښت په سترګه وګوري او هڅه وکړي، چې ټول هغه خنډونه له منځه يوسئ، کوم چې په دې برخه کې شتون لري. همدا راز په هره برخه کې د هر ډول څېړنې او وړتيا ښودلو ډګر پرانيستل شي او په دې برخه کې هر ډول ناقانونه سانسور له منځه يوسئ.

دولت بايد د پوهانو، څېړونکو، هنرمنو، مفکرينو، ليکوالانو او خبريالانو د هلو ځلو او برياوو مادي ـ مانيز ملاتړ وکړي او د هڅو د لا ښه والي او چټکتيا لپاره وړ شرايط رامنځته کړي او همدارنګه په هېواد کې د مانيزې کلتوري لوړتيا او پياوړتيا په هيله هر چاته له پوهې او هنر څخه د برخمنېدا آسانتياوې برابرې او د مطبوعاتو له لارې بايد په دې برخه کې لازمې آسانتياوې رامنځته کړي او له دې لوري دولت بايد د افغاني کلتور او فرهنګ ځواک لا پياوړی کړي او له نړيوال کلتور سره سيال او فعاله ونډه پکې ودرلودلای شي.

**زمونږ په ټولنه کې بدبختئ او غېږ يې**

**جګړه او اغېز يې:**

پرته له شک، جګړه نه تنها په بشري ژوند، بلکې په حيواني ژوند، تجارت، اقتصاد، کرنه، مالدارئ، هوا، وچه، بحر او بلاخره د چاپېريال او جغرافيې ټولې مړې او ژوندئ برخې ددغه ناوړه عمل اغيزېمحسوسوئ. څه کم او زيات اته(۸) لسيزې افغان ملت ددغه ناسور قرباني ورکړه. نو خامخا به يې پريګنده اغيزېد ټولنې لپاره د حس وړ وئ او خامخا به د بشري ژوند په برخه کې په پوهه، فقر، صحت، کورني وضعيت، بهرنيو اړيکو، عامه پوهاوي، روح او روان، ماديانو او معنوياتو... مستقيمې اغېزې ښيندي. دغه کرغېړنه کړنه نه يوازې

مادیاتو ته صدمه رسوئ، بلکې معنویات هم متضرر کوئ.لنډه دا چې جګړه په ټوله کې هغه څه زیانمنوئ، کوم څه ته چې د بشر اړتیا تمایل کوي او په پوره ډول د انسانانو په ژوند کې ورته اړتیا احساس کیږي. بد بختانه باید ووایو چې، افغانستان کله د نړیوالو قدرتونو د لوبې میدان وي او کله د ګاونډیانو د ګټو تأمین.

د افغانستان اوسنۍ بدبختي عجیبه ده، مظلوم لري، ظالم نه لري، مقتول لري، قاتل نه لري، جرم لري، مجرم نه لري، تجاوز کیږي، متجاوز نه دی معلوم، دښمني شته ده خو دلیل یې نه دي څرګند، له قاتل سره د مقتول د قتل دلیل نشته....

افغان ملت ډېر کله د پردیو د اهدافو ښکار ګرځېدلی او ډېر کله یې د نورو د ګټو لپاره هلې ځلې کړي. د تېر تاریخ په اوږدو کې د افغان ولس سره نه یوازې پردیو، بلکې پخپله دوي هم د خپل ځان لپاره د ډېرو ناخوالو او بدبختیو په تور تورن ګڼل کیږئ. دلته د ملت د ګټو د تضاد پر ځای د ګټو د اشتراک پر آساس معامله نه کیږي، بلکې برعکس دا کرنه روانه ده. همدا له جګړو زیږیدلي څه دي، چې نن ورځ مو ګوابښي.جګړه یوازې فزیکي یا کمیاوي تعامل نه دی او نه هم د وسلو استعمال، بلکې جګړه په ټوله کې د یوې ټولنې سستېماتیکه تباهي او بربادي هم ده، چې تر بل هر چا یې مونږ(افغان ملت) ښه شاهدان وو او یوو. جګړه به هرو مرو ګټل یا بایلل لري، خو نه یوازې د بایلوونکي لپاره، بلکې د ګټوونکي لپاره به هم د یو لړ ستونزو او ناخوالو زیږنده وئ. همدارنګه جګړه اهداف هم لري، ځکه نو جګړه کوونکي هیوادونه د مالي او ځاني زیان په منلو دغه ډګر ته ور دانګي او د یو څه د له لاسه ورکولو لپاره د یو څه د لاسته راوړلو په هیله دا کار کوي. ډېر کله دا ډول هېوادونه د خپلو ګټو د تأمین او تضمین لپاره بې وزله، اړ او بې هدفه ملت د خپلو موخو د لاسته راوړلو لپاره کاروئ.

جنګ یوه لرغونې پدیده ده چې، د تاریخ په اوږدو کې یې د بشري ټولنې پام ځان ته ورګرځولی دی، تاریخ یې دانسان له پیدایښت سره سم د قابیل د ورور په وژنه پیل شو، داچې په دنیا کې د هیڅ جنګ او جګړه نه وي شوې داسې کوه سیمه نشته او که وي هم ډیرې به کمې وي.د اروا پوهنې له نظره انسان هیڅ جګړه په شعوري ډول نه ترسره کوي او وایي چې په جګړه بیزو پریکړو کې معمولاً د پیچلې بیولوژیکي او عاطفي تحریکونه،لا شعوري ځورونې،پټې ویریاو داسې نور شته چې سرچینه ترې اخلیاو په یرغلییزو پیښو کې د اروا پوهنې نظر دادی، چې ځینې غوټې(عقدي)د یادو حملو او تیریولامل ګرځئ په دې اړوند به نور لاملونه هم خپل مهم تاثیرات لري.

جنګ د پوهانو په اند سازمان شوې،مسلحانه او د یوې اوږدې مودې لپاره شخړې ته وایي چې،ددولتونو،ملتونو یا ډلو ترمنځ رامنځته کیږي او له تاوتریخوالي اړو دوړ،مادي زیانونو،مرګ ژوبلې،جسمي او رواني ستونزو سره مل وي.

جنګ داسې تعامل او عملیه ده، چې د بشري ټولنې د تباهۍ او بدبختۍ سبب ګرځي. هره جګړه تر هرڅه د مخه د جګړیز هیواد د ولس فکر،ذهن،عقاید،فرهنګ او کلتور،اقتصاد،انکشاف،تعلیم،ټولنییز عدالت او په ټوله کې انساني ارزښتونه ځپي.څه باندې څلور لسیزې کیږي چې زموږ په ګران هیواد افغانستان کې نا اعلان شوې جګړه روانه ده،د معلوماتو له مخې څه د پاسه شل بیلابیلې وسله والې ډلې په بیلابیلو نومونو او هدفونو لګیا دي.

په ملیونونو افغانانو پکې خپل ژوند د لاسه ورکړی او ور کوي،معیوب شول، بې کوره شول، ټاټوبی یې پریښوده، زراعت پکې لمنځه ولاړو،مهاجر شول او پاتې نور افغانان په روحي ناروغۍ مبتلا شول.

د جنګ په سبب وطن ورانیږي،او کله چې وطن وران شي بې امنیتي او بې اتفاقي پیداکیږي،او همدارنګه روغتونونه،مکتبونه او نور ټولنیز تأسیسات له منځه ځي چې د دغو شیانو په له منځه تګ په انسانانو او چاپیریال باندې بدې اغیزي کوي.په عمومي ډول له جنګ او جګړو دوه ډوله تاثیرات د حس وړ وئ، چې یو یې مستقیم اغیز دی او بل غیر مسقیم اغیز، چې د انسانانو په صحت او چاپیریال باندې اغیز کوي،مسقیم اغیز دا دی چې وګړي یا افراد جسماً متاثره کیږي او د خپل وجود غړي له لاسه ورکوي او یا هم ژوند بایلي او غیر مستقیم اغیز دا دی چې د جنګ په واسطه د یوې ټولنې ارزښتونه د راتلوونکي لپاره په سیستیماتیکه او تدریجي بڼه له منځه ځي.

د جنګ په واسطه زراعتي ځمکي،مکتبونه،روغتونونه او نور تأسیسات له منځه ځي، چې ټولې بدې اغیزي په چاپیریال او ولسي خلکو باندې پریباسي،یعنې له ډیرو بد مرغیو سره مخامخ کیږي.

همدارنګه د جنګ او جګړو له امله په ټولنه کې اقتصادي ستونزې رامنځته کیږئ او ددې په واسطه په ټولنه کې بیکاري راپیداکیږي او هر انسان دخپلې بې روزګارۍ له امله ورانکاره کړنو ته لاس اچوئ او دا دجنګ او جګړو هغه ستونزې او اغیزې دي، چې مستقیماً د انسان په صحت او چاپیریال باندې بد اغیز لري.

**جګړه د یوې ټولنې سېستیماتیکه تباهي**

جنګ او جګړې غیر نارمل او نا طبیعي حالتونه دي. انسان په فطري لحاظ د جنګ او خشونت غوښتونکی نه دی، بلکي د هغه په چاپېریال کې ځیني داسې پېښې کیږي، چې انسان له خپل فطرت او طبیعت څخه د مخالف شي خوښولو ته اړ کړي. سوله د افغان ولس یوازینۍ هیله ده. سوله حکمت، همت او اراده غواړي. جنګ، کرکه او شخړه د انسان له فطرت سره کومه اړیکه نه لري، بلکې ددغه ناروغۍ ریښه د انسان ذهن ته له ټولنې او چاپېریال څخه د یوه بسته پروګرام په بڼه انسټالیږي. او دا ورته د ټولنې لخوا ډالۍ ده، شدت او خفت یې هم د ټولنې په ښه والي او بدوالي پورې اړه لري. جنګ یوه ټولنییزه پدیده ده او له مالي زیان تر انسان ژوبلې او مرګ پورې هر څه په هر وخت کې په کې شوني دي. جنګ فقر زیږوي، د بې عدالتۍ سبب کیږي، بې کاري منځته راوړي، عامه لارې، کلي او ښارونه ناامنه کوي. تاوان یې نه یوازې ښکېلو غاړو ته رسیږي، بلکې هغه څوک به یې هم تاوان پرې کوي، چې حد اقل په هغه جغرافیه کې یا دغه جغرافیې ته نږدې استوګن وي. له دې امله عقل، انساني تاریخ او تجربه دا ثابتوئ، چې هوښیاره ټولنه او ملت نه دا چې باید جنګ ونه کړي، بلکې بې له ځنډه یې مخنیوی وکړئ. سوله له یوه طرفه د الله ج امر دی او له بل طرفه د بشر اړتیا. همدا لامل دی، چې قرآن کریم په جنګي حالاتو کې هغه مهال د سولې غوښتنې ته د مثبت ځواب ورکولو امر کړی، چې یو لوری یې هیله څرګنده کړي. الله ج په دې اړه داسې فرمایئ: ژباړه( او که دوي سولې ته میلان وکړ؛ نو ته هم ورته میلان وښایه).(الانفال ۶۱)

له دې دا معلومیږي، چې که چیرې سولې ته میلان وښودل شو نو سوله وکړئ او هېڅکله په داسې صورت کې د جنګ د تمدید جواز نه دی ورکړل شوی. قرآن کریم د ښځې او میړه د ستونزو په اړه فرمایئ: ژباړه( او که کومه ښځه د خپل میړه له بدخویي یا بې اعتنائي ووېریده، نو په دې کې څه ګناه ورباندې نشته، چې په خپلو کې سوله وکړي او دا

سوله د دوي لپاره غوره ده) (النساء:۱۲۸). داچې اللهﷻد يوې کورنۍ په اړه د سولې د غوره والي هدايت کړی، نو آيا د يوره درست ملت او ټولنې په اړه به څنګه د سولې امر نه کوي او ولې به يې غوره نه ګڼي!؟جګړه نه يوازې د بايلوونکي لپاره؛ بلکې د ګټوونکي لپاره هم د خطر چيغه ده. خو نن ورځ جګړييزه مفکوره د ځينو په اذهانو کې دومره ژوره تللې، چې د هر څه د بديل يوازينۍ لار يې بولي. حال دا چې داسې نه ده. جنګ بدرنګ دی او بدرنګ خلک يې ښکار او ښکېل وي. جنګ د نن او صبا ورځې تباهي ده او اغيز به يې راته د نن په پرتله،صباپه ښه ډول د درک وړ وأوسئ.

په افغانستان کې چې له ۴۰ کلو را په ديخوا جګړه روانه ده، ولس مو تر بل هر څه سولې ته ډېر ليواله دی او نور له دې جګړييز وضعيت ستړی شوی دی. سوله نه يوازې نبوي سنت، بلکې د بشر اړتيا او فطري غوښتنه هم ده. سوله ژوند دی او ژوند د خدای جل جلاله له خوا هر ژوندي ته نعمت او ډالۍ ده، چې له هغه جل جلاله پرته يې بل څوک ترې د اخيستلو حق نه لري. سوله د پرمختګ او سوکالۍ زيری دی. په سوله کې کاري فرصتونه ډېرېږي، خلک له فقره خلاصيږي، رغونه کيږي، عامه آسانتياوې را منځته کيږي، عدالت او انصاف پلی کيږي، هر انسان له خپلو اسلامي، انساني او قانوني حقوقو څخه برخمنيږي. سوله نه يوازې نن زمونږ اړتيا ده، بلکې د شريعت او عقل تقاضا هم ده. سوله ټولو شرعي ظوابطو، اخلاقي اصولو او نړيوالو قوانينو ته په کتو زمونږ مسلم حق دی او ترې غاړه غړوونکي، له ټولو شرعي، قانوني او بشري قوانينو مخالفين دي. نو د جګړې له ښکېلو غاړو مې غوښتنه دا ده، چې تاسې مو د سولې په خوږه ډالۍ ونازوئ؛ روزي به خدای جل جلاله را کوي. له يوه طرفه به مو د خدای جل جلاله د نعمت چې ژوند دی، شکرانه ادا کړې وي او له بلې خوا به د ژوند په خوند پوه شوي وو. هم به الله ﷻ درنه راضي شي او هم به دا مظلوم ملت درنه خوښ او دعاګوی وي.

**جګړه د حل لار نه ده!**

جګړه نه داچې د حل لار ده، بلکې د یوه ملت او ټولنې سېستماتیکه تباهي هم ده، چې تېره څلوېښت کلنه جګړه ددغه موضوع روښانه بېلګه بلل کېدای شي. ډېر کله جګړه کیږي نه، بلکې جګړه د افغانستان په څېر په بې وزله هېوادونو او ولس تپل کیږي او له دې لارې یې شتمن هېوادونه خپلو موخو ته د رسېدو لپاره د ابزار(وسیلې) په بڼه کاروئ، چې دا جګړه بیا د بې وزله هېوادونو لپاره د ډېرې ناخوالو زېږنده اوسئ. دغه ډول جګړې بیا ډېر کله په هغه هېواونو تپل کیږي، چې په ملي او نړیواله کچه د سالم سیاسي مؤثر او ممثر مدیریت په نه شتون د بې اتفاقۍ په خپلمنځي رنځ د روږدي والي تر څنګ په کور دننه په مذهبي، قومي او سیاسي کشمکش او کړکېچ کې ښکېل وي.

د تېرې پېړۍ په وروستۍ لسییزه کې، چې د سړې جګړې د پای موده وه، نړۍ د مهمو سیاسي او اقتصادي بدلونونو شاهده وه. په ځینو وروسته پاتې هیوادونو کې قومي، مذهبي او سیاسي جګړو زور واخیست، تر دې چې د سیمې او نړۍ لپاره هم په جدي ګواښ بدل شول. ددې خطر د رفع کولو او د جګړو د ختمولو لپاره، چې د ډېرو تېریو او ناخوالو سره ملې وې، ددې اړتیا ورځ تر بلې ډېره احساس کېدله، چې د ښکېلو خواوو تر منځ اختلافونه په سوله ییزه لاره حل شي. د سولې په مذاکراتو کې یوه لویه ستونزه دا وي، چې د عدالت او سولې تر منځ کوم یو باید انتخاب شي. د جګړو د پای ته رسولو لپاره د فعالینو او د بشري حقونو د مدافعینو په منځ کې په دې ټکي اختلاف را پیدا کیږي. د جنګ د پای ته رسولو فعالین په دې ټینګار کوي، چې په فوري ډول د اوربند رامنځته شئ او په جګړه کې ښکېلې خواوې د مذاکراتو میز ته راوبلل شئ. دغه فعالین غواړي چې د خبرو او مذاکراتو دروازې خلاصې شي، د ښکېلو غاړو تر منځ د باور او اعتماد یوه فضا جوړه شئ او وروسته له دې وخت څخه د دایمي او تل پاتې سولې لپاره کار وشئ.

یعنې دغه ډله په پروسه ډېر زور اچوئ او په دې اړه تأکید کوئ، حال دا چې د بشري حقونو مدافعین بیا په نتیجه ډېر تأکید کوي، هغوي وایئ، چې دایمي او پخه سوله هلته رامنځته کیدای شئ، چې د جګړو په اصلي لاملونو باندې خبرې وشئ او د هغوي د محوه کولو لپاره قانوني چوکاټ او میکانیزمونه تعیین شئ. دوي فکر کوي، چې په معمول ډول په بشري حقونو تېری او د افرادو له بنسټیزو آزادیو او حقونو څخه انکار کول ددې لامل کرځېدلی، چې خلک خشونت او توتریخوالي ته اړ شي، نو له دې امله باید د بشري حقونو د اعادې او تأمین لپاره باید لار وسنجول شي، که غواړو چې دایمي سوله رامنځته کړو. خو په ټوله کې د افغان حکومت او افغان ولس لپاره سوله لومړیتوب دی او په هر قیمت چې وي باید ورته وړاندې شئ، ځکه پرته له سولې پرمختګ ناشونی دی او پرته له سولې ژوند له خطر سره مخ وي، نو چېرته چې ژوند له ګران شي، هلته به څه ډول د هوسایني چارې رامنځته او تکمیل شي؟ نو په همدې آساس سوله په ځانګړې توګه د افغان ولس لپاره لومړیتوب لري. د سولې او امن له برخمن کېدو وروسته به د سوکالۍ او هوسایني خبرې پایلې لري.

که څه هم تر ډېره بریده افغان جګړه نړیوال دلائل او سیمه ییزې انګیزې لري مګر که د افغان دولت او مخالف لوري تر منځ قومي مشران، ولس او رسنۍ په دې برخه کې بې طرفه او لازم رول ولوبوي، لرې نه ده، چې دا ولس به د سولې سرحد ته نیږدې شي. تېرو جګړو د افغان ولس د زړه زور اوبه کړی. هر هغه څوک چې په لوی لاس ددغه جنګ اوږدېدل غواړي، دوي دې په یاد ولري، چې د همدې اور لمبې به یې د کور تر انګړه رسیږي.

دا چې افغان ولس نور له جګړو ستومانه شوی، هر وګړی روحاً یا جسماً ځورول شوی، بې شمېره میندې بورې، بې شمیره بې پلاره شول، نور نو دې ولس ته د غم او ویر د زغم توان نه دی پاتې؛ نور نو د ددې وطن په بااحساسه او مکلف نر او ښځه لازم دي، چې ددې وطن د تل

پاتې افغاني سولې لپاره ګډ کار وکړي. خو بدبختانه به ووایو، چې دلته په افغان وژنه ویاړو، دلته په افغان وژنه مکافات کیږو، دلته مو د څوکۍ مزو ته د رسیدو لپاره ورور وژنه کړې او غواړو، چې له دې لارې د قدرت پر څوکۍ ډډه ولګوو، دلته واک ته د رسیدو معیار د ډېرو ټوپکو لرل او د وضعیت د لاپسې خرابولو د توان درلودل دي. په داسې حال کې چې په قدرت کې د مشارکت لپاره ډېرې نورې شرعي او قانوني لارې هم شته بیا نو ولې په کږو او ناسمو لارو کوښښ وکړو؟ زمونږ ټولنه سنتي او مذهبي تولنه وه او په داسې یوې زوړپالې ټولنه کې د یوه داسې تمدن تخم کرل، چې په لومړي ځل یې هره نوې پدیده پر ذهن د اغزیو په څېر لګیږي، آسان کار نه و. په افغانستان کې د نوي او زاړه تر منځ جګړه، د کلي او ښار تر منځ توپیرونه او د شعوري قشرونو تر منځ تفاوت پوټانشیل هغه عوامل دي، چې دلته زیاتره سیاسي نظریې له ټکر سره مخ کوي. د هېواد له خپلواکۍ وروسته افغانستان له یوې او بلې خوا د اخ و ډب مرکز پاتې شوی دی او که یو څه د آرام ساه یې هم اخیستې، یا د هدیرې امن و، چې د ژوند د حرکت څرک په کې کم و او یا یې هم موده ډېره لنډه وه.

په نړۍ کې د لویو لویو تمدونونو متمدن پرمختګ د مادي او عیني حالاتو په ترڅ کې رامنځته شوی دي. ښه به نه وي، که ووایو، چې اوسنی بحران یوازې د نړیوالو او بعضو شومو انسانانو د بدبینو ستراتیژیو پایله ده، بلکېپه دې برخه کې ځینې اوسني خوبوړي، غافل، حاسد او جامد افغانان هم ګرم(ملامت) دي، چې هم یې په ځان او هم پر نورو دغه ناتار نازل کړی، ځکه دوی حریص انسانان دي او په فردي هوساینه باور او عقیده لري، دوي په اصل کې د ټولنییزې هوساینې یا ملي ګټو په نامه څه نه پیژني، دوي ته یوازې او یوازې هغه څه مهم دي، چې په شخصي ګټو څرخي،دوي د فردي هوساینې لپاره ټولنییزې او ملي هوساینې قرباني کړي، دوي نه دا چې ځان هوسا نه کړو، بلکې ټولنه یې هم بدبخته کړه. په داسې حال کې چې، فردي هوساینه؛ په

ټولنيزه هوساينه کې نغښتې ده او ټولنييزې هوساينې ته کار کول؛ په اصل کې فردي هوساينې ته کار کول دي. برعکس په کمه کچه فردي بدبختي په ټولنييزه بدبختۍ ممکن ډېر اغېز ونه ښيندې، خو ټولنييزه بدبختي بيا په ټولنه کې په هر فرد په مستقيم يا غير مستقيم ډول اغېز پرېښودلی شئ. هغه چاته چې فردي هوساينه تر ټولنييزې هوساينې غوره او بهتره وي، دوی به حتمي مايوسه کيږي، ځکه مايوسي په هغه چا راځي، چې د ځان لپاره کار کوي او څوک چې ټولنيزې هوساينې ته کار وکړي هغه هېڅکله هم نه مايوسه کيږي.

دا چې ننۍ نړۍ تر پخوا ډېره پېچلې او له ستونزو ډکه ده؛ که غوره اقتصاد، سوکالي، هوښياره پاليسي، او سوله د انسانانو لاسته راوړنې وي؛ نو طبعأ؛ جګړې، جرايم او تېروتنې هم د همدوي د کړنو زېږنده دي. ډېر کله بې هدفه انسانان د هدف لروونکو انسانانو د موخو ښکار ګرځي اوبرخليک يې د دوي په واسطه ټاکل کيږي.

**سوله؛ الهي غوښتنه، نبوي سنت او بشري اړتيا**

سوله د افغانانو يوازينۍ هيله ده او تر بل هر څه ورته ډېر ليوال دي ځکه سوله او پخلاينه د سوکالۍ زيری دی او سوکالي د هرې ټولنې اړتيا ده. د جنګ پای او د تل پاتې سولې راوستل يو هنر ته ضرورت لري، چې دا هنر سياست دی او بس!

د جنګ او جګړو ګټل ممکن د بل جنګ پېلامه واوسي خو د سياست ګټل بيا ډېر کله د جګړو پای کيدلای شي. د سياست ګټل د جنګ تر ګټلو خورا ګران کار دی، که د جنګ په ګټلو کې فزيکي او نظامي توان ته اړتيا وي او يا هم په پرمختللې ټکنالوژۍ پورې اړه ولري خو د سياست ګټل بيا د هنر مقابله ده. سياست ريفورمونه او حکومت يې د پلي کولو لاره ده. سياست يوازې د واک منده او د اقتدار لوبه نه ده، بلکې سياست د عمل لوبه ده، لکه څرنګه، چې په شريعت کې نيت معتبر دی؛ همداسې په سياست کې عمل. په سياست کې د اختلاف ځای شته او وي

به، خو که چا په دغه لوبه او هنر په احساساتو پیل کړه؛ نو پوه د شئ، چې بایللي یې ده. د اختلاف ځپل او د مخالفت نه دزغمل؛ دواړه د سیاست لپاره زهر ګڼل شوي. سیاست په پوره حوصله، هوښیارتیا، هنر او زغم ګټل کیږي او مونږ ته دا ښیئ، چې د مخکې تګ لپاره باید څو قدمه شاتګ هم ومنو او یا د یو څه د لاسته راوړلو لپاره باید یو څه له لاسه ورکړو خو هدف یې یوازې او یوازې هغه څه دی، کوم چې د سوکاله ژوند لپاره اړین او د سوکاله ژوند عناصر تشکیلوي، جنګ به هرومرو وراني او تباهي ولري، خو هوښیار سیاست پښېماني نه لري.

همدا جګړه ده؛ چې فقر او فساد زیږوي، فقر بیا د علم په لاره کې خنډ دی، بې علمي بیا د ټولو بدبختیو مور او محراق ګرځي، چې لومړی په عامه پوهاوي او وروسته د ټولنې په هره برخه د پام وړ او مستقیم اغېز درلودلای شي.

خو بدبختانهزمونږ د ژوند خوږې شیبې او فعال وختونه د جنګ په لمبه لولپه شول، مونږ چې کوم څه؛ په کوم ډول غوښتل هغسې ونه شول او همدا مو د جنګ له برکته ول. مونږ ټوله ځواني د دغسې یوه ډګر او ستېج په موندلو تېره کړه، چې ملي موخو او ارزښتونو ته پکې ساه ورکړل شي خو بدبختانه په هغه کچه ونه شول کومه یې چې تمه وه، خو بیا هم مونږه مایوسه نه یوو او خپل قدمونه مو لاپسې ګړندیتوب ته چمتو کړي تر هغه چې دا ستړیاوې او مبارزې مو رنګ راوړي او په همدې امید به تر هدفه کار کوو.

دا چې ځوانان مو د ټولنې قشر او متې تشکیلوي او باید چې ورڅخه سالمه ګټه پورته شوې وای، خو بدبختانه چې، زمونږ د ځوانانو ځوان فکر، ځوانې هیلې، فکري او جسمي قوت نه یوازې په ټولنه کې د مثبت بدلون لپاره ونه کارول شو؛ بلکې همدې جنګ او جګړو له ځان سره ناهیلي او برعکس د ټولنې په وړاندې د ناسالمه کړنو ښکار وګرځیدلو. د حکومت نه پاملرنه ځوان نسل ته او هغوی ته د کار کولو د فرصت نه

برابرول هم ددې سبب شوي، چې ځوانان مو کور او کلی پرېږدي، په ټولنه کې د ځان او نورو مسؤولیتونو ته شا کړي او په بهر کې له ډول ډول ستونزو زغملو سره ژوند وکړئ او بالاخره په داسې وخت او شرایطو خپل وطن ته راوګرځي، چې هم په ځان او هم د ټولنې په اوږو بار شي، په نشه يي توکو روږدي او له ورته نورو ناخوالو ټولنې ته بله ډالۍ نه لري.

## د عامه پوهاوي نه شتون او اغېز يې

عامه پوهاوی هغه څه، هغو شیانو او پدیدو ته ویل کیږي، چې انسان ته پرې پوهیدل اړین وي. عامه پوهاوی انسان په دې پوهوئ، چې خپل حق او حقوق لاسته راوړي او د هغه څخه دفاع هم وکړای شي.د کار تر څنګ اړینه ده چې، نورو ته پوهاوی ورکړو او پوهاوی تر بل هر څه اړین دی، ځکه کله چې عامه پوهاوی په خلکو کې نه وي نو خامخا به يې په کړنو کې له هڅو سره، سره بې نظمي او تخلخل موجود وي. همدا د عامه پوهاوي شتون دی، چې د ډېرو نېکمرغیو لامل ګرځیدلای شي او نه شتون يې د هرې بدبختۍ عنصر دی.

هغه وخت چې انسان د خبرو کولو توان پیدا کړ، د نورو ژوندیو موجوداتو څخه جلا او په خپل منځ کې يې د یو او بل د پوهولو هڅې شروع کړې، چې عامه پوهاوی له همدې ځای څخه شروع شو.

د طبي څېړنو په آساس د انسان د دماغ په چپه طرف کې د ژبې د زده کولو قوت شته او د ژبې د تکرار محصول په علم بدلیږي. جان لاک هم همدې خبرې ته اشاره کوي (هغه تجربې چې انسان يې د ژبې په واسطه تکراروي په علم بدیلیږي.)

ځینې انسانان د دې پر ځای چې انساني فکر ولري، د انسان د نیکمرغۍ په هکله فکر وکړي بالعکس د هغه د تباهي په اړه سوچ

کوي، انسان ته هغه وخت انسان ویل کیږي، چې انساني عاطفه، غوره اخلاق، ادب او صداقت ولري.

د اروا پوهنې د څېړنو په آساس د ناپوهۍ او د عامه پوهاوي د نه شتون له کبله انسان ته یو لړ ستونزې پیدا کیږئ، لکه:

۱- انسان ته وېره پیدا کیږي.

۲- انسان بې پروا وي.

۳- انسان د پیښو په مقابل کې بې تمیزه وي.

سوله له جنګ سره تړلې ده، یعني په دې معنی چې د سولې ختم جنګ دی او د جنګ اختتام به په سوله راځي. د سولې لپاره د ښکیلو غاړو اراده اړین شرط دی او همدا د حل یوازینۍ لار ده. زمونږ د خپل سیاسي ممثر او مثمر مدیریت د کمزورۍ پایله ده، چې نن د ډول ډول او پرلپسې جګړو او بدبختیو شاهدان یوو. مونږ ډېر کله جګړه ګټلې خو سیاست مو بایللی که مونږ سیاست وګټو نو په اصل کې مو د بیا جګړې مخه نیولې، د سیاست ګټل د ډېرو ستونزو او ناخوالو پایله ده او جګړه په ټولنه کې د رنګارنګ ناخوالو زیږنده.

هره ورځ د نوي ژوند لومړۍ ورځ ده. اوس هم ناوخته نه دی خو که مونږ پخه اراده وکړو ځکه اراده د بري لومړی شرط دی. حال دا چې مونږ اوس هم اراده نه لرو، اراده له ځان سره د قوي هوډ په معنی ده او بل ته د پوهاوي په واسطه انتقال کیږي. عامه پوهاوی نه تنها په دې برخه کې بلکې په هره برخه کې مثبتې پایلې لري. همدا کړنه د عامه پوهاوي په بڼه چې (جنګ تباهي ده او سوله د پرمختګ لامل) به د جنګ د مخنیوي په برخه کې ډېره اغېزمنه تمامیږي او همدا د عامه پوهاوي مفهوم افاده کوي او برعکس نه ستون یا کمزوري یې لوی لوی تاوانونه درلودلای شئ.نو په دط آساس په ټولنه کې د ټولنییز کړکیچ د

هواري په برخه کې حکومت د عامه پوهاوي په برخه کې له ځنډ پرته د کار کولو ملي پروګرامونه د مرکز او ولایاتو لپاره په کار واچوي او جدي مراقبت او کنترول یې وکړئ، تر څو ممثر او مثمر تمام شئ. هغه کسان او ارګانونه چې په ټولنه کې د عامه پوهاوید خپرولو مسؤولیت لري او په دې برخه کې رغنده رول لوبولای شي:

۱- د مکتب یا پوهنتون استادان.

۲- رسنۍ.

۳- مدني ټولنې.

۴- سیاسي احزاب.

۵- روښانفکران( مطرح سیاسي یا علمي څیرې).

۶- حکومت

عامه پوهاوی په یوه ورځ، یوه هفته او یوه میاشت کې نه رامنځته کیږي، بلکې دا د کلونو - کلونو کار دی. د ټولنې له نورو افرادو سره خپله پوهه باید شریکه شي ځکه هر شی د نور سره په شریکولو ډیریږئ.د عامه پوهاوي یوه ګټه دا ده، چې خلک د خپل حق غوښتلو جرئت کوي او نه پریږدې چې نور یې پر بنسټیزو حقوقو تیری وکړي.

**د قدرت حرص د فساد لامل کیږي**

ننۍ نړۍ د سیالۍ ډګر دی، حرص او غوړه مالي پکې اوج ته رسېدلې. حریص انسانان د خپلو غوښتنو د تکافو لپاره غوړه مالي کوي او غوړه مال انسانان په ټولنه کې د هر ډول بدلون سره خپل ځان او کړه وړه عیاروي، ژر تر ژره یا په تدریجي ډول د د لویانو دربار ته په مکر او فریب لاره باسي. داسې کسان لکه د شمعې پتنګان پر شمعې تاویږي او راتاویږي او د خپلې درواغجنې مینې اظهار کوي، په داسې حال کې چې ریښتینې مینه او خدمت یې اراده نه وي او د بلې شمعې په لمبه ځان نه سوځوي، روغ رمټ ځان ترې باسي او د شمعې له ژړا سره د زړه له کومې همدردي او خواخوږي نه لري. داسې کسان کله نا کله مقابل طرف ته د خپل ناولي آرمان د تحقق او د بې ریا او ریښتیني خدمتګار په نامه دوکه ورکوي.

 دوي د خپلو شخصي ګټو د ترلاسه کولو یا تحفظ  په خاطر هر ډول نیرنګ ته پناه وروړي، په نرمه ژبه او ځوړند سر هر څه تر لاسه کولای شي. د دا ډول خلکو یوه ځانګړتیا داده، چې په ټولنه کې هر ډول بدمرغیو ته ډېرې ښې جامې وراغوندي، مقابل لوری غولوي او د ټولنې غوښتنې او اړتیاوې پټې ساتي، هغوي ته دا څرګندوي، چې هر څه په ښه ډول پر مخ روان دي، ددې ناوړه عمل په واسطه هغه چاته چې مسؤولیت لري، هغوي غافلوي. همدا رنګه خلک وطن او ټولنې ته د پرمختګ په برخه کې خنډ ګرځي. دوي د ټولنې او خلکو ناخوالو او ستونزو ته د لاسرسي په اړه پوهاوي نه لري. په ټولنه کې د دوي لېږې والی له اهمو چارو ضروري امر دی.

همدوي د ولس او خلکو تر منځ د واټن پیدا کولو لامل کیږي، ځکه دوي نه له خپلې ټولنې او خلکو سره مینه لري او نه یې د ګټو خیال ساتي او نه هم د ملي وحدت په لار کې خپل مسؤولیت تر سره کوي. غواړي هر څه د دوي د ګټو پر معیار راوڅرخي. ځاني ګټو ته په اجتماعي ګټو

ترجیح ورکوي. دوي یوازې او یوازې د خپل ځان په اړه فکر کوی، د خوارانو سلام ته ځواب هم نه وایي خو د ځاني ګټې په مقابل کې بیا سر او سینه دواړه ټیټوي او د قدرت والا د خوشحاله کولو او له هغه څخه د ګټې د ترلاسه کولو لپاره بیا دوه ځله خاندي. دا ډول خلک نه تنها په یوه ټولنه پورې محدود دي، بلکې په نړیواله کچه دا موضوع تر سترګو کیږي.

دا چې اوسنی نړۍ مکاره، فریبجنه او د سیالۍ ډګر ګرځیدلی؛وینې او تیل، سیاست او اقتصاد، مادیات او بریا سره تړل شوي.

نن نړۍ د سیاست له مسخه شوې بڼې سره لاس او پنجه نرموي. همدا حرص دی، چې، ډېر ځله له غیر مشروع لارې د ګټو د تر لاسه کولو لپاره انسان ته انرژي ورکوي. الله ج د انسان په فطرت کې (د شیطاني وسوسو اچولو د پاره) حرصد ازموینې د وسلې په ډول ځای پر ځای کړی دی. دا چې نن صبا یې ټول خلک په ظالمانو او مظلومانو ویشلی دي، همد ا حرص دی،(ظالمان له افراطه او مظلومان له تفریطه کار اخلی). دوی له اوله ظالمان او مظلومان نه دي خلق شوي، بلکې وروسته د مادي امکانانو او وسائلو په لرلو او نه لرلو بیا دوي ظالمان او مظلومان جوړ شوي. دوي د افراط او تفریط خواته مخه کړې. چې همدا هم د بدبختۍ یو لامل کېدای شئ، چې په سېستماتیک ډول خپل اغېز درلودلای شئ.افراطپه یوه کار کې له حده زیاتوالي او تیري ته ویل کیږي. داسې زیاتوالی او تېری، چې د یوه بل فرد یا افرادو پر حقوقي حریم په بې دلیله توجیهاتو یا په زور ظلم، زیاتي او تجاوز سره وشي.

له بدمرغه اوس افغاني ټولنه له دې خطرناکې پدیدې ځوریږي او دا پدیده په بیلابیلو ډولونو سره ټولنه د پرمختګ له لوړو پوړونو وروسته پاتې کوي.هر کله چې اعتدال تر پښو لاندې شو، هلته په ټولنه کې لوړې ژورې رامنځته او د بې ثباتۍ او وروسته پاتې والي سبب کیږي.

له بله پلوه حرص ټولنې او دولتونه هم د خپلو موخو د تر لاسه کولو لپاره په مشروع یا هم غیر مشروع لارو هڅوي، وینې بهوي، بشري حقوق پایمالوي، جنګي ضد جرمونه ترسره کوي.... یوازې د همدې لپاره، چې شخصي ګټې یې ترلاسه او خوندي شي. همدا د حرص ثمره ده چې، په ټولنه کې د پرمختګ خنډ ګرځي. هیوادونه که له یو بل سره سیالي کوي خو دا لوبه له پردیو سره یا په نړیواله کچه لوبوي، مګر مونږ بیا سیالي د تعصب په ډول او په ملي سطحه کوو؛ قوم په قوم،ټولنه لهټولنې سره او بلاخره په ژبني او نژادي برخه کې هم دا کار کړی،خو په اصل کې د ځان د تباهۍ او بربادۍ لامل دی او بس!

یوه بهرني چارواکي په خپله فیسبوک پاڼه په دې اړه داسې لیکلي وو:( روسیه له امریکا سره سیالي کوي، چین له روسیې سره سیالي کوي، هند له چین سره سیالي کوي، پاکستان له هند سره سیالي کوي، ایران له پاکستان سره سیالي کوي، سعودي له ایران سره سیالي کوي... خو افغانان له افغانانو سره سیالي کوي. همداسې ده؛ دلته د مختلفو اقوامو، ژبنی تبعیض، نژادي توپیر، د مختلف مذهبونو او ادیانو شتون په ټولنه کې د داسې کشمکش زیږون زمینه برابره کړې، چې دغه ملت یې د لوی بحران کومې ته غورځولی دی. البرټ انشټاین وایي: نړۍ خرابو خلکو نه ده خرابه کړې، بلکې هغه خلکو تباه کړې، چې خراب او ورانکاره کارونه وینئ، خو سترګې وربانديې پټوئ. همدا لامل دی، چې مونږ او زمونږ ټولنه د بدبختۍ په دام کې بندوئ.

که مونږ د ټولنیزې هوساینې لپاره کار وکړو؛ نه یوازې به مو دا چې ځان نېکبخته کړی وي، بلکې ټولنه به مو هم راسره په یو وخت سوکاله شوي وي. که دا کړنه له ځان څخه پیل کړو او بل ته یې د پوهاوي به ذریعه ولیږدوو، نو په اصل کې به مو هرڅه سم او صحیح شي. که فرض کړو په ټولنه کې یو شخص عالم، ثروتمند او بلاخره د خدایﷻ له ټولو نعمتونو څخه برخمن وي، مګر ده د ټولنییزې هوساینې پر ځای فردي هوساینې ته کار کړی وي خو په څنګ کې یې یو داسې ګاونډی

ژوند کوي، چې له لوړې او د ژوند له بیلا بیلو ستونزو سره لاس او ګریوان دی، دغه عالم، ثروتمند او نېکبخته انسان به ددغه فقیر بې علمه او فاسد انسان څخه ویریږي، تر څو دی یا دده زوی او یا هم د کورنۍ بل غړی د پیسو په مقابل کې اختطاف نه کړي، ځکه دی ممکن د اقتصادي مشکل په لحاظ دې کار ته زړه ښه کړي یا یې د پیسو په مقابل کې له منځه یونسي او له ډول ډول وېرو سره به خپل شرعي او قانوني ژوند ته اندیښمن اوسئ. همدا ددې ښکارندوي کوي، چې که په ټولنه کې یوازې فردي هوسایني ته ارزښت ورکړل شي او د ټولنییزه هوسایني لپاره کار له پامه وغورځول شي نو خامخا به دا ډول ستونزې له ځانه سره لري او که دا کرغیړنې کړنې مو همداسې دوام پیدا کړي؛ لرې نه ده، چې راتلوونکی به مو تر دې د بد او ناوړه وضعیت او حالت شاهد وأسي. بلاخره د ټولو بدبختیو حل؛ ټولنییزې هوسایني لپاره په اخلاص او صداقت یو د بل په څنګ کې کار کول دي اوهمدا مو د خلاصون او نیکمرغۍ زیرى دى او بس!

مونږ که اوس هم په دې وپوهیږو، چې خپل او ددې خاورې برخلیک بل څوک نه شي ټاکلی او لازمه ده، چې ددې کړنې لپاره اړ یوو او دا مو د نن مسؤولیت دی تر څو له دې ټولو بدبختیو ژر ځان وژغورو او که مو صبا ته دا کار وځنډوو، نو له دې ناخوالو او بدبختیو سره به یوه ورځ بله هم پاتې کیږو. هره ورځ د نوي ژوند لومړۍ ورځ ده، نو راځئ دغه ورځ له نن پیل کړو او که هر څومره په دې کار کې بیړه وکړو، نو په همغه اندازه به مو مخکې په ځان د خدایج له خوا نېکمرغۍ لورولې وئ. ځان او ټولنه به مو ژغورلي وي، له سیالانو سره به سیال او د تل پاتې سوکالۍ او آبادۍ په لور به مو نېک قدم اوچت کړی وي. ددې کار ترسره کول، کوم مالي قیمت ته اړتیا نه لري او نه هم د سر او یا ځان د بدیل پیل دی، بلکې یوازې او یوازې پخه او ټینګه اراده غواړي، له ځانه پیلیږي او بل ته د پوهاوي په واسطه سرایت کوي.

که وغواړو نن لاس په کار شو او اراده وکړو، نو د روښانه راتلوونکي لپاره به یوازې د شیبو انتظار کوو. دا کار ډېر آسانه او له زړه راښکوونې ډالۍ او ثمرې به خالي نه أوسي.

د ملت او ټولنې جوړول د خلکو کار وي او هغه ټولنه او ملت تل خوار وي، چې برخلیک یې د بل په لاس کې وی. زمونږ په ملت اوس د اولیګارشي نظام حکومت کوئ؛ دا هغه نظام دی، چې وړه فاسده، جابره، مکاره او ثروتمنده ډله په مطلق اکثریت حکومت کوي. د ملت په داسې نظام کې واړه خلک تل واړه پاتې کیږي او لویان ورځ بلې ته پړسیږي او په ملتونو کې دداسې نظامونو شتون د دوي د بې احساسۍ او بېخودۍ لپاره ښکاره نښه او افغان ملت یې ددې ادعا روښانه بېلګه ده.

ټولنییز فساد، تر انفرادي فحشأ ډېر مضر وئ. فساد ملي بنسټونه، لرلید او خوشبیني له منځه وړي؛ په داسې حال کې چې، فحاش خلک یوازې خپل اخلاقي تقدس، اصول او غزت ته صدمه رسوئ. د اقتصادي اصل په آساس: هر څیز د تکامل او پوره کېدو پیمانه لري، مګر اقتصادي تنده د پوره کیدو نه ده، څومره چې ډېریږي؛ د کمښت حرص یې زیاتیږي. ملتونه د اقتصادي اړتیاوو د تکامل لپاره، لنډې او اوږدې لارې لري. اوږدې لارې سختې مګر قانوني، مناسبې او خوندي وي، په داسې حال کې چې لنډې لارې د بې وزله او بېچاره خلکو په سرونو پښې ایښودل او منزل ته د ژر رسیدو په معنی دي. خو دا رسیدل به ضرور د خنډونو سره مخ وي او د کوږ بار منزل ته د نه رسیدو په معنی به ثبوتیږئ.

فساد لکه د واورې توپ؛ څومره چې لغړي په همغه اندازه به غټیږي. ویښ ملتونه د عقل او پوهې په استعمال د شخصیتونو په روزنه او لوړوالي کې کاروي، تر څو په انفرادي او ټولنییزه توګه د لویو او وړو ستونزو پر وړاندې معقول غبرګون خپل کړي او د هر ډول فساد په وړاندې ستره مبارزه تر سره کړي. دا کړنه هره ورځ په سعودي سیر روانه او اوسمهال کابو د اوج تر کچې رسېدلې ده، که ورته لازمه

پاملرنه ونه شي، ښايي راتلوونکی مو له ناخوالو او ستونزو سره مخ کړي. ددې لپاره، چې ددغه ستونزې په وړاندې مبارزه وشي، باید د عامه پوهاوي پراخه کمپاین پلی او عامه اذهان په دې برخه کې د فساد د شتون له ستونزو خبر او د نه شتون په صورت کې يې له ګټو آګاه شئ. بلاخره ددغه مضرې کړنې په وړاندې جدي مبارزه پکار ده تر څو له سرایت څخه خوندي وساتل شي. نن د نړۍ ۶ ملیارد خلک د فساد تر ډول ډول اغیز او چتر لاندې ژوند کوي. افغانستان هم د نړیوال شفافیت اداري له راپور سره سم د شمالي کوریا او سومالیا څخه وروسته دریم هیواد روڼ هیواد دی، مګر توپیر دادی، چې ددې هیواد یو شمیر زورواکي چارواکي غله او فاسد انسانان دي. نوره نړۍ بیا داسې نه ده، د نړۍ حتی ډېر بې وزله هیوادونه ددغه ناوړه کړنې په وړاندې خپلې متې بډ وهلی او لاس په کار شوي دي خو افغان ملت بیا ورته تسلیم او د خدای هیلې ته ورځې شپې صبا کوي.

کله چې په ټولنه کې اخلاقیات له منځه ولاړ شي، سیاسي جوړښت فاسد شي، ولږه ډېره شي او خلک بیکاره شي نو هله د فساد لپاره ښه زمینه برابره شي. بې وزله خلک د ورځني ژوند سره لاس او ګریوان شي او فاسد او جابر خلک بیا د خلکو بې وزلید فساد لپاره ښه فرصت ګڼئ.

**بېکاري**: د بشري حقونو اسلامي اعلامیه په خپله دیارلسمه ماده کې د کار، کارګر او د کار د امتیازاتو په اړه داسې صراحت لري:(کار هغه حق دی چې دولت او ټولنه يې د هر هغه چا لپاره تضمین کړي چې د هغه د سرته رسولو توان لري ، او هر انسان د وړ کار د انتخاب آزادي لري . داسې چې هم دده مصلحت او هم د ټولنې مصلحت تر سره شي، هر کارګر حق لري له امنیت، سلامت او نورو ټولنیزو تأميناتو څخه برخمن وي او هغه باید داسې کار ته اړ نه شي چې د کولو توان يې نه لري، او په زور کار ته باید اړ نه کړای شي او له هغه څخه ګټه وانه خیستل شي. هغه ته باید زیان ونه رسول شي، له توپیر پرته هر ښځینه او نارینه کارګر حق لري د هغه کار په مقابل کې عادلانه مزدوري تر

لاسه کړي چې سرته یې رسوي او له رخصتیو، بدلون، استحقاقي ترفیعاتو څخه د استفادې حق لري او په عین وخت کې وظیفه لري چې په خپل کار کې صادق او ریښتینی وي. که چیرې کارګرانو له ګومارونکو سره اختلاف پیدا کړ دولت وظیفه لري ددغه اختلاف د حل، د ظلم د له منځه وړلو او د حق د اعادې او په عدل باندې د پابندۍ لپاره پرته له دې چې د کوم لوري په ګټه فیصله وکړي).

دا چې کار بشري حق او اړتیا ده، په دې آساس دولت د ټولنې او خپلو خلکو لپاره د سوکاله او آرامه ژوند په رامنځته کېدو مکلف دی.

لکه څرنګه مو چې مخکې یادونه وکړه، جګړه د چاپېریال او جغرافیې په ټولو مړو او ژوندیو برخو خپل اغیز ښیندي او خامخا به د بشري ژوند په برخه کې رغنده رول لوبوي.

جګړه د نورو ناخوالو علاوه بیکاري هم زیږوي، بیکاري بیا فقر له ځان سره لري او فقر د رنګارنګ ستونزو لپاره لار هواروي، چې دا ستونزې بیا له ځانه د نورو ستونزو د زیږون سبب ګرځي او د ساري ناروغۍ په بڼه په ټولنه کې سرایت کوي. په دې مبحث کې به لومړی د بیکارۍ په لاملونو، اغیز او حل لارو خبرې وکړو.

**فقر او اغېز یې**

فقر او بې وزلي په ټولنه کې د یوه بل ستر ناورین په توګه یادولای شوو، چې بدبختانه له ۴۳ سلنې زیاته برخه افغان ولس ورسره لاس او ګریوان دي او ورځ تر بلې دغه کچه مخ په لوړېدو ده. دغه ناورین په جدي ډول زمونږ په ټولنه کې په ځانګړي ډول د نوي نسل په وړاندې د ګواښ وړ دی، چې کولای شي د ناامنۍ، بې ثباتۍ، مخدره موادو ته د لاسرسي او په هغه د روږدي کیدو، له هیواده بې صبرانه تېښته، کورني تاوتریخوالي، اداري فساد...سره نېغ په نېغه اړیکه ودرلودلای شي او په

دې برخه کې له ذکر شوو او نورو ناخوالو سره په پوره ډول مرسته وکړی شي.

د نړیوال بانک د راپور په آساس: د افغانستان په ښارونو او کلیوالو سیمو کې د ناامنیو له امله بې کاري او بې وزلي په بې ساري توګه ډېره شوې ده.

د سوداګرۍ او صنایعو خونه وايي، چې هېواد کې د ناامنیو او اختطافونو له امله سوداګر خپلې پانګې له هېواده وباسي، حکومت د خلکو په امنیت ساتلو کې پاتې راغلی او دې سره د عامو خلکو پر اقتصاد هم ناوړه اغېز کېږي.

د سوداګرۍ او صنایعو خونې مرستیال خانجان الکوزی وايي: «د هېواد امنیتي وضعیت ورځ تر بلې مخ پر خرابېدو دی، که وضعیت همداسې دوام وکړي، نو سوداګر به خپلې پانګې له هېواده وباسي او ټول ولس به له سختو اقتصادي ستونزو سره لاس او ګرېوان شي.»

خو د اقتصاد وزارت چارواکي بیا ادعا کوي، چې د هېواد اقتصاد د تېرو دوو کلونو په ترڅ کې ښه شوی او د نور ښه والي پر لور روان دی.

د کارګرانو اتحادیه بیا وايي، چې حکومت له خپلو وعدو سره سم خلکو ته کارونه نه دي موندلي او ډېری ځوانان، چې په دندو وو، د نوي حکومت په راتلو په یوه او بله بهانه له دندو ګوښه کړای شوي دي.

همدارنګه د ستراتیژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو د مرکز په حواله، چې د فقر او بې وزلۍ په برخه کې یې تر سره کړې، لاندې معلومات شریکوم:

تیره اوونۍ نړیوال بانک له افغانستان سره د بېوزلۍ/فقر د کمولو، په لرې پرتو کلیوالو سیمو کې د اقتصادي نظام پیاوړي کولو او د هیواد په ځینو سیمو کې پاکو اوبو ته د لاسرسي په موخه، ۱۲۰ میلیون ډالره

مرسته اعلان کړه. د دغو مرستو له کبله به شونې شي، چې نږدې درې نيم ميليونه افغانان پاکو اوبو ته لاسرسی پيدا کړي.




ماخذ: د افغانستان د اقتصاد وزارت او نړيوال بانک ګډه څېړنه او سروې ۲۰۱۱

## په ټولنه کې د ریښتیني رهبرۍ تشه

خوشحال خان خټک وايي:

چېرته پسې درومم، په کوم لوري به يې مومم؟

ورکه موندی نه شي، بې رهبره بې ځراغه

ډېر کله، په ټولنه کې د رهبرۍ تشه د یو لړ ستونزو د رامنځته کېدو لامل کيږي. په کارونو کې مو له هڅو سره، سره د رهبرۍ په نه شتون کې د کار پایله بې خونده او له هڅو سره یې توپیر محسوس او کمرنګه کوئ. دا چې ځوانان مو له یوه طرفه د ریښتینو هیلو ښکارندوی دي، له بلې‌خوا د ټولني د رهبرۍ د چارو وړ او مستحقین هم دي. همدارنګه رهبري په ټولنه کې یو له اړتیاوو څخه ده، چې موخو ته د رسیدو لپاره له ځنډ پرته آسانه او آرزانه لارې را پیژنئ، خو دا به هغه رهبرۍ وي، چې د نویو روشونو، تجربو، ملي موخو او ارزښتونو پر مټ ولاړه وئ، چې دین او دنیا دواړه پام وړ وګڼئ، توازن او برابرۍ ته ژمنه، له وارداتي اډیالوژیو بې پروا او له ځمکنیو حقیقتونو باخبره وي. ددې کار مخکښان که دا ځل ځوان پوتنشیل شي، پرته له شکه به یې پرېکنده اغیزې په ټولنه کې حس او مثمرې وي.دا ځل مو هیله ده، چې په ځوانانو ته دغه چارې وسپارل شي. مونږ هم پسې ودريږو او متې يې قوي او را ونغاړو. دا نسخه په نړیواله کچه یوه آزمويښت شوې تجربه ده. که مونږ دا ځل د خپلو شرایطو د تخصص له مخې او له تېرو تجربو څخه په ګټه اخیستنې سره، له ځوانانو سره په ګډه کار وکړو؛ نو ان شاءالله چې بریا به زمونږ وي. دا ځل مو ځوان نسل ته سترګې په لاره دي، ددوي په مرسته او دوي ته په امید به ټولنه د هیلو غوټۍ پرانیزي. راځئ په همدې هیله دا غږ په ګډ او منسجم ډول بدرګه کړو، چې د هیواد د اوسېدونکو لپاره د ژوند او بیا ښه ژوند حق غواړو، دا ځل به ستر تصمیمونه نیسو او سترې بریاوې به خپلوو.

دا ځل مو د ریښتیني رهبریت لپاره، ځوانانددغه دروند مسؤولیت لپاره غوره کړي او په دغه نوم مو نومولي دي. ځکه په تېرو، بې باوره شوو او نور د ولس لپاره د دا غټو، غټو خلکو دا لویې، لویې خبرې؛ سترې دعوې او اوږدې پرېږې د اوبو پر مخ ایستل شوې کرښې وې او بس!

هغه څوک، چې د ولس د استازیتوب او مخکښی دعوې کوي، په زړونو کې یې ریښتینولي او امانت قتل شوی. هغوي، چې د سیاسي مشرانو په حیث پېژندل شوي، خو په عمل کې د ملت، وطن او ټولنې پر سر معامله ګر تجاران ختلي دي. هغه چوکاټونه، چې د سیاسي ډلو په نامه پېژندل شوي وو؛ ډېرکله د اشخاصو په شخصي شرکتونو اوښتي دي.

زما په نظر، ځوانان ددغه مسؤولیت لپاره، چې رهبري ده؛ وړ کدرونه دي، له دوي سره په ګډه او پوره همغږی په ټولنه کې د ټولو ناخوالو او بدبختیو په وړندې مبارزه زمونږ دیني او ملي وجیبه ده. همدا ځوان پوتنشیل دی، چې د معقول ځواک په معنی کارېدلای شي. له دې قوې ګټه اخیستنه به ممثر او مثمر اغیز په ټولنه کې درلودلای شي او دا محرکه قوه باید، چې هر څومره ژر وي، ګټېاخیستنې ته وړاندې شئ، ځکه دا وطن او خلک ژغورل غواړي او دا ژغورل به ځوانان پیلوئ. نور مو له هغه چا تمه شلېدلې، چې نامونه یې کرینګ نه شي پورته کولای. دا ځل به د ژغورنې لپاره؛ په وروستي ځل، ریښتیني، په کار پوه او د عمل ځوانان دغه ډګر ګټئ.

**بشري حقونو ته نه پاملرنه**

بشري حقونو ته نه پاملرنه او د هغه نقض کول یو له هغهو موضوعاتو څخه دي، چې په ټولنه کې د ډول ډول ستونزو او ناخوالو د رامنځته کېدو لامل کیدای شئ. بشري حقوق له دوو کلیمو څخه ترکیب شوي دي، بشر او حقوق ، له بشر څخه هدف انسان دی؛ هغه که د هر قوم، رنګ، ژبې، نژاد، جنس، مذهب او ډلې پورې اړه ولري او حقوق د حق

جمع ده، چې د رېښتیا، د باطل ضد، عدل، احسان، حقیقت، واقیعیت... معناوې لرلای شئ.

نو په دې آساس بشري حقوق په دې ډول تعریفولای شوو: بشري حقوق هغه حقوق دي، چې د انسان فطري، لازمي او نه بېلیدونکې ځانګړتیاوې، چې د انساني کرامت او انسانیت پر آساس لري.

پس بشري حقوق عمومي او نړیوال دي او همدا حقوق د یو لړ حقوقو او آزادیو ټولګه ده، کوم چې د شخصي، فرهنګي او اجتماعي ژوند په ساحو کې د انسان د ژوند آساس جوړوي او د انسان له ژوند څخه یې بېلوالی ناممکن وي او هر انسان د انسانولۍ او په ټولنه کې د غړیتوب په آساس له هغې څخه برخمن وي او نه شي ولای، چې پرته له هغه څخه ژوند وکړي. نو په همدې آساس د بشري حقوقو موضوع او اصلي ماهیت انسان، انساني کرامت او د هغه اړونده حقوق دي.

د افغانستان د ۱۳۸۴ لمریز کال د بشر د حقوقو د خپلواک کمیسیون د تشکیل، دندو او واکونو د قانون د څلورمې مادې پر آساس د بشري حقوقو مفهوم داسې افاده شوی (ددې قانون په مفهوم د بشر حقوق، د اتباعو د هغو بنسټییزو حقوقو او آزادیو څخه عبارت دي، چې په آساسي قانونه، نړیوالو اعلامیو، میثاقونو، قراردادونو، پروتوکولونو او د بشر د حقونو په نورو نړیوالو سندونو کې، چې افغانستان یې په پام کې نیولو او تطبیق ته ژمن دی، تسجیل شوي وي). ۵۰، مخ ۵۴ لنډه دا، چې دا هغه حقوق دي، چې قرآن کریم ۱۴۰۰ کاله مخکې مونږ ته په ډېر واضح او صریح ډول بیان کړل.

**تروربزم او په ټولنه کې يې اغېزې**

د څو لسيزو را په دېخوا زمونږ هيواد د ناعلاجه ناروغۍ په بستر پروت دی. ددې لاعلاجه ناروغيو له جملې يو هم تروربزم دی، چې نن ورځ ورسره نړۍ او په ځانګړې توګه افغانان لاس او پنجه نرموي. دا پديده په ټولنه کې په ځانګړي ډول په اقتصادي او سياسي بهير د پام وړ اغېز درلودلای شئ. دا هغه څه دي، چې مونږ يې د وېير او وحشت په ټغر کېنولي يوو. خصوصاً په سياسي او اقتصادي برخه کې يې زمونږ د پرمختګ په لاره کې خنډونه را پورته کړي دي. دغه پديده د هرې سيمې د ظرفيتونو او شرايطو په نظر کې نيولو سره خپل اهداف ټاکي او په همدې آساس د وخت او زمان سره تغيير مومئ.

هر هيواد د خپل مفاد او مضار په آساس ورسره تعامل کوي، د تاريخ په اوږدو کې که دغه پديدې ته نظر وشي، تل د اقتصادي او سياسي موخو لپاره کاورل شوې ده. دغه پديده تل په يو واحد عمل کې نه پاتې کيږي او نه هم يوه واحده ډله يا اډيالوژي لري.

تروربزم نن ورځ د نړيوال سياست يوه مهمه موضوع ګرځېدلې ده؛ او هر دولت يې د خپلو ګټو په آساس تعريفوي، چې همدا علت دی، چې د تروربزم څخه د يوې سياسي وسيلې په توګه کاروي او له همدې لارې دولتونه خپلې شومې موخې توجيه کوي. ځينې پرمختللي هيوادونه د اشغال پر ضد مبارزه تروربزم نه بولي خو همدا موضوع بيا د بې وزله دولتونو لپاره برعکس فورمول دی. دا پديده په همدې خاطر يو ځانګړی تعريف نه لري، چې دا پديده د مختلفو ملتونو لپاره مختلفې معناوې لري.

دنړۍ پيچلي وضعيت، اشتراکيت او نړيوالتوب انګيزو ته په کتو بايد د ملګرو ملتونو جوړښت او د نړۍ ټول هېوادونه د تروربزم د له منځه وړلو په لار کې خپل خپل ځانګړی مسؤوليت اداء کړئ. تروربزم نه خپل پېژني او نه پردی، نه ماشوم او نه غټ، نه مذهب او نه کلتور، نو ځکه خو دداسې يوه ګډ دښمن په وړاندې قاطع واحد دريځ رامنځته کېدل

حتمي دليل دی. شتمن هېوادونه بايد د بې وزله هېوادونو له ګرېوانه لاس وباسئ او پس له دې د خپلو موخو لپاره بې وزله هېوادونه د تروريزم سره د مبارزې او بهانې په توګه کاروي. تروريزم د لېوه بچي ته ورته دی، چي څومره غټيږي نو خطر يې زياتيږئ. که دغه پديده په لوړه کچه د دولتونو په سطحه په پټه خپلې موخې لري، خو بدبختانه د ټولنې بې وسه او مظلوم ولس خپلو موخو ته د رسېدو لپاره د ابزار(وسيلې) په بنه کاروئ. که دغه کرغېړنه پديده يو تخنيکي ماشين فرض کړو، نو د بې وسه خلکو وينه ورته د کار کولو لپاره د انرژی حيثيت لري.

تروريزم تشدد Violence دی، چې په ځانګړي ډول يې هدف ملکي وګړي وي، د حملې لپاره د مخفي ميتودونو څخه کار اخلي، لکه په موټر کې د بمونو ايښودل يا د الوتکې اختطاف کول او په عامه ډول پر سياست اغيز ښيندئ. نو د تروريزم د پېژندلو لپاره ويلای شو، چې: تروريزم د ملکي وګړو او ملکي تأسيساتو په نښه کولو سره يوې ډلې خلکو ته تاوان په دې موخه رسوي، چې په بله ډله کې وېره رامنځته کړي. ددغه کړنې هرف يوازې وژل او زخمي کول نه دي، بلکې اصلي موخه يې دا ده، چې په هغه خلکو کې وېره او مايوسي خپره کړي، چې د دوي تروريستي کړنه ويني او يا هم د هغه په اړه د رسنيو يا بلې لارې خبريږي. که څه هم تکتيکونه يې سره ورته دي، خو بيا هم په ملي او بين المللي کچه سره توپير لري. داخلي تروريزم د داخلي خلکو له خوا د داخلي وګړو په نښه کول دي، حال دا، چې د بين المللي تروريزم په برخه کې نړيوال رول لوبوئ.

په ټوله کې نن ورځ تروريزم د يوې سياسي وسيلې په توګه کارول کيږي، خو مهمه او د بحث وړ موضوع دا ده، چې ددغه پديدې په وړاندې څه کول پکار دي؟ ترڅو يې د موخو ښکار نه شوو او په وړاندې يې له سالم او اغېزمن مديريت څخه په ګټه اخيستنې، له ستونزو ځان وساتو. بدبختانه بايد ووايو، چې دې پديدې افغانستان په ځانګړي ډول په تېرو څوارلسو کلونو کې سخت وځپلو، د پوهې او پرمختګ په

برخه کې یې کلکې ضربې حس کړې او د ملي حاکمیت، ارضي تمامیت او خپلمنځیو اړیکو په برخه کې یې هم د پام وړ اغیز وښیندو. بدبختانه چې ددې کړنې په وړاندې مو بې پروایي ښودلې، حال دا، چې ددغه ستونزې حل په ملي وحدت، ګډه همکارۍ او له ګاوندیانو سره د ښه ګاونډیتوب په اصولو سره د باور په فضا کې ده، خو مونږ د یوه سالم او مؤثر سیاسي مدیریت په نه لرلو او له ګاونډیو سره په اړیکو کې د کمزورۍ له امله مونږ نه دا، چې ددې پدیدې په وړاندې مؤثره مبارزه کړې، بلکې د ګاونډیو او نړیوالو د ژورو ستراتیژیکو موخو ښکار هم ګرځېدلي یوو.د نړۍ ځینې هیوادونه باید بیا ځل خپله امنیتي محاسبه وکړئ او نور باید تروریزم په مقابل لوري د فشار د آلې په بڼه ونه کاروئ.

افغانستان له تېرې څلویښت کلنې جګړې تر اوسه د بهرنیو لاسوهنو له امله د ډېرو ستونزو سره لاس او ګریوان دی، افغاني قیادتونو دا توان پیدا نه کړ، چې د هیواد د ژغورلو او پرمختګ لپاره اغیزمن ګامونه اوچت کړي. دې جګړو او ناخوالو یوازې زمونږ سیاسي وضعیت ته صدمه نه ده رسولې، بلکه مخدره موادو استعمال، فقر، ناپوهي، د عامه پوهاوي له منځه تلل، فساد، ټولنیزې بې عدالتۍ، د ریښتینې رهبرۍ تشه،... هغه څه دي، چې مونږ ته یې له ځان سره ډالۍ کړل.د دغه بدبختۍ لاملونه ممکن زیات وي، خو په ټوله کې ویلای شو، چې ددغه پدیدې په چاغېدو کې بې اغېزې نه دي؛ یو لامل یې د ننۍ پرمختللې تکنالوژۍ څخه یې ګټه اخیستنه، اجتماعي بې عدالتي، تعصب او د حرص له وجې ځینې فاسد، جامد او حاسد انسانان د یادولو وړ دي. خو په ټوله کې ددې پدیدې سره مبارزه او له ګواښونو څخه یې د ټولنې او خلکو خوندیتوب د حکومت دنده ده او په دې برخه کې باید لازم او له ځند پرته ګامونه پورته کړي.

په ټوله کې ددې پدیدې د مخنیوي لپاره اړینه ده، چې دیپلوماسي، اقتصادي بندیزونه، سیاسي فشار، ټولنیز ذهنیت جوړونه، نظامي او

غیر نظامي وسیلو استعمال او نړیوال ګډون د یوې منظمې اوږدمهالې ستراتېژۍ له مخې وکارول شئ. باید ووایو، څومره چې د تروریزم په وړاندې مبارزه ځنډیږي، نو سختیږئ، ځکه خو لازمه ده سر له اوسه ټول کورني او بهرني شریکان په یوه منظم چوکاټ کې سره ګډ شي تر څو سیمه، نړۍ، هېواد او ټولنه ددې لوی خوربدوونکي تهدید څخه وژغوري.

**ټولنییزه بې عدالتي**

عموماً په یوه ټولنه کې د تراکم په آساس د نفوسو زیاتوالی یو له هغه ستونزو څخه دي، چې د ټولنې د وګړو لپاره ځینې وخت د هغوي د حقوقو د نقض لامل کیدای شي او په ټولنه کې د ټولنییزې بې عدالتۍ په بڼه ښکاره کیږي. همدا دلیل کیدای شي، چې مدني حقوقو ته یې لاسرسی ستونزمن شي او په دې برخه کې د ټولنې د وګړو ذاتي او مدني حقوق تر پښو لاندې شي. ټولنییزې بې عدالتۍ، په ټولنه کې د خلکو او حکومت تر منځ په واټن پیدا کېدو کې رغنده اغېزه درلودلای شي. د حل لپاره یې حکومت په هغه ډول لازمو تدابیرو اړ دی، کوم چې په اړه یې قانون وړاندوېینه کړې ده.

دولت باید ددغه پرنسیپ په نظر کې نیولو سره چې، ( یو د ټولو او ټول د یوه لپاره) کار وکړئ او همدا د عامه پوهاوي په بڼهپه ټولنه کې د خلکو تر غوږونو ورسوئ تر څو خلک هم په دې برخه کې دغه پرنسیپ د کړنو سره متوازن په نظر کې ونیسئ.

ټولنییزې بې عدالتۍ نه یوازې په ټولنه کې د خلکو په خپلمنځیو اړیکو کې ستونزې را ولاړوي، بلکې د خلکو او حکومت تر منځ په اړیکو کې هم د واټن پیدا کېدو لامل کیدای شي، دا چې د ټولنییزو ناخوالو حل او فصل د حکومت دنده ده او د خلکو سترګې لومړی د دوي لور ته اوړي، نو په دې اړه باید حکومت پرته له ځنډ اقدام وکړئ، تر څو چې په ټولنه کې د بې عدالتیو مخه ونیسي او هغه خلک محکمې ته را کش کړي،

چې په دې برخه کې تورن پېژندل شوي وي، تر څو له یوې خوا د دا ډول پدیدو څخه مخه ونیسي او له بل طرفه خپل اعتماد د خلکو په منځ کې ډېر او نور ته پند واوسئ.

ټولنیزې بې عدالتۍ ډېر کله پخپله د حکومت له لوري تر سترګو کیږي، خو هېڅکله د عام ولس له سترګو پټې نه شي پاتې کیدلای. لنډ مثال او کوچنی مثال یې په کومه دولتي اداره کې د خالي بست لپاره د امتحان ورکول دي. دا بست به د هغه چا لخوا اشغالیږي، چې یوازې واسطه ولري او پیسې یې مخکې له مخکې تحویل کړي وي، حال دا چې تر ده به ډېر وړ کدرونه د نوموړي بست لپاره امتحان ورکړی وي. همدا مو د ټولنیزې بې عدالتۍ یوه وړه بېلګه وه. په همدې آساس ټولنیزې بې عدالتۍ په ټولنه کې د خلکو په زړونو کې د رحم درلودل، مهرباني او مخلص کار کولو ذهنیت قتل کوې.

**بې اتفاقي**

بې اتفاقي په ټولنه کې د یو بل ستر ناورین په توګه یادولای شو، چې زمونږ په ټولنه کې یې له مختلفو لاملونو څخه په سرچینه اخیستلو سره ریښې غزولې دي. دغه ګړنه د سوکالۍ، امن او پرمختګ په برخه کې اغېزمن رول درلودلای شئ، چې په وړاندې یې باید جدي مبارزه وشئ او په خلکو کې د عامه پوهاوي په واسطه د دولت او په ممبرونو کې د دیني عالمانو له لوري له منځه ولاړه شئ. د یوې ټولنې ټولې ناخوالې،بدبختۍ،نارامۍ،ورانۍ،فرهنګي ورانښت،شاته توب،جهالت او تباهي د یوې ټولنې د بې اتفاقۍ،د یو بل نه منل، د یو بل نه زغمل،یو بل ته نه احترام او د یو بل څخه د قومیت،ملیت،ژبې،مذهب،سمت او فرهنګي ارزښتونو په لحاظ ځان پورته ګڼلو څخه سر چینه اخلي،چې همدغه مسائل مو هېواد د یو لوی بحران خوا ته بیایئ،هېواد مو ورانوي،فرهنګي ارزښتونه او تاریخي ویاړونه مو د پوښتنې لاندې راولي او بهرنیو کړیو ته دا زمینه برابروي، چې زمونږ فرهنګي، فکري، اقتصادي،سیاسي او نظامي وضعه تر یرغل لاندې راشئ.

نو په دې اساس موږ ټولو ته په کار ده، چې د بې اتفاقۍ له رنځ چې ساري رنځ ته ورته دی، ځان او ټولنه وژغورو. یو بل ومنو،د یووالي متې رابډ وهو،انسانیت ته تر قومیت،ملیت او ژبې لومړیتوب ورکړو او د دغو تورو تیارو څخه مو هیواد وژغورو، تر څو په انسانیت،شرافت،سړیتوب او اسلامیت ولاړ ژوند مو په برخه شي.

## پېنځم څپرکی

### چاپېریال ساتنه



هېواد پر اوسېدونکو حق لري، چې طبیعي او د انسان په لاس جوړ شوی چاپېریال پاک وساتي او د ښایسته کولو لپاره یې کار وکړي. له کوره نیولې د کار تر ځایه، د شاوخوا تر ځایه، پارکونو، سړکونو، ښونو، ونو او ځنګلونو، اوبو، چینو او کارېزونو، دښتو، غرونو او کانونو او بلاخره په ټولو هغه ځایونو چې په یو ډول نه یو ډول د انسان او نورو ژوندیو موجوداتو له پایښت سره مرسته کولای شي؛ پام وساتي. د هېواد د حقونو ساتل او د هغه درناوی کول پخپله د هېواد د خلکو د سره د مینې په مانا دي.

چاپېریال د ټولنې یوه احاطه او شاوخوا ده، چې په هغه کې یو سازمان یا تشکیل فعالیت کوي، چې په کې هوا، اوبه، طبیعي سرچینې، نباتات، حیوانات، انسانان او د هغوي تر منځ متقابلې اړیکې شاملې دي.

نو د چاپېریال د پورته تعریف څخه په ډاګه شوهو هغه څه چې په چاپېریال کې شامل دي د یوه او بل د بقا او پایښت لپاره اړین دي. پس اړینه ده، چې د ټولو هغه فعالیتونو مخنیوي وشي، کوم چې د چاپېریال د ککړتیا لامل کیږي.

چاپېریال ساتنه زمونږ ټولو ایماني دنده ده او باید په پاک ساتنه کې یې هره ورځ برخه واخلو او له ککړتیا یې وساتو. ددې لپاره چې مونږ په واضح ډول د چاپېریال د پاک ساتنې په اړه پوه او معلومات ولرو، نو لومړی د چاپېریال د ککړونکو عناصرو په اړه بحث کوو:

## ککړتیا(Pollution):



ککړتیا ټولو هغه بې کاره موادو ته چې په یوه چاپېریال کې ژوندیو موجوداتو ته د اختلال، نا انډولتیا نا راحتی لامل کیږي، وېیل کیږي.

ککړتیا کېدای شي د کمیاوي موادو په ډول وي یا د انرژۍ په ډول لکه: د غږ، ګرمی یا هغه رڼا چې چاپېریال ککړ کړي. ککړوونکي مواد هغه وخت د طبیعي پدیدو له پیښېدو وروسته رامنځته کیږي او هغه وخت ککړتیا ګڼل کیږي، چې ددې ککړتیا حد له طبیعي شمېرې زیات شي او یا هم ککړتیا ضایع شویو توکو ته وایي، چې هوا، اوبه او یا هم خاوره ککړه کړي. په دې وروستیو کې د کابل هوا داسې ککړه شوې، چې ساه اخیستل پکې ګران کار دی.

که څه هم په وروستیو څو کلونو کې د وربښت د لږوالي او په هېواد کې د ځلور لسیزو جګړو، چې ډېری ځنګلونه او ونې پکې له منځه تللي، د هوا په ککړتیا کې یې ځانګړې ونډه لرلې ده. په دې سربېره د هېوادوالو نه پاملرنه هم د په ککړتیا کې خپله برخه لري، چې د بې کیفیته سون توکو بې دریغه استعمال او د خامه سړکونو شتون دا ګواښ نور هم زیات کړی.

بل خوا تر ځمکې لاندې د اوبو کمښت او د سپټیک ځاګانو دېروالی چاپېریال نور هم ناولی کړی، چې د هېوادوالو لپاره د بې شمېره ناروغیو سبب ګرځېدلای دی.

په چاپېریال کې د ډېرو مضره موادو راغونډېدل اکثراً د انسانانو له لوري تر سره کیږي، د ککړتیا له امله یوه لویه اندیښنه د اوزون(O3) د طبقې د ضخامت کوالی دی او په دې طبقه کې د درز رامنځته کېدل په جنوبي قطب کې موجود دی.

د علومو او ټکنالوژۍ په پرمختګ د نفوسو په زیاتوالي په نړۍ کې د صنعتی انقلاب، صنعتي موا دو او ګودامونو رامنځته کېدل، واړه د ځمکې د کرې په ښاري چاپېریال کې د ککړتیا لامل ګرځي، چې ورځ په ورځ د وچ او اوبلن ایکو سیستم د ژوندیو موجوداتو لپاره د نورماله ژوند تېرول سختوي. په هره کچه چې په یوه ټولنه کې د وګړو نفوس زیاتیږي، ککړتیا، پاتې شونې، عضوي مواد، د فابریکو ګندګي او داسې نور هم زیاتیږي او د اتموسفیر چاپېریال، خاوره، د بایو سفیر طبقه چې اوبه هم په بر کې نیسي، ککړوي.

## د هوا ککړتیا (Air pollution):



که چېرې یو یا څو ککړوونکي توکي د ټاکلي غلظت سره د یوې مودې لپاره په هوا کې شتون ولري، هغه ډول چې انسان، نبات، حیوان او توکو ته زیان ورسوي او د ژوند د چاپېریال د کیفیت د ټیټېدو لامل وګرځي، هغې هوا ته ککړه هوا ویل کیږي.

د هېواد په ککړونکو توکو کې غازونه، د فابریکو لوګي، موټرونه، ماشینونه، راز راز بټۍ، بخارۍ د ډبرو سکاره، تېل، لرګي، طبعي ګاز، خاورې، دوړې او نور په کې شامل دي. لوګي او غازونه چې تولیدیږي لکه: کاربن مونو اکساید، سلفر ډای اکسایډ، د نایتروجن اکسایډ او ځینو هایدرو کاربنونو څخه عبارت دي.

### د اوبو ککړتیا(Water pollution):



د نړیوال سازمان له مخې اوبو ته هغه وخت ککړې ویل کیږي، چې د انسان د فعالیت له امله، په سیده او نا سیده توګه په ترکیب او خواصو کې یې داسې تغیر پیښ شي، چې ددې تغیراتو له امله یې د هغو مصرفولو لپاره چې مخکې په طبعي حالت کې کارېدل، نامطلوبې شي.

یا په بل عبارت: کله چې په اوبو کې بهرني توکي هغې کچې ته ورسیږي، چې کارول یې زیان ورسوي، ککړې اوبه ګڼل کیږي.

کمیاوي سرې او درمل  د اوبو د ککړتیا لامل کیږي، چې کارول یې بیا د زیان او ضرر پرته څه نه وي، چې دغه درمل او سرې د اوبو له لارې د کویانو او سیندونو اوبو ته ګډیږي او د ټولو د ټولو ژوندیو ژوو ژوند تر اغېزې لاندې راولي او په همدې توګه تر ځمکې لاندې اوبه د ککړو اوبو د نفوذ، خندقونو، د صنعتي فابریکو، پاټې شوني او فاضله اوبه چې په ځان کې بې دریغه کمیاوي توکي لري او هغه اوبه چې د موټرو، کالیو او لوښو د وینځلو څخه او هم د کرنیزو ځمکو د خړوبولو وروسته چې په ځمکه کې جذبیږي، د اوبو د ککړېدو سبب کیږي.

په دې آساس باید هڅه وشي، چېددې کمیاوي درملو د کارولو اندازه کمه او د اوبو مخه ونیول شي، تر څو د ځمکې لاندې اوبو سره شریکې شي.

**انځوریزه ککړتیا**

هغه انځورونه، چې د ښار ښکلا زیانمنوي، د انځوریزې یا تصویري ککړتیا په نوم یادیږي.

ټولې ککړتیاوې د ژوندیو موجوداتو، انسانانو، حیواناتو او نباتاتو په ژوند کې رول لري.

د نور خپرېدنه، د اواجو او مصنوعي سیارو له طریقه د نوري شبکو څخه د انځورونو خپرېدل، په کمپیوټر، مانیتور او تلویزیون باندې د رنګارنګ، تور او سپینو پردو کتل او هغو څراغونو څخه د ډېرو شدیدو وړانګو انعکاس، چې د پردو او دېوالونو پر مخ انځورونه ښکاروي، رنګه یا غیر عادي انځورونه ته ځیر کېدنه، چې دا ټولې په دوامداره توګه د انسانانو عصبي حیات او روغتیا ته زیان رسوي.

د فلمونو ننداره او د متحرکو انځورونو روښنايي ته په دوامداره توګه کتل، د سترګو د نور د استهلاک لامل کیږي او راتلوونکي زیانونه هم په خوا کې لري.

## پلاستیکي ککړتیا( Plastic pollution):



په نني صنعت کې پلاستیکي لګښت پرېمانه شوی دی، چې پلاستیک د پولي اتلین کمیاوي توکو څخه جوړیږي.

پلاستیکي ککړتیا په سمندرونو کې ژوندیو ژوو ته ډېر زیات زیانونه اړوي. هر کال په میلیونونو ټنه پلاستیک په سمندرونو کې غورځول کیږي، چې د زرګونو سمندریزو تي لروونکو، کبانو او الوتونکو د مړینې لامل کیږي. ویل کیږي هر کال ۴۰۰۰۰۰ سمندریز حیوانات د ۶،۴ میلیونه ټنه پلاستیک غورځولو له امله له منځه ځي. په سمندرونو کې دغه پلاستیکونه د ښکاریانو، ببرۍ چلوونکو او نظامي ځواکونو لخوا غورځول کیږي او دا چې پلاستیکونه نه هضمیږي او د هاضمې سیستم زیانمنوي، نو د حیواناتو او سمندري ژویو د مړینې سبب کیږي.

په دې آساس د پلاستیکونو د استعمال د مخنیوي لپاره باید پوره هڅه وشي او له بازاره د خپلو توکو د رانیولو لپاره باید د پلاستیکي کڅوړو پر ځای له کاغذي او رخطي کڅوړو څخه ګټه واخیستل شي، چې له یوه پلوه به مو د چاپېریال د ککړتیا مخه نیولې وي او له بله اړخه به مو د پلاستیکو نو لګښت کم کړی وي. په همدې توګه په هغه وخت کې چې توکي له بازاره رانیسو، له ځان سره باید تیوکریزه کڅوړه ولرو، هر هغه

څه چې اخلو پکې واچوو. که دا کړنه مونږ تر سره کړو، نو خامخا به د پلاستيکونو په لګښت کې کموالی راشي او همدارنګه که هڅې وال د پلاستيکي کڅوړو په ځای له کاغذي کڅوړو څخه ګټه واخلي، نو د چاپيريال په پاک ساتلو کې به يې خپله ديني او ملي دنده ادا کړې وي او په اصل کې به مو د بشر او هر ژوندي موجود ژوند ژغورلای وي.

## نفتي ککړتیا:



هر کال نیږدې ۳،۲ میلیونه ټنه څخه زیات عضوي نفتي مواد سمندرونو ته ورګډیږي او ددغه ککړتیاوو نیمه برخه طبعي بڼه د سمندریزو طبعي زیرمو څخه خپریږي او د هغه یو پر پنځه برخه د څاګانو د چاودنو د پایپ لاین د نلونو او تیوبونو له سوري کېدو او د بېړیو له پاتې شونو څخه دي او پاتې برخه یې په وچه کې د نفتي ضایعاتو او له خوشې کېدو څخه منځته راځي، چې له رودونو څخه په سندونو او سمندرونو کې تخلیه کیږي. ددغه دواړو عوامل سمندریز چاپېریال ملوث او ککړوي.

تر اوسه پورې نړیوالو دغې مسئلې ته ځانګړې پاملرنه نه ده کړې. اکثراً د نفت ویستنې کیشتۍ په سمندر کې سوځېدنې نفتي توکي سمندرونو ته ورغورځوي.

**د تودوخې ککړتیا(Thermal pollution):**

اتومي دستګاوې په ټولیزه توګه د سیندونو او رودخانو په غاړه کې جوړیږي، ځکه چې په زیاته کچه سړوونکو اوبو ته اړتیا لري. هغه اوبه چې د دستګاه د یخولو لپاره کارول کیږي، خپله تودیږي. په داسې حال چې تودوخه یې د لومړي حالت څخه ۱۰ درجې د سانتي ګرید په اندازه لوړیږي، چې دغه درجه د ګڼ شمیر سمندري حیواناتو لپاره مضره ده، له دې کبله اوبه د تودوخې د درجې ددغه بدلون، چې له اتومي فابریکو څخه آزادیږي او سمندرو نو ته رسیږي، د حرارتي ککړتیا لامل کرځي او همدارنګه په اوبو کې د اکسیجن محلول کموالي سبب کیږي، نوموړی کار د بحري اتومي نفت ویستونکو بېړیو چې په سمندر کې تګ راتګ کوي او د سمندري حرارتي ککړتیا سبب کیږي.

د معمولي او اتومي سیستمونو د یخولو لپاره د سیند او سمندرونو له اوبو څخه ګټه اخیستنه په اوبو کې موجوده ژوو ژوند باندې ناوړه اغېزه لري، په همدې توګه د هوا ککړتیا او په وچه کې صنعتي فعالیتونه، د موټرو زیاتوالی، د ونو او اوبو کموالی، د ځنګولو د له منځه تګ له امله رامنځته کیږي، چې په دې وسیله یې د تودوخې کچه لوړیږي او د ژوو په ژوند د پام وړ اغېزې لري، نو باید دا ډول کړنې د اړتیا څخه زیاتې نه کړو، چې له امله یې د اوسېدو چاپېریال ستونزمن کیږي.

**په چاپېریال کې زهري ککړتیاوې**
**د درندو فلزاتو ککړتیا:**

درانده فلزات خطرناکه ککړونکي دي، چې په ټولنیزه توګه د اضافي موادو او ناپاکه اوبو په واسطه بهرني چاپېریالونو ته ورګډیږي، که څه هم د درندو فلزاتو غلظت معمولاً ډېر کم، چې شاوخوا د یو میلیارد یوه برخه ده، په دغه ککړتیاوو کې زیاتره سیماب، مس، کادمیوم، نقره، نکل او سرب شاملیږي، په ځانګړو حالاتو کې نباتات او حیوانات په دې قادر دي، پرته له دې چې په ښکاره توګه زیان ویني په خپل ځان باندې ددغو فلزاتو غلضت تحمیلوي، مګر د انسان په خوړو کې ددغه عناصرو لګښت د روغتیا په برخه کې د اختلال سبب کیږي او حتا د مسمومیت لامل ګرځي. پوښته دا ده، چې انسان تر کومې اندازې دغه فلزات زغملای شي او سمندریز ژوي تر کومې اندازې پورې دغو فلزاتو ته په خپل غذایي رژیم کې اړتیا لري، البته ددې امکان شتون لري، چې د ژوندیو موجوداتو په بدن کې درانده فلزات کله DDT پوډر«ډای کلور-ډای فینول ترای کلورو ایتان» په غذایي زنځیر کې پورته خواته زیاتوالی کوي، همدارنګه کله چې له سمندر څخه معدني یا کاني مواد استخراجیږي، ککړتیا رامنځته کوي د منګانیز عناصر د فاسفیټ ټوټې او داسې نور له اوبو سره ګډیږي، چې دا په خپله د درندو فلزاتو ککړتیا ده.

**کورني صنعتي او کرنيزې ککړتياوې:**

نوموړې ککړتياوې په لاندې ډول سره دي:

- انساني او حيواني فضوله توکي.
- کارول شوي کمياوي توکي.

حشره وژونکي او آفت وژونکي په سمندرونو کې په متوازنه توګه کېدای شي، چې د بحري حيواناتو فاضله يا اضافي مواد په خپله تجزيه او په ښاري چاپېريال کې په نورمال او طبعي شکل د استفادې وړ موادو په توګه ور دننه شي، مګر تر يوه محدود وخت او زمان پورې هر کله چې اضافي او فضوله مواد په سمندرونو کې ور دننه شي په دې حال کې د استوګنې تشديد (Biological Magnification) را پيدا کيږي.

په سمندري چاپېريال کې ډېر عمده موندل شوي حشره وژونکي عبارت دي له:

- DDT
- آلډرين
- ډي ايل ډرين

د نړۍ په کثره هېوادونو کې د DDT کارول بند شوي دي، لنډه دا هغه ککړتياوې لکه د هوا، اوبو، خاورې غږونو، درندو فلزاتو، راډيو اکتيف وړانګو ککړتياوې، چې له ډول ډول زهرمو څخه منځته راځي. د انسانانو او نورو ژوو په ژوند باندې زيان رسونکې اغېزې لري، نو ځکه د چاپېريال په مسائلو باندې دقت او ځيرنه عامه پوهاوی زياتوي او خلک د چاپېريال ساتنې لپاره همکار او همغږي کوي، چې د ادارو مسؤولين د چاپېريال د تخريب له مبارزې سره چمتو کيږي.

**د افغانستان د ځينو ښارونو د ککړتيا لاملونه او حلارې**

که د ګران هېواد پلازمينې کابل، جلال آباد او ځينو نورو ښارونو ته پام وکړو، وبه ګورو چې هوا يې ګردجنه ده، دغه ګردجنه هوا د ټولو مېشتو وګړو په مخونو سرېښيږي، سترګې يې سوزوي او لاسونه يې ککړوي. موټر په ګردونو لمبوي او شاوخوا غرونه او سيمې په کې نه ليدل کيږي. په دې ښارونو کې د ليدلو اندازه، چې په کال ۱۹۸۰ ز کې نامحدوده وه اوس د کال په ډېرو ورځو کې کابو ۱۰۰ مترو څخه هم راکمه شوې، چې له دې ډلې څخه کابل اوس مهال د نړۍ تر ټولو ککړو ښارونو ښه کتار کې ځای لري. په کابل کې د ککړې هوا له امله د وګړو د وژل کېدو شمېر نظر نورو پېښو ته ډېر دی. د عامه روغتيا وزارت د خبرتيا له مخې کابو ۳۰۰۰ وګړي د ککړې هوا له امله په يو کال کې خپل خوږ ژوند له لاسه ورکوي.

همدا د خلکو نه پاملرنه ددې لامل شوې، چې د هېواد د پلازمينې او ځينو نورو لويو ښارونو هوا ورځ بلې ته ککړه شي او د هېوادوالو په ژوند مو مستقيمه اغېزه وکړي.

مونږ ته لازمه ده، چې د ګران هېواد د چاپېريال په پاک ساتنه کې مستقيمه ونده واخلو او پرې نه ږدو، چې د چاپېريال ککړتيا ددې لامل شي، چې د هېوادوالو ژوند مو په کې ستونزمن او يا له منځه لاړ شي.

**د ککړتيا په وړاندې د مبارزې لارې چارې:**

هغه لارې چارې چې د هغه په وسيله کولای شو، چې د هېواد په اوسنيو شرايطو کې د ککړتياوو کچه ټيټه کړو، په لاندې ډول ورته اشاره کوو:

1. کوم تېل چې هېواد ته را واردېږي، هغه بايد د نړيوال معيار سره برابر وي او د ټيټ کيفيت تېلو د را واردولو مخنيوی وکړو.

2. د سوو مبلایلو، لرګیو، د ډبرو سکرو، پلاستیکو او د ټایرونو د سوځولو نه مخنیوی او یا یې د کچې کمول او په بدل کې یې خلکو ته د ګاز او برېښنا آسانتیاوې برابرې شي.
3. خام سړکونه او کوڅې باید ټولې پخې شي، چې د دولت مسؤولیت دی.
4. د ترافیکو له لوري باید هغه زاړو موټرونو ته په ښار کې د ګرځېدا اجازه ور نه کړل شي، چې هوا او چاپېریال ته مضرر تماميږي.
5. د ښار سیمه باید پراخه شي او هغه خلک چې په غیر پلاني سیمو کې پراته دي، باید ورته انتقال شي، شنې ساحې زیاتې او تپې باید په نباتاتو وپوښول شي.
6. د هېواد په هر کور، کوڅه، د سړکونو غاړو او ګلدانونو کې نیالګي کښېنول شي.
7. د اګزوز لوګیو د بې خطره کولو د کتالیستي تبدیلونکو د نصبولو طرحه وړاندې شي.
8. د نقلیه وسایطو د اګزوز څخه د راوتونکو ککړتیاوو د کنترول د مرکزونو ایجادول.
9. د شخصي نقلیه وسایطو پر ځای د ټولنې د اړتیا سره سم د عامه نقلیه وسایطو ځای پر  ځای کول.
10. هغه کارخانې چې د ګاز رسولو شبکې په مسیر کې پرتې دي، د ګازي انرژۍ څخه ګټه او د نه امکان په صورت کې ښایي د سپکو او کم سلفر لرونکو محروقاتو څخه ګټه اخیستل پکار دي.
11. د کارخانو په اړینو برخو کې د ککړونکو توکو د کنترولونکو آلو نصب.
12. د کارخانو د فعالیت په څرنګوالي همیشنی نظارت.
13. په ګڼ مېشتو سیمو کې عمومي تشنابونه جوړول.

14. د ککړونکو توکو راټولول او په سمه توګه انتقال او له منځه وړل.
15. د صنعتي فعالیتونو لپاره د مناسبو سیمو ټاکل.
16. د اوسېدو ځایونو لپاره د سون توکو د مصرف لپاره د ګازو امکانات برابرول، تر څو د لرګیو د سون کچه کمه شي.
17. د لویو ساختمانونو، هوټلونو او ادارو څښتنان د دې خپلو مرکزونو حرارتي دستګاو په سمولو مجبور شي او د بله پلوه هغه اضافه او فاضله توکي چې د دوي د خوراک، څښاک او فعالیتونو په پایله کې تولیدیږي، یو خوندي ځای کې واچول شي او وروسته له ټولېدو څخه د دې  مربوطه اداري لخوا په یو ځای کې خښ شي، تر څو ککړتیا منځ ته رانه وړي.

دغه پورته لارې چارې، چې پورته وړاندې شوې عملي کول یې خورا ستونزمن دي او وخت ته هم اړتیا لري، ولې له حکومت سره په ګډه ټول وګړي په داوطلبانه ډول په کې برخه واخلي، تر څو پاک او سالم چاپېریال ولرو.

## شپږم څپرکی

### ستر او ملي شخصیتونه

افغانستان په خپله غېږ کې نومیالي مشران، غازیان، پوهان، لیکوالان او شاعران روزلي دي، چې هر یوه یې په خپل وخت کې خپلو خلکو او خاورې ته نه هېرېدوونکی خدمتونه کړي او نومونه یې تلپاتې کړي دي. د هغوي پېژندل زمونږ د ټولو افغانانو دنده ده او مونږ ته ښایي، چې د هغوي کارنامې یادې وساتو او ویاړ پرې وکړو.

### میرویس نیکه



میرویس نیکه نوموتو او ملي مشرانو څخه یو دی، چې له دښمنانو څخه یې د وطن په آزادولو کې ستر رول لوبولی دی، له همدې امله یې نوم زمونږ د هېواد په تاریخ کې په زرینو کرښو کې لیکل شوی دی. میرویس نیکه په ۱۶۷۳ ز کال کې زږېدلی دی، پلار یې ښالم خان نومېده، چې د هوتکو د قوم ملي مشر وو، مور یې نازو انا نومېده چې په اوداسه به یې خپل زوی ته شیدې ورکولې او پالنه به یې د اسلامي ارزښتونو په پام کې نیولو سره کوله.

میرویس نیکه په زلمي توب کې د وخت دودییز علوم لوستي وو. پښتو، دري او عربې ژبې یې ښې زده وې. له زده کړو وروسته یې سوداګري

کوله او په عین وخت کې به یې د خلکو له حال څخه هم ځان خبرولو. صفوي شاه حسین هغه وخت په ایران کې پاچاه وو، د گورجستان اوسېدونکی گورگین گورجي، چې نوی مسلمان شوی و، کندهار ته د خپل حکومت د استازي په توگه ولېږه. گورگین ډېر ظالم سړی و، په افغانانو به یې ظلمونه کول او وژل به یې. هغه وخت د افغانانو د غړ. اورېدلو څوک نه ول، پرته د میرویس هوتکي څخه. د میرویس خان څخه یې د میرویس خان څخه یې د مرستې غوښتنه وکړه، هغه هم د خپلو خلکو خدمت ښه گڼاه، سوداگري یې پرېښوده او د خلکو خدمت ته یې ملا وتړه.

میرویس خان ځان گورگین ته نیږدې کړ، خو هغه پرې شکمن شو او اصفهان ته یې ولېږه، چې هلته یې نظر بند کړي، هماغه وو چې شاه حسین صفوي میرویس خان نظر بند کړ، خو میرویس خان په خپل استعداد د اصفحان په دربار کې نفوذ وکړ، د میرویس خان پوهې او قوي منطق نه یواځې دا چې له بنده یې خلاص کړ، بلکې حج ته د تلو اجازه یې هم ورکړه او تر راستنېدو وروسته اصفحان ته راغی او له هغه ځایه یې گورگین ته د سلاکار او ښاروال په توگه د مقررۍ رسمي فرمان واخیست او کندهار ته راغی.

میرویس نیکه په کندهار کې د ولسي پاڅون لپاره یوه جرگه جوړه کړه او پرېکړه یې دا ډول وه، چې لومړی دې د بلوڅو، ترینو او کاکړو خانان دې ته وهڅول شي، چې صفوي حکومت ته له مالیې ورکولو ډډه وکړي، چې همداسې وشول. گرگین خپل شپږ زره کسیز لښکر ژوب او بلوچستان ته ولېږه، پخپله هم ورپسې رهي شو او له میرویس خان څخه یې هم وغوښتل چې ورشي، میرویس خان له اووه زره کسانو سره ورغی، د شپې یې په گرگین حمله وکړه هغه او د هغه ټول لښکر یې له منځه یووړ، په خپله یې د گرگین کالي واغوستل او عسلکرو یې د گرگین د عسکر کالي په تن کړل، کندهار د ښار ساتوونکو چې کله خپل عسکر ولیدل، د ښار دروازې یې خلاصې کړې او د ایراني پوځ په

وژلو یې پیل وکړ، ښار یې ونیو او ملي جرګه یې راوبلله. ملي جرګې په ۱۷۰۹ ز کال میرویس نیکه د خپل مشر په توګه وټاکه.

میرویس نیکه د ټاکل کېدو وروسته د کندهار دېوالونه ترمیم کړل، په ښار کې یې غله او وسله جمع کړه او په همدې توګه یې نور اصلاحات هم راوستل، لکه: د ملي ټولنې منځته راتګ، ابدالیانو سره یې د روغې جوړې تګلاره تعقیب کړه، بلوڅان یې وستایل، هند سره یې سوداګري پیل کړه، په پای کې په ۱۷۱۵ ز کال له دې نړۍ سترګې پټې کړې، چې د کړو خدمتونو له امله یې د نیکه لقب وګاټه.

**احمد شاه بابا ابدالي**



په تېرو لوستونو کې مو ولوستل، چې زمونږ ګران هېواد د نومياليو ټاټوبی دی، په خپله لمن کې يې پوهان، سياستوال، ليکوالان او شاعران روزلي، د هغوي په ژوند ليک پوهېدل او د هغوي د پښو په پلونو پل اېښودل زمونږ د راتلوونکي ژوند مشال دی. د پوهانو تګلاره، پوهه او تجربې د راتلوونکو نسلونو لپاره لارښوونه ده، په دې لړۍ کې داسې يو پاچا در پېژنو، چې پر واکمنۍ سربېره پر دين ولاړ، پر هېواد او هېوادوالو مين او د انسان په تېره بيا د مسلمان مينې او محبت د هغه په زړه کې ژور ځای درلود، دا واکمن د افغانستان ملي مشر او پاچا احمد شاه بابا ابدالي دی!

*ستا د عشق له وينو ډک شول ځيګرونه*
*ستا په لاره کې بايلي زلمي سرونه*

*تاته راشمه زړګی زما فارغ شي*
*بې له تا مې انديښنې د زړه مارونه*

*که هر څو مې د دنيا ملکونه ډېر شي*
*زما به هېر نه شي دا ستا ښکلي باغونه*

*که تمامه دنيا يو خوا ته بل خوا يې*
*زما خوښ دي ستا خالي تش ډګرونه*

*احمدشاه به دغه ستا قدر هېر نه کا*
*که ونيسي د تمام جهان ملکونه*

احمد شاه ابدالي د هرات د حکمران زمان خان زوی، په ختڼه ابدالي سدوزی و، ۱۱۲۲ ز کال يې نړۍ ته سترګې وغړولې، مور يې زرغونه انا نومېده، سره له دې چې د عمر له مخې کوچنی و، خو د خپل سلطنت په وخت يې افغانستان ته ستر خدمتونه کړي له همدې امله خلکو ورته د بابا لقب ورکړی دی.

احمد شاه بابا د اوسني افغانستان بنسټ اېښودونکی دی، هغه په افغانستان کې اداری، پوځي، مالي او مدني جوړښتونه رامنځته کړل او وزيران يې وټاکل، پر ۱۷۶۰ ز کال يې د احمد شاهي ښار په نامه د کندهار د اوسني ښار بنسټ کېښود، د کابل جنګي کلا يې ودانه او د هندوکش په شمال يې د تاشقرغان ښار او په سند کې يې د حيدرآباد د ښار بنسټ کېښود.

احمد شاه بابا د واکمنۍ په پیل کې کندهار، مشهد، اټک، ډیلي، پېښور، ډېره غازي خان، کشمیر، کابل، ملتان او هرات شامل وو او په همدې سیمو کې یې په نامه سیکه وهل کېده، احمدشاه متشرع، عالم او په دیني احکامو پابند سړی و، له شعر او ادب سره یې ځانګړې مینه درلوده. د پښتو اشعارو دیوان یې په ۱۳۱۹ هـ ش کال په کابل کې چاپ شو، چې په کې عشقي، تصوفي، حماسي او اخلاقي وینا په دوه نیم زره بیتونو کې راغلې او د شعر نامتو ډولونه لکه: غزل، رباعي، قطعه، مخمس او مربع لرلې.

په سیاست کې احمدشاه بابا تل د اسلامي ورورولۍ، نرمۍ او ملګرتوب پلوی و. په ډیلي، بخارا، خراسان، بلوچستان او سند کې یې له خپلو هم مهالو امیرانو سره د روغې له لارې سوله بیز چلن درلود.

احمدشاه بابا له فتوحاتو سره سره د مسلمانانو د وینو تویولو څخه ځان ساته، د جهاندارۍ په چارو کې یې له عدالته کار اخیسته، خلک یې د خپلو زامنو په ډول پالل، نو ځکه افغانان ورته بابا وایي، دا هغه لقب دی، چې میرویس نیکه او عبدالرحمن بابا څخه بل چاته نه دی په برخه شوی.

احمدشاه بابا جنګیالی فاتح و، خو ظالم، وژوونکی، لوټمار او ورانوونکی نه و، که یو کار به د روغې جوړې له لارې سرته رسېده نو د جنګ لاره یې غوره نه ګڼله. د شاه ولي الله دهلوي او د نورو هندي مسلمانانو د غوښتنې له مخې له ظلم څخه د هغوي د ژغورنې لپاره تللی و، ددې تر څنګ هغه نه غوښتل چې د خپل ملي قوت مرکز افغانستان پرېږدي او یا د جهاد فی سبیل الله خدمت د دنیوي غوښتنو تر سیوري لاندې راولي.

احمدشاه بابا د خپل ژوند په پای کې د پرلپسې سفرونو د کړاو له امله کمزوری او ۱۱۸۶ هـ ق کال د رجب په شلمه د جمعې په شپه وفات شو، چې د مړینې پر مهال ۵۱ کلن و.

## امیر شېرعلي خان



امیر شېرعلي خان یو روشن فکره او نوښتګر انسان و، نوموړی په افغانستان کې د نوي تمدن بنسټ اېښودونکی دی.

په افغانستان کې د نوي تمدن منځته راتګ د اروپا له صنعتي انقلابه پیل شوی، امیر شېرعلي خان د مشهور فیلسوف او پوه افغان سید جمال الدین لارښوونې په پام کې ونیولې او په حالاتو کې یې تړې ګټه واخیسته، امیر شېرعلي خان روسیې او ایران سره خپلې اړیکې د دوستۍ په بنسټ پیل کړې او عطاء محمد سدوزی یې د افغانستان د رسمیت پېژندلو لپاره بریتانوي هند ته ولېږه، وروسته یې پخپله له برېتانوي هند څخه لیدنه وکړه، په برتانوي هند کې ټکنالوجۍ او تمدن نوموړی یو شمېر اصلاحاتو ته وهڅاوه.

امیر شېرعلي خان د امیر دوست محمد خان درېیم زوی د پلار له وصیت سره سم د هغه تر مړینې وروسته د افغانستان پاچا شو، خو ډېر

ژر بیا د هغه د مشر ورور امیر محمد افضل خان لخوا د پاچاهۍ ګوښه کړای شو.

لومړۍ دوره کې له خپلو ورونو سره د اختلافاتو او جنګونو څخه وزګار نه شو، چې هېواد ته کار وکړي او ځینې اصلاحات منځته راوړي، خو کله چې دویم ځل(۱۸۶۸ـ ۱۸۷۸) ز کلونو کې واکمن شو او هغه وخت نړۍ کې صنعتي انقلاب په چټکۍ سره قدمونه واخیستل، امیر هم په هڅو لاس پورې کړ، چې پر مټ یې د نوي تمدن پېر پیل شو.

1. **اداري برخه:** حکومت یا اجرایه قوه رامنځته شوه، په رأس کې یې سید نورمحمد شاه فوشنجي صدراعظم، سپاه سالار حسین علي د دفاع وزیر، ارسلاخان د بهرنیو چارو وزیر، عصمت الله خان د داخلي وزیر، حبیب الله وردک د مالیې وزیر او محمد حسین خان د خزانو وزیر وټاکل شول او کابینه د صدراعظم تر مشرۍ لاندې جوړه او په دولتي چارو به خبرې او پرېکړې کېدې.
2. **پوځي برخه:** امیرشېر علي خان د هېواد د خاورې او خپلواکۍ د ساتلو لپاره یو لک کسیز منظم پوځ جوړ کړ، د یاد شوي پوځ غړیو ته به تر پوځي زده کړو وروسته د هماغه وخت وسله ورکول کېده او یونیفورم به یې اغوسته او په اتو پوځي مرکزونو کې ځای پر ځای کېدل. د وسلو جوړولو صنعت پرمختګ وکړ. توپ، ټوپک او باروت تولیدېدل، همدارنګه پوځي اصلاحات او قوماندې په پښتو ژبه جوړې او په پوځي نظام کې دود شوې.
3. **اقتصادي برخه:** د مالدارې او کرنې په برخه کې ډېره پاملرنه وشوه، پخوا مالیات ډېر درانه وو، بزګرانو او مالدارانو نه شوای کولای چې مالیه ورکړي، هغوي مجبور وو، چې د کال په لومړیو دریو میاشتو کې د حاصلاتو ته اخیستو د مخه د

پیشکي په توګه مالیه ورکړي. اصلاحات رامنځته شول، هغه صنایع چې خلکو ورته اړتیا درلوده، صنعتګران هڅول کېدل، تر څو کیفیت او کمیت یې پورته لاړ شي.

4. **فرهنګي برخه:** عنعنوي ښوونه او روزنه چې پخوا به په جوماتونو او کورونو کې تر سره کېده، د ښوونځیو په جوړولو سره په عصري ـ ښوونه او روزنه بدله شوه، ملکي او پوځي ښوونځي جوړ شول. په بالاحصار کې مطبعه تأسیس شوه. د لومړي ځل لپاره شمس النهار په نامه جریده په میاشت کې په شپاړسو مخونو کې دوه ځلې چاپېده او یو شمیر معلوماتي رسالې او اصول نامې هم چاپېدې، پوستي ټکټ چاپ شو او د پوستي خدمتونو لپاره هر ځای کې پوسته خانې فعالې شوې، د امیر شېر علي خان د وخت اصلاحات د دولتي چارو پر ټینګښت او د اقتصاد په ودې ډېر اغېز وکړ او د خلکو پر ژوند یې د پام وړ تغیر راوست. امیر شېرعلی خان د ځینو دلائلو له مخې په ولایتونو کې د انګلیس دایمي استازي منلي نه وو او تر دې وروسته د انګلسانو سره په سیاسي اړیکو کې محتاط و، خو د انګلیسانو لپاره د افغانستان او روسیې دوستي ښه پلمه وه، چې په افغانستان تېری وکړي. په پای کې د فبروري په ۲۱ د ۱۸۷۹ کال په مزار شریف کې د ۵۸ کلونو په عمر د نړۍ څخه سترګې پټې کړې.

## شاه امان الله خان



د امان الله خان ژوند لیک او هېواد ته یې نه هېرېدوونکي خدمتونه په یاد ساتل او ستایل زمونږ ملي وجیبه ده. هغه له خپل هېواد سره ډېره مینه درلوده، نه یې غوښتل چې هېواد یې د پردیو تر سیورې لاندې وي، آن له کوچینوالي یې آرمان و، چې هېواد یې خپلواکه وي او د پردیو له لاسوهنې پرته د خپلو بچیو پر مټ د پرمختګ پر لاره رهي شي او دا قافله په دې سفر کې تر نورو وروسته نه وي. د واک له تر لاسه کولو وروسته یې په دې لاره کې عملي ګامونه واخیستل، د هغه پر پل باندې پل اېښودل او له هېواد سره د مینې احساسات او جذبې پیاوړي کول د هغه د آرمانونو او هیلو د پوره کولو مانا لري.

هغه نوم چې له خپلواکۍ سره نه شلېدونکې اړیکه لري، هغه د علي حضرت غازي امان الله خان نوم دی. داسې کوم هېوادپال او ازادۍ خوښوونکی به نه وي، چې د افغانستان خپلواکي یې یاده شي او د ستر غازي امان الله خان نوم یې خولې ته رانه شي، امیر امان الله خان یو نومیالی غازي، د هېواد د خپلواکۍ ګټونکی او هېوادپال رهبر و. شاه امان الله خان غازي روڼ اندی، د نظر خاوند، متواضع او زړه سواندی انسان او د هېواد په خپلواکۍ او پرمختګ مین پاچا و. له خلکو او روڼ

اندو سره د هغه چال چلن آن تر پاچا کېدو د مخه د خلکو په خولو کې پروت او هغه يې د خلکو زړونو ته نېږدې کړی و.

د افغانستان پر خلکو د امان الله خان تر کوچنی حق د هېواد د بشپړې سياسي خپلواکۍ تر لاسه کول دي، که چېرته هغه د انګرېز پر ضد خلک پاڅون او جهاد ته نه وای رابللي او د انګريزانو سره يې جوړجاړی کړی وای، ښايي د عمر تر پايه به پاچا و، خو هغه د خپلو خلکو او هېواد په سر او خپلواکۍ مين و. د هېواد تاج او تخت يې د هغه د خپلواکۍ په لار کې پرېښود او د عيدګاه په لوی جومات کې يې د تاج د پرسرولو په لومړۍ اونۍ کې د بشپړې خپلواکۍ د اخيستلو وينا وکړه، خپله پاچاهي يې د هېواد په بشپړه خپلواکۍ پورې اړوند وبلله.

خکلو ته يې په وينا کې وويل(( لومړی د خپل ملت رېښتينو او نجيبو خلکو ته زيری ورکوم، چې ما د افغان سلطنت تاج د افغانستان د کورنۍ او بهرنۍ واکمنۍ په نامه پر سر ايښی دی.)) وروسته يې له خپلواکو افغانانو وغوښتل، چې له ده سره د دې ملي او ستر آرمان په پوره کولو کې مرسته وکړي. بل ځل امان الله خان د عيدګاه په جومات کې په داسې حال کې چې د عسکرۍ جامې يې پر تن وې، په يوه وينا کې سرتېرو، مامورينو او د کابل ښاريانو ته وويل(( زما ګرانه ولسه! زه د سرتېري دا جامې تر هغه پورې له خپل تن څخه نه کاږم، تر څو مې مورنۍ مينې ته د خپلواکۍ جامې نه وي ور اغوستې، زه دا توره تر هغه په تيکي کې نه ږدم، تر څو مې د هېواد پر حقوقو ګېډه اچوونکي پر خپل ځای کښېنولي نه وي، اې زما ګرانه ولسه او اې زما سربښندونکو سرتېرو! د خپل هېواد د ژغورلو لپاره خپل وروستني شته راوړئ، راځئ چې خپل له غيرت څخه ډک سرونه د خپل هېواد د آزادۍ لپاره وښندو.))

کله چې امان الله خان ته څرګنده شوه، انګرېزانو د يو خپلواک هېواد او د نړۍ له نورو خپلواکو هېوادونو سره په مساوي حقونو د هېواد په توګه د رسميت پېژندلو په اړه دې غوښتنې ته ځواب ونه وايه، نو د کابل په

دربار کې یې د ۱۹۱۹ ز کال د اپرېل په ۱۳ مه په داسې حال کې چې د انګرېز سفیر هم ناست و، وویل((ما خپل ځان او هېواد د کور دننه او د باندې په بشپړه توګه خپلواک اعلان کړ، له دې وروسته زمونږ هېواد د نړۍ د نورو دولتونو او قدرتونو په څېر خپلواک دی او هېڅ ځواک ته د یو ویښته په اندازه حق نه ورکول کېږي، چې د افغانستان په کورنیو او بهرنیو چارو کې لاسوهنه وکړي او که څوک دا کار وکړي، ورمېږ به یې په دې توره ورېبم)) وروسته یې مخ د انګلیس سفیر ته واړوه او ورته یې وویل((زما په خبره وپوهېدې؟)) هغه په ډېر درناوي ورته وویل((هو پوه شوم)).

**لنډ ژوند لیک:** امان الله خان په ۱۲ کلنۍ کې په عین الدوله ونومول شو او په ۱۹۱۳ ز کال کې یې د محمود طرزي له لور ثریا سره د شهر آراء په ماڼۍ کې واده وکړ او په ۲۷ کلنۍ د ۱۲۹۷ ل کال د(۱۹۱۹ د فبرورۍ په ۲۷) د جمعې په ورځ د افغانستان پاچاهۍ ته غوره شو. هغه له لس کلنۍ پاچاهۍ وروسته د ۱۹۲۹ ز کال د مې د میاشتې په ۲۴ مه نېټه دې ته اړ اېستل شو؛ چې هېواد پرېږدي او ایټالیا ته ولاړ، وروسته له ۳۱ کلونو د بې وزلۍ ژوند له تېرولو د ۱۹۶۰ ز کال د اپرېل د میاشتې په ۲۵ مه چې د ۱۳۳۹ کال د غوایي د میاشتې له ۵ مې سره سمون خوري، د سویس په هېواد کې د سترګې د ناروغۍ له امله ددې نړۍ څخه سترګې وتړلې او د هغه د وصیت پر بنسټ، جنازه یې افغانستان ته راوړل شوه او په جلال آباد کې د خپل پلار تر څنګ خاورو ته وسپارل شو.

### د شاه امان الله خان خدمتونه

غازي امان الله خان د خپلواکۍ د بیرغ د ترلاسه کولو څخه وروسته په دوهم ګام کې د افغانستان ملي یووالي د بنسټ ټینګولو ته پام راواړاوه او دغه ولسي ـ یووالی یې په ډېرې پوهې د وګړو د برابرو حقونو پر بنسټ د قانون په هېنداره کې په خوځښت راوست. له دغو بدلونونو څخه یو اړین بدلون د دولت د ټولنیزو سمونو د لومړی لړی، د آساسي قانون یا د افغانستان د دولت د آساسي نظام لیک د اداني وړاندیز او منل وو، چې په ۱۳۱۰ ل کال کې په ننګرهار کې په ۸۷۲ کسیزې لویې جرګې کې، چې په خپله پاچا یې مشري کوله، تر خبرو اترو لاندې ونیول او بیا ومنل شو او د افغانستان په څو زره کلن تاریخ کې د لومړي ځل لپاره د انساني حقونو پر بنسټ ولاړ د یوه آساسي قانون څښتنان شوو. دغه آساسي قانون چې په ۷۳ مادو سمبال او منل شوی و؛ په خپله منځپانګه کې د برابرۍ پر بنسټ شخصي آزادي، د مریتوب پر ړنګونې، د رسنیو، کار، کسب او زده کړې پر آزادۍ، د استوګنې پر خوندیتوب، د شتمنیو د صادرې پر منعه کولو، د غیر قانوني ځورونې په له منځه وړلو او نورو کې غبرګون موندلی و. (۹،۱۰،۲۲،۲۴) مادې ددغو ښېګڼو تر څنګ په شپاړسمې مادې کې راغلي وو چې: ( د افغانستان ټول وګړي د شریعت او قانون له مخې له برابرو حقونو او مسؤولیت څخه برخمن دي). د آساسي قانون ۱۱مې مادې حکم کاوه:( په افغانستان کې د مریتوب ټول بنسټونه بند دي). د همدغې مادې پر بنسټ د کابل په ښار کې څه نا څه اوه سوه هزاره مریان او کنیزاني د هغو د خانواکو له منګلو او کورونو څخه خپلواک شول. له دغه ځایه، چې هزاره وګړي د هر بل توکم په پرتله د شاه امان الله په ملاتړ را پورته شول او تر هر چا زیات د سقاوي رژیم د تورو او بلونسي(غضب) په تورتم کې وزبېښل شول.

د هېواد تاریخ پوه اروابناد مني، چې ددغه قانوني موادو روح دا و، چې په عملي توګه پلي کېدل او د درغلنې له ککړوالي، ځان ښوودنې او چل

ځخه پاک و. د بېلګې په توګه مذهبي لمانځنې او دودونه او د امامیه مذهب د لارویانو تکیه ګانې آزادې شولې. د د کندهار، جلال آباد، غزنې او کابل د پوهنې په ټولنه کې د افغانستان د هندوانو یو یو ټاکل شوي استازي ته ځای ورکړل شو، چې په اداري چارو کې د برخې ځښتنان شول او د هندوانو له پګړیو د ژېړ رنګ خنډ او د هغو د جزیې د پاتې پیسو برخه(د شاه امان الله خان د ۱۲۹۹ ل کال د فرمان له مخې) لېرې شو. د همدې قانون د(۹) په بنسټ د هندوانو ماشومان په ملکي او پوځي ښوونځیو د(حبیبیې او حربیې) لېسې کې ومنل شول او نور د توکم، ژبې، مذهب، ټبر او ډلې له مخې، نژاد پالنې او توپیرپالنې ته ځای نه و. د محمدزیو هغه کړنې، چې خانانو او ملکانو ته به یې وړیا تنخاګانې ورکولې، د پای ټکی کېښودل شو او ولسي وګړي په حقونو کې له یو بل سره برابر وګڼل شول. کله چې شاه امان الله په دندو کې د قانون پلي کولو ته ملا وتړله، د هغه په وړاندې د دښمنیو او مخالفت د ټغر لمنه پراخه شوه. هغه ځه چې پاچا نه منل د خپلوانو او نورو مخورو اغیزمنو کسانو د ملاتړ او مکلفیت بنسټ و. دلته ده چې کله پاچا د محمدزیو د کورنۍ او نورو خانانو او اغېزمنو روحانیونو وړیا تنخوا یا مستمرې له منځه یوړې یا کله چې د خپلو مورنیو خپلوانو د زنداني کولو امر به یې ورکاوه، مانه یې دا وه، چې خلکو ته ځرګنده کړي، چې ټول وګړي د قانون په وړاندې یو برابر دي او هېڅا ته تر بل لومړیتوب نه ورکول کیږي او هر ځوک چې د قانون له ادانې پښه وغځوي نو د قانون پر بنسټ به جزا ویني. د پاچا دغه چال چلن لږ تر لږه د ستاینې او درناوي وړ یو غبرګون را ونه پاراوه، بلکې له ټبرنیو ـ توکمیزو دودونو ځخه په وتلو محکوم وګڼل شو. امان الله خان د ولس یا ملت ملي یووالي ته لومړیتوب ورکاوه او کله به یې چې د ملي یووالي خبرې کولې، نو هېڅکله به یې خپلې ولولې او احساسات نه شوای پټولای. په ۱۳۰۴ ل کال کې د کندهار د سفر په ترځ کې د لړم د میاشتې په ۷ مه د جمعې په ورځ له لمانځه وروسته چې پر خپل امامت لمونځ اداء کړ د خرقې مبارکې په جومات کې د لمانځه د خطبې په ترځ کې د ملت د یووالي په

اړه ډېرې خبرې وکړې او د خبرو په یوه برخه کې یې وویل:(( هر څوک چې په افغانستان کې ژوند کوي، پرته له توپیره ورته افغان ویل کیږي. بیا نو دوراني، غلجي او اڅکزي او نور څه مانا لري؟)). او هغه څوک چې دې کارونو ته لمن وهي، بېځایه دي دغه ټول توپېرونه او توپیر پالنه یې د دښمن په لاس کې تر ټولو ښه وسله وبلله او ویې ویل: زمونږ دښمنانو زمونږ په منځ کې له دغه توتریخوالي څخه ډېره ګټه پورته کړې ده. آه! چې خپل مټ یې په خپل لاس راڅخه بېل کړی!

دړې وړې یې کړو، ټوټې ټوټې یې کړو او زمونږ ټول ځواک یې راوزبېښه، په دغه ځای کې د امیر له سترګو اوښکې لاړې!

شاه امان الله د ملي یووالي په اړه د کندهار وګړو ته په خپله یوې بلې وینا کې  وویل: هندو، هزاره، شعیه، سني، احمدزي، پوپلزي نه لرو؛ ټول یو ملت یوو او هغه هم افغان، ماته ټول افغانان ورونه دي. د خپلواکی او ملي یووالي د ساتنې او له خرافاتو څخه ډډه کولو په اړه، وګړو ته د اعلی حضرت امان الله خان لاربنوونې ډېرې اوچتې او له لوړې پوهې برخمنې خبرې وې. اروپا ته د سفر په موخه د بهرنیو چارو وزارت د ستوري په مانۍ کې د ولس د ګنو پاړکو یا طبقو تر منځ د خدای پامانۍ په وخت کې وویل: بهر ته زما سفر یوازې ستاسو په ګټه دی او بس، که رانغلم په یاد ولرئ، چې د هېواد ساته وکړئ او یو موټی ملت ووسئ. د یوه ناتارګر پاچا تر سیوري لاندې ژوند ونه کړئ. زما لاربنوونو ته ښه غوږ ونیسئ او په خرافاتو ګروهن مه وسئ، ځکه یو شمېر ناپوهه ملایانو له دین څخه یو ځنځیر جوړ کړی او ستاسو په غاړه یې در اچولی، تاسو ته ناسمې لاربنوونې کوي او ناسمو لارو ته مو لمسوي. د خدای ج او پیغمبر له اوامرو سره سم چلن وکړئ، د ښځو په وړاندې له زغم او زړه سواندې څخه کار واخلئ. تاسو ټول د یوه هېواد بچیان یاست او له یو بل سره ورونه واوسئ. ښځې ستاسو په شان حق لري او انسانان دي. له یوې ښځې پورته له ښځه مه کوئ او ماشومان مو ښوونځیو ته ولېږئ او خپله شتمني د خپلو ماشومانو د ښوونې او

روزنې په لاره کې ولړوئ. د غازي امان الله خان د حکومت د ټولنیزو سمونونو یا اصلاحاتو دوهمه لړۍ هېواد ته د شاه له اوږده سفر څخه وروسته پیل شوه. کله چې شاه د اروپا د پیاوړو چارواکو له چال چلن او د لودیځ د تخنیک او فرهنګ وده په ځانګړې توګه په ایران کې د رضا شاه او په ترکیه کې د مصطفی کمال اتاترک د پیاوړو ګلارو له کتلو اغېزمن شوی و، په افغانستان کې یې د سمونو او اصلاحاتو د تګلارو په عملي کولو کې له بیړې کار واخیست. د ۱۹۲۸ ز کال د اګسټ د میاشتې په ۲۹ مه نېټه یې یوه یوز و یو کسیزه جرګه راوبلله او له جرګې سره یې د ټولنیزو بدلونونو د لړۍ په چټکولو کې خپلې موخې او هیلې ګډې کړې.

شاه لومړی د خپل سفر په اړه ګزارش ورکړ او بیا یې جرګې ته په افغانستان کې د چټکو ټولنیزو او اقتصادي بدلونونو په اړه خپله د اصلاحاتو تګلاره وړاندې کړه. ددغه اصلاحاتو پر بنسټ د ځمکوالی او له ځمکوالۍ مځکې زاړه دودونو او اړیکو ته د پای ټکی ایښودنه وه او د هېواد لوړو پاړکو یا طبقو لکه ځمکوالو، توکمیزو مشرانو او اغېزمنو روحانیونو، چې په هغه وخت کې د دولت له اصلاح غوښتونکو تګلارو سره مخالفت کاوه، له خپلې ګټې او امتیاز څخه بې برخې کېدل. له بل پلوه شاه امان الله خان د جرګې مشرانو او ګډونوالو ته په وینا کې وویل: له دې وروسته به نجونې او هلکان ښوونځیو ته ځي، د واده لپاره یې عمر په ګوته کړ، چې نه شي کولای نجونې د ۱۸ کلنۍ څخه مخکې په نکاح واخلي او یا هلک تر ۲۲ کلنې مخکې واده وکړي، ځکه دوي په کم عمر کې د آینده عمر لپاره نه شي کولای په سمه توګه تصمیم ونیسي او له بله پلوه یې د حضرتانو او خانانو د وړو نجونو سره د واده مخه ونیوله، په همدې توګه نور زیات اصلاحات یې راوستل لکه: د مریدۍ له منځه وړل، د ښځو حقوق، ټول هغه څه وو، چې د شاه په وړاندې یې د بهرنیو په لمځون خلک راپارول، چې یاد وګړي د هلکانو له ښوونې او روزنې سره په کله مخالف وو، دغه وګړو چې د شاه امان الله خان

ددې کړنې مخالف وو، ویل: د هلکانو تګ ښوونځی ته سړی کافر کوي. خو ریښتیا دا وه، چې هلکان ښوونځی ته تللي وای او زده کړې یې کړې وای او د هغو د پیری او مریدۍ د هټۍ سودا چا نه اخیسته او یو پوه او روزل شوی هلک دې ته غاړه نه ږدي، چې د مریدۍ پړی په غاړه کې واچول شي.

شاه امان الله خان په ریښتیا یو انقلابي او سربښندوونکی پاچا و، هغه د افغانستان د سیاسي خپلواکۍ په تر لاسه کولو کې نه یوازې د نړیوالو په سترګو کې د انګلیس حیثیت، اعتبار او مخورتوب دړې وړې کړ؛ بلکې د محمدزیو، د خانانو د توکمونو مشرانو او د سترو روحانیونو د مستعمرې معاش په بندولو یې د هغو دښمني د ځان په بیه واخیسته. له بودا سړي سره د صغیرې نجلۍ نکاح منع کول او.... او.... دا ټول هغه ګامونه وو، چې د شاه امان الله خان د خپلواکۍ او ملي یووالي ستره هیله یې را لنډه کړه او د خپلواکۍ له ګدۍ یې لرې کړ.

## سردار محمد داود خان



سردار محمد داود خان د د سردار محمد عزيز خان زوی، په ۱۲۷۸ هـ.ل کال چې له ۱۹۰۹ ز کال سره سمون خوري په کابل ښار کې وزږېد.هغه د خپل يو کم اويا کلونو ژوندانه خورا زياته برخه په حکومت کې په کار کولو سره تېره کړېده؛ له عادي افسر شروع تر دفاع وزارت، له ولايت نه نيولې تر نايب الحکومه او له صدارت نه نيولې تر هېواد مشرۍ پورې. داود خان په دې ټوله موده کې چې څلوېښت کاله کيږي، نېژدې هره شېبه د فعال سياسي لوبغاړي په عامه انظارو کې و.

يوازې د ۱۹۶۰ کلونو له لومړيو څخه د ۱۹۷۰ کلونو تر لومړيو پورې، تر هغو پورې يې چې د جمهوريت د تأسيس لپاره په کودتا لاس پورې کاوه، له هر څه نه ځان ګوښه ساتلی و. منځنۍ زده کړې يې په استقلال لېسه کې سرته رسولې دي، په فرانسه کې يې د کور جوړونې(مهندسۍ) په برخه کې درس ويلی و او د کابل په حربي پوهنتون کې يې نظامي زده کړې کړې وې. دی په ۱۹۳۴ کال کې د ختيځ ولايت نايب الحکومه شو، په ۱۹۳۵ کال د کندهار ولايت نايب الحکومه مقرر شو. له ۱۹۳۹ کال څخه تر ۱۹۴۵ کال پورې د مرکزي قواوو بولندوي و. په ۱۹۴۸

کال کې د یوه کال لپاره د کورنیو چارو وزیر شو. د څه وخت لپاره فاریس کې افغان سفیر و. د ۱۹۴۹ کال څخه تر ۱۹۵۳ کال پورې د شاه محمود خان په کابینې کې د دفاع وزیر و. داود خان په ۱۹۵۳ کال د سپټمبر په شپږمه د کالینې په جوړولو مؤظف کړای شو. دی یو وطنپال او د عیاشۍ او رشوت څخه مبرأ افغان و. صادق مسلمان او ډېر باتقوا و. دی د رهبري شوي اقتصاد پلوی ښکارېده او په عین حال کې یې زمینداري هم تقویه کوله. د هغو کسانو سره چې امتیازات یې د ځان لپاره غوښتل ښه نه و. آن د خپلې کورنۍ له امتیازاتو سره هم مخالفت کاوه. د خپل نوم څخه یې رسماً د حضرت لقب لرې کړ. محمد داود خان غوښتل چې له افغانستان څخه یو مترقي، سیاسي، وټه ییز او ټولنیز پلوه پر خپلو پښو ولاړ هېواد جوړ شي. ده غوښتل چې هېواد کې دې افراط او تفریط ورک شي او د ژوندانه په وسیلو کې د منظمو اقتصادي او سیاسي پلانونو په جوړولو سره تعدیلات منځ ته راشي. محمد داود خان د ۱۳۵۲ ل د چنګاښ د میاشتې پر ۲۶ مه نېټه د سه شنبې پر سهار د راډیویي وینا په اورولو سره په هېواد کې جمهوري نظام اعلان کړ او هغه ته یې د قانونیت ورکولو او استقرار لپاره د ۱۳۵۲ ل کال د زمري په د رژیم د پالیسۍ پر بنسټ د سیاسي، قضایي، اداري او وټه ییزو مسئلو په اړه تقنیني فرمانونه صادر کړل او د قانون پوهانو په مرسته یې د هرې برخې لپاره قوانین ترتیب او تصویب کړل.

**د داود خان کار او خدمتونه**

داود خان د کابینې له جوړولو سره سم له مشورې او نظر غوښتلو پرته د هېواد په عصري کولو پیل وکړ، د هغه د حکومت تګلاره د پوځ پیاوړي کول، د پښتونستان مسئلې حل، د قبایلو د خپلواکۍ کمولو او د هېواد اقتصاد ي پرمختیا لپاره له بهرنیو مرستو ګټې اخیستل جوړول، د داود خان د حکومت بهرنۍ سیاست د هغه ورور نعیم خان پر مخ وړو اقتصادي او مالي چارې یې نیږدې ملګري عبدالرحیم زي په مخ وړې، چې د مالیې او سوداګرۍ وزیر و، پوځ یې له ټوپک او ماشیندارو نیولې

تر لويو او وړو راکيټونو، هاوانونو او محاربوي الوتکو او تر ځنګ يې په ترانسپورتي الوتکو سمبال کړ، چې د جنګ په مهال تجهيزات او توکي ور ورسوي.

د محمد داود خان د صدارت په دوره کې حربي ښوونځی، حربي پوهنتون ته ارتقاء وکړه او پلي، توپچی، دافع هوا، مخابره، استحکام او لوژستيک پوهنځی په کې رامنځته شول.

په ۱۳۳۸ ل کال د شينډنډ هوايي ډګر کار پيل شو، چې مهمې ودانۍ کله: د تخنيک او الوتکو ورکشاپونه او نورې په کې د نوي تخنيک او پوځي غوښتنو پر بنسټ يو پر بل پسې جوړې شوې، داود خان ډېره هڅه کوله چې د پخواني سيستم پوځ په نويو معيارونو، تخنيک او وسايلو سمبال کړي او د جنګي احضاراتو درجه يې ور لوړه کړي، په دې دوره کې پوځ کې نوي قطعات رامنځته او تعليم يافته افسران په کې زيات شول، هغه په خپله د پوځ د چارو د څرنګوالي او څومره والي څارنه کوله او د خپل حکومت کلک پام يې دې لوري ته اړولی و. داود خان کورنی سياست ځوان او لوستي پوړ ته د پاملرنې پر محور څرخاوه، هغه د سوداګرۍ په برخه کې د پرانيستو دروازو رهبري شوی سياست اعلان کړ، هغو پانګوالو او ځمکوالو ته يې په ښه سترګه نه کتل، چې ځانګړي دربارونه يې درلودل او د پانګوالۍ او فيوداليزم ښوونه يې کوله، د هغه په حکومت کې د فيوډاليزم ستنې ولړزېدې، په داسې حال کې چې داود خان په خپله پښتون او له شاهي کورنۍ څخه، هېڅکله يې خپل قوم او قبيلې ته تر نورو زيات امتياز ورکول جايز نه ګڼل. هر ډول قبيلوي، سمتي، مذهبي او ژبنی توپير يې مردود ګڼلو او ويل يې چې د زده کړې درجه، پاک نفسي او وطن دوستي تر ټولو لوړ معيارونه دي.

په ۱۳۳۳ ل کال کې آریانا هوایي شرکت د پان امریکن، زیمنس مالونو د خرڅلاو شرکت او فرانکلین مطبعې، د جاپان او لودیځ آلمان په ګډې پانګې په فعالیت پیل وکړ.

د کرنې د پراختیا بانک او پښتني تجارتي بانک، د هغه د صدارت په دوره کې رامنځته شول، چې فعالیتونه یې د دولت تر کنترول لاندې و، په کندوز کې د جاپاني شرکت پانګونې په مرسته چیني فابریکې جوړول او په همدې دور کې د هلمند ناوې پروژه تر کار لاندې وه او امریکا خپل پورونه افغانستان ته وبښل، په همدې کال د شوروي او افغانستان تر منځ تړون لاسلیک شو، چې د سلو او قیر جوړولو فابریکې مالي مصرف په غاړه واخلي.

لومړنی پنځه کلن پلان ترتیب شو، ددې پلان د تطبیق لپاره ۶،۱۰ ملیارده افغانۍ پانګه اټکل شوې وه، د لومړي پنځه کلن پلان د بنسټیزو موخو په پلي کېدو کې د شوروي اتحاد په مرستو ډېره لګېده، ددې مرستو حجم د ټولو بهرنیو مرستو په سلو کې ۷۰ سلنې ته نه رسېده، په ترڅ کې د نغلو د بریښنا فابریکه د سل زرو د سل زرو کیلو واټو په ظرفیت، د جنګلک کارخونه، د ننګرهار کانال او د سالنګ شبرخان بندر لویه لار جوړه شوه، په لومړني پنځه کلن پلان کې ډېره پاملرنه زراعت ته اړول شوې وه، چې د هېواد نیږدې ۹۰ سلنه وګړي پرې بوخت وو. په دوهم پنځه کلن اقتصادي پلان کې د اقتصادي بنسټیزو ساحو لکه: صنایعو، کانونو راویستنې، انرژۍ او د ترانسپورت انکشاف ته ځانګړې شوی و. ددې پلان تر سره کول هم د بهرنیو اقتصادي او تخنیکي مرستو په تر لاسه کولو پورې تړلي و، د دوهم پنځه کلن پلان تر پایه د کابل، کندهار او څو نور لوی او کوچني هوایي ډګرونه بشپړ شول. همدارنګه د کابل ـ جلال آبا د، کابل ـ کندهار، سپین بلدک ـ کندهار، کوشک ـ هرات، کندهار کابل او کابل ـ شبرخان بندر سړکونه ورغېدل.

د یادولو وړ ده، چې داود خان د صدارت په پیل کې په ټول افغانستان کې ۱۱ کیلو متره ډمبر سړک موجود و، خو د هغه د استعفا پر مهال ۲۰۰۰ کیلو متره ډمبر او ۱۰۰۰ کیلو متره ډمبر ته چمتو و. همدارنګه د کابل پوهنتون د محصلینو شمېر ۴۰۰ تنه و، چې په څلورو پوهنځیو کې په زده کړه بوخت وو، خو د استعفاء پر مهال د محصلینو شمېر ۴۰۰۰ تنه شو او لسو پوهنځیو کې یې زده کړې کولې.

په دې دوره کې د پلخمري او ګرشک پروژو په تولید پیل وکړ او غوري سېمنټو فابریکه په کابل کې ۱۴۰ زره ټنو او د کور جوړولو فابریکه ۳۵ زره متره مربع په ظرفیتونو ګټې اخیستنې ته وړاندې شوې. د هغه د صدارت په وخت د افغانیو ارزښت هم د بهرنیو اسعارو پر وړاندې پورته شو، آن چې یو امریکایي ډالر ۳۸ افغانۍ ته راښکته شو.سردار داود خان د صدارت په لس کلنه دوره کې په ریښتیني ډول د پرمختګ نغاره په چټکۍ سره او پرلپسې وټنګوله.

همدا لامل و، چې د نوې نړۍ بېلابېلې نښې را څرګندې شوې. په همدې دوره کې افغانستان ته د نړیوالو پام راواوښت، د نړۍ له هېوادونو سره په اقتصادي، سیاسي، فرهنګي او دېپلوماتیکو ډګرونو کې د اړیکو دایره پراخه شوه او افغانستان له سیاسي ګوښه توب راووت، څکه پخپله سردار داود خان امریکا، ترکیې، چکسلواکیا، مصر، پولنډ، شوروي، اتریش، برېټانیا، ایران، پاکستان، ایټالیا او یوګسلاویا ته رسمي او دوستانه سفرونه وکړل او دوه اړخیزو اړیکو په پراختیا یې هڅې وکړې.

محمد داود خان د ګاونډیو هېوادونو او نورې نړۍ د ټکنالوژۍ، اقتصاد او ټولنیزو نویو تحولاتو سره د بلدتیا له امله کړېده، نو هڅه یې کوله چې په یوه بې ساري چټکتیا سره افغانستان د پرمختللیو صنعتي هېوادونو په کتار کې ودروي، له همدې امله یې د هغو کسانو سخت مخالفت کاوه، چې د هغه دې هیلې ته په رسېدو کې یې چل و، سستي او

لټي يې کوله. محمد داود خان پاک اخلاقه، تندخويه، جدي، په ټوله مانا نظامي، وطن دوست او زيارکښ انسان و، چې تر خپلې مشرۍ لاندې يې د هېواد له چټک پرمختګ سره کلکه مينه لرله، وطن ته له کار کولو پرته يې د هېڅ شي په اړه فکر نه کاوه، هره ورځ يې آن تر ۱۶ ساعتونو پورې کار کاوه، د هېواد د اقتصادي پرمختګ او هوساينې پر وړاندې يې نور کارونه هېڅ ګڼل، عياشي او چړچې يې نه خوښولې، شخصي ژوند يې ډېر ساده او بې سينګاره و، يوازې په سګرټو روږدی و، چې هغه يې هم په آخر کې د ډاکترانو په سپارښتنه پرېښودل. شهيد داود خان د ځان ښودنې او ريا پرته له افغانستان او خپل ملت سره د زړه له تله مينه درلودله، ددې ولس د فرهنګ او مدني ژوندانه په لوړولو پورې يې سخت زړه تړلی و، د ملي ګټو پلوی و، د خپل هېواد د پرمختګ او ګټو لپاره يې ژوند کاوه، د سپېڅلې او پاکې اسلامي عقيدې څښتن و او له خپل خالق سره يې ټينګه اړيکه درلوده، چې ويل به يې که په ټوله نړۍ کې يو مسلمان وي؛ هغه به داود خان وي او که په ټوله نړۍ کې يو افغان وي هغه به هم داود خان وي.

د شهيد سردار داود خان د جسد ښخولو ځای تر ۱۳۸۷ ل کال پورې معلوم نه و، د همدې کال په لېندۍ کې د حامد کرزي حکومت د اروابناد داود خان د جسد پيدا کولو يو کېسيون وګوماره او له اعلان سره سمې پلټنې يې پيل کړې، ځينو خلکو له دننه او بهر څخه تليفونونه وکړل او يو شمېر احتمالي ځايونه يې وښودل. هره نښه کمېسيون ته يوه نوې دنده وه او چې کوم ځای به وښودل شو، هلته به کار پيلېده. نيږدې دوه اونۍ وروسته سردار نادر نعيم کمېسيون ته خبر ورکړ، چې له پکتيا نه د پخوانۍ څلورمې لېوا يو افسر پاچا مير تلېفون کړی او ادعا کوي، چې د خښېدو اصلي ځای ور معلوم دی، چې هغه هم تېروتی و.

په پای کې د صافي د غره په لمنو کې د داود خان او دده د کورنۍ احتمالي قبر پيدا شو، چې په همغه کې يقيني شول. ددې دوو قبرونو څخه ۲۹ مړي را پيدا شول، چې ښځې، کوچنيان او نارينه پکې شامل

و. د شهیدانو په قبرونو کې د دوي جامې او بوټان هم وموندل شول. د شهید په جیب کې د الله کلام هماغسې پروت و.

جسد یې د یو لړ پرتمینو مراسمو په ترڅ کې د کب په ۲۷ مه نېټه د دارلامان لودیځ ته په هغه غونډۍ باندې خاورو ته وسپارل شو، چې د داود خان په نامه نومول شوې وه.

## قیام الدین خادم



قیام الدین په ۱۲۸۶ ل کال د کامې ولسوالۍ په یوې روحاني کورنۍ کې دنیا ته سترګې وغړولې. د خادم پلار مرحوم حسام الدین اخوند پخپله سیمه کې یو مشهور او پوه عالم و، خادم دوه نیم کاله په لواړګي کې اوسېده، هملته له شاعرۍ، لیکوالۍ او ادبیاتو سره د هغه مرموزې لېوالتیاوې راوټوکېدې او هملته یې کوژده او واده وکړ.

مرحوم خادم په اردو، انګریزي او عربي ژبو بلد و، د همغه ژبو په مرسته هغه د یوه کنجکاو او پلټونکي انسان په توګه هڅه کوله او د ډېرو شیانو په راز یې ځان پوه کړی و، کېدای شي د هغه د بریالیتوبونو څخه یو هم همدا وبولو او نیږدې تر پنځوسو زیات چاپ او ناچاپ آثار لري.

لومړنۍ زده کړې یې پخپل کور کې له خپلو والدینو څخه وکړې، د اسلامي علومو ګڼ شمېر کتابونه یې لوستي و؛ هغه صرف، نحوه، منطق، حکمت، فقه، حدیث، تفسیر او داسې نور دودیز علوم یې زده کړي وو. هغه د دیني علم د تر لاسه کولو لپاره پنځه لس کاله د هېواد دننه او بهر سفرونه کړي دي. خادم په بېلابېلو ولایتونو کې مختلفې دندې تر سره کړي دي. د لومړي ځل لپاره په ۱۳۰۴ ل کال د کامې په ابتدایه ښوونځی کې د ښوونکي په توګه په دند ه وګومارل شو. په

۱۳۱۲ ل کال کې په کندهار کې د پښتو ادبي انجمن غړی شو، کابل ته ددې ټولنې د لېږد سره سم، خادم هم کابل ته وکوچېده، تر څنګ یې د زیري ورځپاڼې سره د خپراوي دنده هم پر مخ وړه، چې بیا وروسته د تألیف او ترجمې د څانګې مدیر وټاکل شو. تر دې وروسته په ۱۳۲۴ ل کال د دایره المعارف د ژباړې مدیریت ور په غاړه شو او بیا په ۱۳۲۵ ل کال کې د تعاوني ډیپو د پلټنې لوی مدیر شو. په ۱۳۲۹ ل کال کې یو ځل بیا په رسنیو کې دنده ور وسپارل شوه او دا ځل یې د طلوع افغان د مدیر په حیث چارې مخ ته وړلې. په ۱۳۳۰ ل کال د کابل مجلې چلوونکی شو او په ۱۳۳۱ ل کال د سروبي د برېښنا د فابریکې د کوپراتیف لوی مدیر شو. په ۱۳۳۲ ل کال یې یو ځل بیا رسنیو ته مخه کړه او د اصلاح ورځپاڼې د مسؤل په حیث دنده پیل کړه.

همدارنګه قیام الدین د هېواد په سیاسي چارو کې هم فعاله ونډه درلوده. هغه د ویښ ځلمیانو د غورځنګ د بنسټ اېښودونکو څخه و. خادم د فلسفې، اند او علمي شخصیت څښتن و، هغه په رېښتیا سره د خپل ولس سره مینه درلوده او خدمت یې په ډېره خوښۍ او اخلاص سره کاوه. هغه د هر ډول مشکلاتو او سختیو په وړاندې د مبارزې، صبر او حوصلې لاربښوونه کوله. مرحوم خادم د معاصرو ادبیاتو له هغه پېنځو ستورو څخه دی، چې پښتو ادب او کلتور یې ځلولی دی، چې د نن ادیبان یې درناوی کوي.

کله چې په ۱۳۵۷ ل کال د خلق او پرچم ګوندونو لخوا کودتاه وشوه او په افغانستان کې یو کمونستي رژیم واکمن شو، نو مرحوم خادم هم ددغه رژیم لخوا زنداني شو، په داسې حال کې له زندانه خلاص شو، چې د شکنجو او ځورونو له امله یې لاسونه او پښې فلج شوي وو. دغه ستر شخصیت په ۱۳۵۸ ل کال د دوشنبې په سهار د علی آباد په روغتون کې د ۷۴ کلونو په عمر له دې نړۍ نه سترګې پټې کړې او د کامې ولسوالۍ د زرشوی په کلي کې په خپله پلرنۍ هدیره کې خاورو ته وسپارل شو.

## محمد موسی شفیق



محمد موسی شفیق د محمد ابراهیم کاموي زوی، د عبدالحمید آخندزاده لمسی له آره د ننګرهار ولایت، کامې ولسوالۍ اوسېدوونکی دی. هغه مهال چې پلار یې په کابل کې دنده درلوده ، د ۱۳۰۸ ل کال د جوزا پر پنځمه د کابل په شهر آرا کې زېږېدلی دی. مورنۍ ژبه یې دري او پلرنۍ یې پښتو وه، د شفیق په تربیه کې لومړی د هغه پلار د ده په افکرو تأثیر کړی دی، تر هغه وروسته د پښتو ځینو نومیالیو ادیبانو د هغه په تربیه کې برخه اخیستې ده. رسمي زده کړې یې لومړی دکامې او کابل په مکتبونو کې سرته رسولي دي او وروسته د ننګرهار په نجم المدارس کې شامل شوی دی، له عربي دارلعلوم څخه یې د بکلوریا معادل بری لیک تر لاسه کړی دی، بیا د څه وخت لپاره په شاهي دارالتحریر کې په دنده ګمارل شوی دی او همدارنګه وروسته د پوهنې وزارت له لوري د نورو زده کړو لپاره مصر ته استول شوی دی. د لیسانس او ماسترۍ په برخه کې یې په عدلي چارو کې برې لیکونه تر لاسه کړي، له دې

وروسته په مقايسوي حقوقو کې د ماسترۍ لپاره امريکا ته لاړ، چې له هاروارد پوهنتونه څخه يې په دې برخه کې ډيپلوم تر لاسه کړ. له امريکا څخه تر راستنېدو وروسته د عدليې په وزارت کې د قوانينو د اداري لوی مدير وټاکل شو، تر څنګ يې په کابل پوهنتون کې د تدريس چارې هم پر مخ وړلې. په قاهره، بيروت، خرطوم او اکرا کې يې د پاچا د سفير په توګه هم دندې تر سره کړې دي. د ډاکتر عبدالظاهر په کابينه کې د بهرنيو چارو وزير و. په ۱۳۴۴ ل کال کې يې د (بين الدول خصوصي حقوق) تر سرليک لاندې يې کتاب هم وليکه.

شفيق په ۱۳۳۸ ل د ادبياتو پوهنځۍ د وږمې د مجلې کتونکی غړی او قلمي همکار او په ۱۳۴۱ ل کې د حقوقو پوهنځۍ د «حقوق» مجلې د کتنپلاوي غړی او همکار و. د عدليې وزارت د قوانينو د لوی مديريت په وخت يې زياتره ليکنې د قانوني او حقوقي مسائلو په ډګر کې کړي دي، چې په «نياو» مجله او نورو خپرونو کې چاپ شوي دي. شفيق قوي استدلال او منطق څښتن او تر څنګ يې مؤدب شخص هم و. هغه يونان کې د حقوق پوهانو په لوي او نړيوال کنفرانس کې او په لاهور کې د مستشريقينو په کنفرانس کې په برخه اخيستو سره په نړيوال حقوقي غورځنګ کې د خپل هېواد استازي توب وکړ، د ذروي وسلو نه لرونکو هېوادونو کنفرانس د مشر تابه په وخت يې په علمي ډګر کې د خپل هېواد شمله لوړه کړه. د آساسي قانون له انفاذ وروسته يې د بهرنيو چارو په وزارت کې ته د سياسي او ديپلوماتيکو کړيو پام راوګرځاوه. شفيق په جارجتون کې د ناپېلو هېوادونو د بهرنيو چارو د وزيرانو په شورای کې د افغاني مشر په توګه پخپله وينا کې د ناپېلتوب غورځنګ د لوري په څرګندولو سره د ټولو پام ځانته راوګرځاوه. په جده کې د اسلامي هېوادونو د بهرنيو چارو د وزيرانو په غونډه کې يې اسلامي نړۍ ته د ورپېښو ربړونو او ګواښونو په اړه په زړه پورې وينا وکړه. شفيق د ملګروملتونو د عمومي ټولنې د اوه ويشتمې غونډې مشري په

غاړه درلوده او د درېیمې نړۍ هېوادونو د حقوقو په ننګه یې په زړه پورې وینا وکړه. شفیق د ۱۳۵ ل کال د لیندۍ په ۱۶ د ډاکټر عبدالظاهر تر استعفاء وروسته د کابل رادیو له لارې د صدراعظم په توګه اعلان کړ. شفیق حکومت په داخل کې د نظم راوستلو او بهر کې د شوروي او لودیځ د اړیکو د انډول ساتلو ته متوجه و. ددې کار لپاره یې خپل پام د ایران او عربي هېوادونو د مرستو راجلبولو ته واړوه. شفیق له ایران سره د هلمند سیند د اوبو د وېش په اړه د ایران له لومړي وزیر امیر عباس«هویدا» سره تړون لاسلیک کړ، چې دا د شفیق د حکومت لپاره یو لوی بری و.

شفیق په خپلو کارونو کې تر ډېره بریده بریالی و، له ایران سره یې هلمند د اوبو مسئله په ډېر حساس وخت کې پای ته ورسوله. غوښتل یې چې له پاکستان سره د پښتونستان مسئله هم ختمه شي، خو دا وخت یې ونه موند، که څه هم د هلمند د سیند په اړه له ایران سره د تړون لاسلیکولو له اوله پر موسی شفیق ډېرې نیوکې دي؛ خو شفیق په نړیوالو سیاستونو او په ځانګړي ډول د سیمې په ستونزو او سیاستونو پوه ا و ډېر ځیرک انسان و؛ نو ځکه خو یې هغه دغه لانجه په یوه داسې وخت کې پای ته ورسوله، چې افغانستان ته یې تر تاوانه ګټه ډېره وه. په دې اړه ښاغلي ولسمل وایي(( شفیق صاحب راته ځواب کې وویل: هو! د افغان د مصادرې یو علت د هلمند اوبه دي، هغه څه چې زه وینم تاسو یې نه وینئ او ملت به یو وخت پوه شي، چې مونږ له ایران سره د هلمند د اوبو لانجه ولې ختمه کړو؟ شفیق صاحب نور هم وضاحت ورکړ او زیاته یې کړه: اسلام او وطن دواړه له خطر سره مخامخ دي، مونږ غواړو چټ ورو ورو د روسیې له جنجاله افغان ملت خلاص کړو)) د هلمند د اوبو په سر له ایران سره د شخړې تر څنګ هغه مهال له پاکستان سره د پښتونستان مسئله هم په ډېر ستونزمن پړاو کې وه؛ نو د ډانګ او پرانګ تر منځ د خپل ملت ګټه سنجول هم خورا مهم کار و. د هغه بهرنی سیاست ډېر مدبرانه او ژور و. د هغه د بریالي بهرني

سیاست یوه ښه بېلګه داده، چې ایران پخوا هېڅکله د پښتونستان له مسئلې سره کومه لېوالتیا نه وه ښودلې؛ خو شفیق په بري سره د هغه هېواد صدراعظم عباس هویدا وهڅاوه؛ نو هغه افغانستان ته د خپل سفر پر مهال له کابل راډیو څخه د پښتونستان پر مسئلې د افغانستان له دریځه خپل ملاتړ اعلان کړ. شفیق په شخصي ژوندانه کې یو سینګار خوښی سړی و؛ خو هېڅکله یې خیانت ته لاس اوږد نه کړ. پوهاند دکتور مجاور احمد«زیار» په دې اړه وایي(( دا چې شهید موسی شفیق له ګردو بېساري سیاسي او علمي ـ فرهنګي ځانګړتیاو سره سره د سیمې او آن ښایي پر نړیواله کچه یو لوکس ترین سفیر، بهرنی وزیر او بیا....و، د ځلوېښتمې لسیزې په وروستیو کې کله چې کابل ته د بهرني وزیر په توګه وغوښتل کېده، د تشلاسی له امله یې له سفارته درې میاشتې پېشکي له ځان سره راواخیسته او بیا دې ته اړوت، چې خپل ځای ناستی هماغومره مهال وځنډوي)). هغه ته دیانت او سپېڅلتیا میراثي ور پاتې وه، وایي چې محمد ابراهیم کاموي د بلخ د مرافعې محکمې قاضي، چې بل ځای ته تبدیل شو، هلته چې ورسېده، خلکو یې مخې ته د سامانونو د وړلو لپاره څاروي راوستلي و؛ نو چې کله دده راوړنکی چې کله موټر ودرېد او خلک ورغلل، چې سامانونه یې راکوز او په خپلو څارویو یې بار کړي، دی له خپلې میرمن، یوې بسترې او یوې امسا سره راکوز شو، په دې کار سره خلک هک پک پاتې شول. څوک چې د داسې پلار کره وزېږېږي؛ نو هرو مرو باید په هر ډول څوکۍ او دنده کې دیانت او سپېڅلتیا وساتي. شفیق په مصر کې د افغانستان سفیر و. په ۱۳۵۰ ل کال کې یې د ملګرو ملتونو په ۲۲۶۶ مه غونده کې د ګډونوال افغاني پلاوي مشري په غاړه درلوده. ارواښاد موسی شفیق د دیموکراسۍ د لسیزې یا د افغانستان د شاهي نظام وروستنی صدراعظم و، هغه د چنګاښ تر سپیني کودتا وروسته ونیول او بندي شو؛ خو وروسته روښانه شوه، چې هغه د محمد داود خاند له خبرتیا او موافقې پرته نیول شوی و. په (۱۳۵۷ ل) کال کې د غوایي تر

کودتا وروسته ونیول او بندي شو او بیا د همدې میاشتې په (۲۳ ـ۲۴) نېټه په شهادت ورسېد.

# انجنير غلام محمد فرهاد



د حاجي سيداحمد زوی، د ولي محمد خان لمسی په کال ۱۹۰۰ ز کال په میدان وردګو ولایت، نرخ ولسوالۍ په ابراهیم خېلو کلي کې زېږېدلی. پلار یې یو کروندګر و، دا چې هغه وخت د دوي د استوګنې په سیمه کې د ماشومانو لپاره د ښوونې او روزنې آسانتیاوې نه وې، خو بیا یې هم لومړنۍ زده کړې هلته بشپړې کړې، پلار یې په کال ۱۹۱۰ ز د کورنۍ سره کابل ته کډه وکړه، دواړه زامنو یې غلام سرور او غلام محمد د حبیبیې لیسه ولوستله.

غلام محمد چې وروسته بیا د غلام محمد فرهاد په نامه یادېده، په کال ۱۹۲۱ ز چې د امان الله خان پاچاهي وه، د یوه بورس په ګټه اخیستنه آلمان ته ولېږل شو. غلام محمد فرهاد د مونشن په تخنیکي پوهنتون کې الکترو تخنیک پای ته ورساوه. په کال ۱۹۲۸ ز کال کې غلام محمد فرهاد تر فارغېدو وروسته افغانستان ته راستون شو او د جبل السراج د برق په دستګاه کې په کار وګومارل شو. کوم وخت چې امان الله خان په هېواد کې د کورنیو ستونزو له امله د حبیب الله کلکاني( بچه سقاو) له

خوا اړ شو چې هېواد پرېږدی او واک کلکاني واخیست، غلام محمد فرهاد د نورو زیاتو تعلیم یافته کسانو په بڼه بېکاره شو. څه موده وروسته کوم وخت چې نادر خان پاچاهي ونیوله، فرهاد د کار په وزارت کې د برق د مدیر په توګه مقرر شو او دنده یې داوه، چې د کابل ښاره ته بشپړه اندازه برق ورسوي. د نادر خان تر وژل کېدو وروسته ظاهر شاه ټینګار کاوه، چې د کابل ښار باید پوره او کافي برق ولري، څنګه چې د جبل السراج د برق دستګاه له یوې خوا زړه شوې وه او له بلې خوا یې ظرفیت یوازې ۹۰۰ کیلو واټه و، د کابل د ښار لپاره یې بسنه نه کوله، له همدې امله فرهاد په دنده ور په غاړه شوه چې په چک وردک کې یوه نوې د برق دستګاه جوړه کړي. غلام محمد فرهاد آلمانه ته سفر وکړ او د زیمنس کمپنۍ سره یې د برق توربینونو قرار داد امضاء کړ. په کال ۱۹۳۷ کې په چک وردک کې نوي توربینونه ودرول شول او د کابل ښار په بشپړه اندازه برق پیدا کړ. په کال ۱۹۳۹ ز کې د برق شرکت تأسیس شو چې مشري یې غلام محمد فرهاد کوله. د دوهم نړیوال جنګ وروسته په کال ۱۹۴۶ ز کې غلام محمد فرهاد دوهم ځل لپاره آلمان ته سفر وکړ او د سروبي لپاره یې د زیمنس د کمپنۍ سره د برق دستګاه قرارداد امضاء کړ.

کوم وخت چې غلام محمد فرهاد لا په اروپا کې و، د افغانستان صدراعظم شاه محمود خان په افغانستان کې زیات سیاسي بدلونونه راوستل. له دې بدلونو نو سره د ټاکنو له لارې د ښاروال انتخاب و، په دې وخت کې فرهاد صاحب په جرمني کې و، د کابل ښاریانو د هغه په نشتون کې په اکثریت رایو د کابل ښاروال وټاکو. دې وخت کې د برېښنا موسسو شورا پرېکړه وکړه، چې فرهاد دې د برېښنا لوی رئیس هم وي. ده د میوند او نادر پښتون جادې یې جوړې کړې، چې د هغه وخت یو ستر او لوی کار و. د کابل کارته ـ چهار، شاه شهید، میرویس میدان، کارته سخي او جمال مېنې کارونه د غلام محمد فرهاد په دوره کې پیل شول. ترافیکي نظم یې یو له سترو کارو نو څخه و. غلام محمد فرهاد

وتوانېد چې د افغانستان ترافیک د انګرېز له سیستم څخه له چپ لاس څخه راسته لاس ته واړوي. ترافیکي اشارې یې منځ ته راوړې او د شاروالۍ جریده(فامیر) هم د فرهاد د ریاست په دوره کې تأسیس شوه.

په ۱۳۳۳ ل کال غلام محمد فرهاد استعفاء ورکړه او ټوله پاملرنه یې برېښنا ته واړوله، د هغه تر استعفاء وروسته ټاکنې نه کېدې او سرپرست ښاروال به مقررېده، یو ځل په ۱۳۳۴ ل د کابل خلکو فرهاد لویې جرګې ته د خپل استازي په توګه وټاکه، بل ځل په ۱۳۴۳ ل کال کې په لویه جرګه کې د کابل د خلکو وکیل شو، چې دغه جرګه د آساسي قانون د څېړنې او تصویب لپاره جوړه شوې وه.

په ۱۳۴۶ ل د کابل خلکو فرهاد صیب د ولسي جرګې څخه د اعتراض او احتجاج په ډول یې استعفاء وکړه، چې وروسته یې په ۱۳۴۱ ل کال د ۶۲ تنو نورو افغانانو ملګرتیا، افغان ملت سوسیال دېموکرات ګوند تأسیس کړ، چې د افغان ملت په نامه مشهور دی. کوم وخت چې په کال ۱۹۷۹ ز کې کمونیستانو واک په لاس کې واخیست، پاچا غلام د خپل مشر زوی نادر سره یو ځای حفیظ الله امین له خوا ونیول شو او بندی شو. په ښکاره د حفیظ الله امین بهانه داوه، چې ګواکې پاچا غلام د امین په مقابل کې په یوه کودتا لاس پورې کاوه، اما د پاچا غلام د بندي کېدو اصلي علت دا و، چې د کمونیستانو ضد و او د امین د حکومت غوښتنه یې ونه منله، چې د افغانستان د نوي آساسي قانون جوړېدو کې همکاري وکړي. په ۱۳۹۵ ل کال په لومړیو کې چې خلک یې په ټولنیز ډول خوشې کول، فرهاد صاحب هم له زندانه راووت. د زندان څخه د خلاصون په ورځ زښت زیات خلک محبس ته ورغونډ شوي وو او فرهاد وغلو کسانو ته د تل په ښه یوه له ملي احساساتو او وطنپالنې ډکه وینا وکړه. فرهاد په مورنۍ ژبې پښتو سربېره په فارسي، عربي، جرمني او انګلیسي ژبو هم ښه تسلط درلود. فرهاد د خپلو ښو خدمتونو له امله د دولت لخوا ستایل شوی او لمانځل شوی هم دی، چې د صداقت نښانو عالي نښان او د جرمني تر ټولو لوړ نښانونه یې اخیستي دي.

اوابناد فرهاد د ۱۳۶۳ ل کال په کابل کې ومړ او په شهدای صالحینو کې خاور ته وسپارل شو.

## علامه سید جمال الدین افغان



زمونږ هېواد افغانستان د ډېرو نامتو مشرانو، پوهانو، لیکوالانو او شاعرانو ځانګو ده. هغوي ټولو په هره برخه کې د هېواد او هېوادوالو د سوکالۍ او پرمختګ لپاره په زړه پورې ګامونه پورته کړي. په ژوند لیک یې پوهېدل، له یوې خوا هغوی ته درناوی کولو زمینه چمتو کوی، له بلې خوا مونږ ته له هېواد سره د مینې او خدمت روحیه راکوي. په دې لړ کې علامه سید جمال الدین افغان در پېژنو، چې نن یې ټوله نړۍ په نامه ویاړي او درناوی یې کوي.

سید جمال الدین افغان په ۱۳۳۹ ز کال د کونړ ولایت مرکز اسعد آباد کې په یوه دینداره کورنۍ کې زږیدلی دی. د پلار نوم یې سید صفدر دی، کورنۍ په اسعد آباد کې اوسېده، چې د امیر دوست محمد خان په وخت کې یې پلار کابل ته کډه راوړه او دلته مېشت شو.

په اوه کلنۍ کې د هغه دودیزه زده کړه پیل کړه او دومره ذهین و، چې په ۱۸ کلنۍ کې صرف، نحوه، معاني، بیان، تاریخ، تفسیر، حدیث، اصول، عقاید، منطق، ریاضي، هندسه او طب ولوستل. سید جمال الدین افغان د پراخې مطالعې څښتن و. هند ته لاړ او هلته یې انګلیسي او اردو زده کړل، وروسته حجاز ته ولاړ او یو کال یې په عربي هېوادونو کې وګرځېد. کله چې سید جمال الدین افغان په دغو سفرونو کې په زده کړې

سربېره د شاوخوا سيمو د سياسي، ټولنيزو او اقتصادي حالت ژوره مطالعه وکړه. نو دا فکر ورسره پيدا شو، چې څنګه کولای شو خپل هېواد، اسلامي هېوادونه او نوره نړۍ د نورو له استعمار او نفوذ څخه وژغورو، له دې امله يې عملي هلې ځلې پيل کړې. سيد جمال الدين افغان په يو ځای کې نه اوسېده، غوښتل يې چې هرې سيمې ته لاړ شي، له خلکو سره وګوري او د هغوي د ژوند په اړه معلومات پيدا کړي. په دې توګه په ټول هند کې وګرځېد او په هر ځای کې له خلکو سره په ټولنو او غونډو کې وليدل او د خپل سفر پر مهال يې د هغو ځايونو اصول او احوال ځان ته ښه روښانه کړو. د نړۍ ډېرو برخو او هېوادونو ته سفرونه وکړل او د هرې سيمې او هېواد خلک يې د ژوند په ريښتيني مانا د پوهېدو لپاره راپورته کړل. سيد افغان له هند څخه مکې شريفې ته لاړ، حج يې وکړ او د عربو خوی، کړه وړه او دودونه يې وليدل. له حج وروسته بېرته افغانستان ته راغی، دا مهال لوی پوه او نابغه ځينې جوړ شوی و. کله چې هېواد ته راستون شو، نو د وخت حکومت دده د زيرکتيا او پوهې له امله لوړ ځای ورکړ. سيد جمال الدين افغان خپل هېواد کې د وضعې د خرابوالي له امله بهر ته د تګ هوډ وکړ. امير شېر علي خان ته ورغی او د رخصتيدو په مهال يې د هېواد د پرمختګ لپاره ځېنې وړانديزونه وکړل. لکه: د جريدې خپرول، د افغانستان د سياسي خپلواکۍ د اخيستلو اعلان، د کابينې جوړول، د عسکرو منظمول، د ښوونځيو پرانيستل او د سړکونو جوړول، د پوستې او مخابرې وسايل برابرول او نور....

سيد جمال الدين افغان د ختيځې نړۍ ستر عالم و، لوی سياستپوه، مبارز او انقلابي شخص و. نه يوازې پوه او مفکر و، بلکې له پوهې او مفکورې سره يې عمل هم ملګری کړی و، ځکه نو د عمل مبارزې د لارې اتل او مخکښ ګڼل کيږي.

همدا ډول سيد جمال الدين افغان تبعيض او تفرقه نه منله. انسان انسان ښکارېده. تور سپين او ژېړ يې يو وجود ګڼلو. هغه ته د نړۍ مخ د يوه

کور حیثیت درلود او نړیوال یې د یوې کورنۍ غړي بلل. سید جمال الدین په ۱۸۹۷ ز کال د سرطان د ناروغۍ له امله په ترکیه کې وفات او خاورو ته وسپارل شو. په ۱۳۲۳ ل کال یې تابوت د ترکیې د حکومت په موافقه کابل ته راوړل شو او دکابل پوهنتون په بڼ کې په پتمنو مراسمو کې خاورو ته وسپارل شو.

## اووم څپرکی

## خپلواکي



خپلواکي د لوی خدای ج له لوري یو ستر نعمت دی، په کوم ملت چې الله ج پېرزو کړی وي، په شتون سره یې د یوه ملت او هېواد پرمختګ شونی دی.

که کوم هېواد د آزادۍ له نعمت څخه بې برخې وي، نه شي کولای چې د هېواد د پرمختګ او نورو سره د سیالۍ لپاره اقتصادي پلانونه جوړ او په کار واچوي، چې له مخې یې هېواد او هېوادوالو په اقتصاد کې مثبت بدلون راشي.

کوم ملت چې خپلواک نه وي تل د محکوم ژوند په لرلو سره د پرمختګ لپاره فکر نه کوي، لکه په شاهي نظامونو کې عام وګړي د سیاست څخه لرې وي او وایي: مونږ د دولت په چارو کې کار نه لرو، ځکه د دولت چارې میراثي وي او په یوې ځانګړې کورنۍ پورې اړه لري، ملي شتمنۍ او ملي ارزښتونه خپل نه ګڼي د ساتلو او پرمختګ لپاره یې هڅې نه کوي. په دې اړه د حضرت محمد ص په وخت کې په دې موخه چې عام خلک د وطن د پرمختګ لپاره کار وکړي، نو یوه اعلامیه یې

صادره کړه، چې تاسې دښتې کرنيزې ځمکې وګرځوئ، که چا دښته په کرنيزه ځمکه بدله کړه؛ نو د هغه شخصي ملکيت دی.

نو همدا و، چې وګړو بې له ځنډه کار وکړ او د هېواد ترقي په دې ډول آزادۍ ورکولو کې نغښتې ده، نه دا چې بيخي د بې کورۍ او بې وطنۍ احساس وکړي. ځکه وايي، چې هېڅکله بل څوک پرته له مزده چاته د هغه کور نه جوړوي، تر څو يا مزد ورنه کړي او يا يې په خپله جوړ نه کړي.

**په هېواد کې د خپلواکۍ ارزښت**

خپلواکي هغه حالت ته وايي، چې په کوم کې يو ولس، هېواد يا دولت په خپله خاوره کې بشپړ واک او اختيار ولري. خپلواکي د انسان طبعي حق دی، دا حق د نورو له آزادۍ او د عامه مصالحو پرته، چې د قانون له لياره تنظيمېږي، نه لري. د انسان آزادي او کرامت د تيري څخه خوندي دی.

خپلواکي په اسلام کې ښکاره او واضح دلايل لري او خدای ج دنيا ته د انسانانو د آزادۍ لپاره استازي(پيغمبران) را لېږلي دي او دوی ته يې د ظلم او غلامۍ څخه د خلاصون دعوت کړی، چې د بنده ګانو د عبادت څخه يې د يو الله ج عبادت او بنده ګۍ ته رابللي او تل يې په دې برخه کې مبارزه کړې. لکه څنګه چې د موسی ع د  رالېږلو څخه د الله ج هدف داو، چې بني اسرائيل د فرعون له ظلم څخه آزاد شي او په خپلواکۍ کې ژوند وکړي.

همدارنګه اسلام مسلمانانو ته د آزادۍ او خپلواکۍ درس ورکوي او تل يې مونږ ته له ظلم او تيري څخه د خلاصون لپاره د مبارزې امر کړی او په همدې توګه د ټولو پيغمبرانو راتګ نړۍ ته د خدای ج له اوامرو څخه د وګړيو خبرول او د غلامۍ د ژوند څخه يې د خپلواکۍ لاره ورښودلې، چې په همدې توګه که موږ څومره اسلامي واکمنۍ مطالعه

کړو، نو تل به يې د وګړو په منځ کې د ميانه روئ يا مساوات څرګندول دي.

د اسلام پيغمبر او د هغه ملګرو دولت به بشپړه توګه ولسواک دولت او يواځې د ولس په خوښه يې شتون موندلی و او د دولت چارې د اسلام ستر پيغمبر حضرت محمد ص لخوا د الله د احکامو مطابق تنظيمېدلې.

همدا لامل دی، چې اسلام د اسلامي واکمن لپاره داسې اصطلاح کارولې ده، چې د نړۍ په يوه برخه کې يې ساري نه لېدل کيږي. اسلام د پاچا له واکمنۍ څخه انکار کوي او د مشرۍ لپاره يې د خليفه کلمه ټاکلې، چې څوک ترې په رئيس جمهور (President of Republic) سره تعبير کوي، چې په لغت کې د نيابت، استازيتوب په مانا سره راځي، ګواکې دا واکمني يوازې بيابت او استازيتوب دی او د قرآن، حديث او شرعي احکامو له تطبيق نه پرته هېڅ واک نه لري.

په همدې توګه په قرآن کريم کې الله ج د شورای په نوم بشپړ سورت رالېږلی دی، چې نوم يې(سوره شورای) دی، چې موخه يې د مسلمانانو په خپل منځ کې مشوره کول دي او مسلمانانو ته يې په کارونو کې د مشورې کولو امر کړی دی، چې له کارونو موخه د ژوند چارې دي. که هغه دولتي وي يا شخصي او آزادې چارې.

همدا وو، چې د خلفای راشدينو په وخت کې به ټولې دولتي کړنې د مشورې له مخې سرته رسېدې. کله به چې د يوه خليفه د رحلت وروسته بل خليفه ټاکل کېده، نو د رأي ګيرۍ په آساس به ټاکل کېده.

ګرده نړۍ د ولسواکۍ په فکر کې ده او هر څوک له شخصي واکمنۍ او زور څخه کرکه کوي او دا هم ټولو منلې خبره ده، چې په قانوني او سياسي خپلواکۍ کې ټول انسانان سره برابر دي، ولس د خپلو ملکي ګټو څخه د ګټې اخيستنې حق لري او د دوی حق په دې اړه له نور هر چا مخکې دی او د نړۍ ټول ولسونه دا حقيقت مني، چې تر لاسه کولو

لپاره هره لاره خپلوي، خو مسلمانان چې د نړۍ پېنځمه برخه ده، تر دې مهاله ددې حقیقت نه بې پروا دي او که څوک په دې اړه یو څه فکر لري نو په دې اندیښنه کې دي، چې په دې لاره کې د زیاتو خنډونو په شتون کې به څنګه دې حقیقت ته ورسیږي؟

سره له دې چې ددې حقیقت غوښتنه او ورکړه تر ټولو د مخه د مسلمانانو له پاره ښايي، ځکه پیغمبر ص یوازې د همدې موخې د تر لاسه کولو لپاره دې نړۍ ته رالیږل شوی و، چې انسان د انسان له مریي توبه خلاص کړي.

**د ملي کلتور او عنعناتو ساتل د هر افغان مسؤولیت دی**

په هره ټولنه کې اوسېدونکي وګړي او نیږدې ګاونډیان د کلي، کور او حتی د سیمې له رسم و رواج او کلتور سره سم ځان عیاروي، که څه هم له پخوا یې په دغه محله یا سیمه کې ژوند نه وي کړی.

پښتو متل دی: (چې اوسې په خوی به د هغوسې). خو ددې هر څه تر څنګ، چې د بل له عنعنو سره ځان بلد کړای شي؛ باید خپل کلتور، مذهب او دیني مقدسات هم له پامه ونه غورځول شي.

د اوسنیو لسو کلونو را په دې خوا، افغانانو د دیموکراسۍ څخه د نورو په پلمو بده استفاده کړې او وایي چې دیموکراسي دې ته وايي، چې د چا خوښه وي، کوي دي يې، بلکې د نورو غیر مذهبي وګړو په پلمو د افغانانو اسلامي او افغاني کلتور په ځای غیر افغاني کلتور خپروي، چې اوس مونږ ګورو چې زیات پلویان لري او د افغان دروند او باغیوره کلتور په ځای پردي او بې پتې کلتور يې خپل کړی.

د افغاني کلتور ساتل او ورته درناوی یوازې د یوه افغان او یا یوه لیکوال دنده او مؤولیت نه دی، بلکې هر د هر افغان مسؤولیت دی. مونږ باید هغه وخت چې کله په تلویزیونونو کې خپرونې چلوو او یا که کوم افغان په یوه ډرامه کې کار کوي، باید خپل ارزښتونه هېر نه کړي

او ددې ډرامې او خپرونې د مفاهیمې د وړاندې کولو سره سره خپل کلتور او فرهنګ هم منعکس کړي، تر څو هغه افغانان وروڼه او خویندې چې د نورو کلتور خپلوي د خپل باارزښته کلتور څخه خبر شي.

په همدې توګه باید د نورو سیاسي یا اجتماعي لیکنو په خوا کې د خپل کلتور د ارزښت او غوراوي په اړه لیکنې وکړو او د انټرنېټ، مجلو، اخبارونو له لارې خپرې کړو، چې زمونږ افغانان يې په لرلو فخر وکړي او ساتنه یې پر ځان لازمي وګڼي

## مأخذونه

1. احدي، پروفیسور ډاکتر انور الحق، مرتب او ترجمه کبیر(رحماني)، ملي مسئلې، ۱۳۹۰ل، شماره ۳ ص ۳۲ ـ ۴۴ او ۶۱ ـ ۶۲.
2. ارینزی، احسان الله، دنړۍ هنداره، آسیا(طبعی، سیاسی، بشری، اقطصادی اوتاریخی جغرافیه ) کال ۱۳۹۰ ل ل ص ۱۲۸ ـ۱۳۰ .
3. ازاد، ابوالکلام، ژباړن(هلال احمد)، په اسلام کی د خپلواکۍ انخور ، ص ۲۹ ـ۳۰ .
4. امین زی،همت الله، حب الوطن، تخنیکی او مسلکی زده کړو معینیت اداره ،۱۳۹۳ ل م۳۸، ۴۰، ۴۴، ۵۱
5. بخاری ص (۳۱۳) جلد(۱)
6. حکمت، ښوونیارعبدالبصیر، صلحی زدکړې، کال ۱۳۹۲ ل ل ،ص۱۰ ـ۳۰
7. خپلواکۍ مجله، دوره دویمه، لمړی کال، څلورمه کنه ۱۳۸۴ ل ل
8. ختک اجمل ، دغیرت چیغه ، دانش خپرندویه ټولنه پیښور
9. ډاډمن، حب الوطن لکچر نوټ، کال،۱۳۹۱ ل ل، ننگرهار دکرنې او وترنرۍ انسټیټوټ
10. رفیع، حبیب الله، ملی زاویه،کال ۱۳۹۲ ل ل، ص ۱۰ـ۳۰
11. سادات، سارا، ملی ټرمینالوژی، کال ۱۳۸۸ ل ل، ص ۱۲ـ۴۰ .
12. سعید، قریب الر حمن، په هیواد کی دسولی دپایښت په اړه زمونږ اند، کال ۲۰۱۰ ز ص ۱۶۴ـ۱۶۷.
13. شینواری، ډاکټرمحمد ابراهیم، سبابه ناوخته کیږی، کال ۱۳۸۹ ل ل ۷۵ـ۸۰
14. قرانکریم، البقره، ۲۰۸ـ۲۱۳ ایات،النساء ۱۱۴ ایت، سورت الانفال ۱ نمبر ایت، الشوری ۳۸ نمبرایت، لقمان ۲۰ ایت، الحجرات ۱۰ ـ۱۳ نمر ایت،

15. کوهستانی، پوهنمل نثاراحمد،دایکولوژی اساسات اوچاپیریال ساتنه، کابل پوهنتون، کرنی پوهنځی کال ۳۱۸۸ ل ل ص۱۰۵ـ۱۰۶.
16. مظلوم، نثار،میلی هیلی او اړتیاووی،کال ۱۳۸۵ ل، ص۲۶ـ۴.
17. ملی اصلاح مجله ص ۹۷
18. مندوزی،پوهان عارف الله، دژوندچاپیریال،ننگرهارپوهنتون، کال ۱۳۹۰ ل ل ص ۳۸ـ۴۰.
19. میاخیل، شامحمود، عبدالقیوم مشوانی، دوطن معماران، کال ۱۳۹۴ ل م ۳۴، ۱۱۶
20. وحدت، وحیدالله، کرنیزترویج ،تخنیکی او مسلکی زده کړو معینیت،کال ۱۳۹۱ ل ل، م ۴
21. یقین یوسفزی،عبدالحمید، دقهرمان وصیت (یوسف میړنی مقالی) کال ۱۳۹۲ ل ، مخ ۱۶۴

**پای**